# په اسلام کې نړیوال بشرپال قانون

COMITE INTERNATIONAL GENEVE

ICRC

# په اسلام کې نړیوال بشرپال قـانـون


لیکوال: **استاذ دوکتور زید بن عبدالکریم الزید**

په ریاض کې د امام محمد بن سعود په اسلامي پوهنتون کې د مقارنې فقهې استاذ او د قضاء د عالي انستیټیوټ رئیس

ژباړن: **سیف الله «ساعي»**

د افغان پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي پخوانی رئیس او استاذ

## د کتاب ځانګړنې

| | |
|---|---|
| **د کتاب نوم** | په اسلام کې نړیوال بشرپال قانون |
| **لیکوال** | استاذ دوکتور زید بن عبدالکریم الزید |
| **ژباړن** | سیف الله "ساعي" |
| **بیا کتنه** | د افغان لوړو زده کړو مؤسسې څېړنیز مرکز |
| **خپرندوی** | د سره صلیب نړیواله کمېټه |
| **چاپشمېر** | ۱۰۰۰ زر ټوکه |
| **چاپلړ** | لومړی، ۱۴۰۰ لمریز کال |

د کتاب د ژباړې او خپراوي حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي!

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ


**د پیل خبرې** VII

**پیلیزه** ۱۰

**لومړی: جګړه په اسلام کې** ۱٤

**دویم: د اسلامي نړیوال عام قانون مفهوم** ۱۷

**درېیم: په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون اصطلاح** ۲۷

لومړی مبحث: په اسلام کې د نړیوال بشر پال قانون د پلي کېدو ډګرونه ۳۳

لومړی: د ټپیانو او مصیبت ځپلو د حقوقو ساتنه ۳۵

دویم: د بندیانو حقوق ۳۷

درېیم: د ورکو شویو او وژل شویو حقوق ٤۷

څلورم: د ملکي وګړو حقوق ۵۰

**دویم مبحث : په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون تطبیقات** ۵۷

د بدر په غزا کې انساني موقفونه ٦۱

لومړی: هغه بشري اړخونه چې له خپل لښکر سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په چلن پورې تړاو لري: ٦۱

دویم: هغه بشري اړخونه چې له بندیانو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په چلن پورې تړاو لري: ٦۳

**د پای خبرې** ۷۳

**اخځلیکونه** ۷۸

# د پیل خبرې

د ویاړ او درناوي ځای دی چې د هغه کار د سریزې لیکلو سپارښتنه راته کیږي چې د عربي ټاپووزمې لپاره د نړیوال سره صلیب سیمه ییزه کمېټه یې د خپراوي ویاړ لري او په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون لپاره سریزه ګڼل کیږي.

له شک پرته نړیوال بشرپال قانون خپل اوږد یون په ۱۸۶۴ زېږدیز کال کې د جینوا له لومړني تړون سره سم پیل کړ، دا تړون د جنګ په ډګر کې د وسله والو ځواکونو او هغو افرادو د حالت د ښه والي په موخه ترسره شوی دی چې د جنګ په ډګر کې ټپیان شوي وي، د دې سفر په لړ کې چې څه له پاسه یو سل دېرش کاله کیږي، یو شمېر هغه تړونونه رامنځته شول چې د وسله والو نښتو د قربانیانو د خوندیتوب، د جګړې د څرنګوالي او په کې د کارېدونکو وسلو د کچې لپاره یې اصول رامنځته کړل.تر دې چې په ۱۹۹۸ زېږدیز کال کې د روم له تړون سره سم نړیواله دایمي جنایي محکمه رامنځته شوه.

د دغو ټولو تړونونو موخه د خلکو او آبداتو پر وړاندې د جنګ اغېز کمول دي. که څه هم دا تړونونه له هغو ټولو تړونونو سره چې د بشر د حقوقو نړیوال قانون تشکیلوي، په موخه کې شریک دي چې هغه د انساني کرامت ساتنه ده خو د نړیوال بشرپال قانون تشکیلوونکي تړونونه یوازې په نړیوالو او غیر نړیوالو وسلوالو نښتو کې پلی کیږي.

او هغه ستر ارزښتونه چې د نړیوال بشرپال قانون په هوکړو کې راغلي، وار د مخه پر بشریت د لورونې په توګه ټولو اسماني دینونو او شریعتونو په دې موخه راوړي دي چې د انسان درناوی وکړي، نفسونه پاک کړي او ټولو ته عادلانه سوله تامین کړي.

او دا کتاب چې د پیل خبرو د لیکولو ویاړ یې لرم، د اسلامي شریعت په احکامو کې د دغو انساني اصولو پیاوړتیا منعکسوي.

او د امام محمد بن سعود په اسلامي پوهنتون کې د مقارنې فقهې استاذ او د قضاء د عالي انسټیټیوټ رئیس استاذ دکتور زید بن عبد الکریم الزید، دا چاره په وړیا توګه پر غاړه اخیستې ده او د دې بحث په ترخ کې یې په اسلام کې نړیوال بشرپال

قانـون څېړلی دی؛ نـو لـه زیـار څخـه یـې زیاتـه منـنـه کـوو چې په پایله کې یـې دا کتـاب را څرګـنـد شـو او د دې موضـوع پـه څېړنـه کې بـه غـوره لارښـود شـي.

د نولسـمې پېړۍ د دویمې نیمایـي پـه لومړیـو کې د سـره صلیـب د نړیوالې کمېټـې لـه رامنځتـه کېـدو راهیسـې د کمېټـې عـادت تـه پـه کتـو چـې دولتونـه یـې د نړیـوال بشـرپال قانـون ودې، پرمختـګ او مـوادو خپرولـو تـه هڅـول، نـو کمېټـه د بنـاغلي لیکـوال لـه لـوري د دې تالیـف د لیکلـو هڅـې تـه ډېـره خوښـه شـوه او خپرولـو تـه یـې بیـړه وکـړه، پـه دې تمـه چـې دا چـاره بـه د نړیـوال بشـرپال قانـون د احکامـو پـه خپـراوي کې د دې نړیوالې کمېټـې د پیغـام پـه ملاتـړ کې ونـډه ولـري.

او د سـره صلیـب نړیوالـه کمیټـه، چـې زه یـې عربـي ټاپووزمـې تـه د سـیمه ایـز پلاوي د اسـتازیتوب ویـاړ لـرم، یـوه ناپېیلـې، بـې پـرې او خپلواکـه ټولنـه ده، چـې پـه ۱۹۴۹ کال کـې د ژنیـوا پـه څلـورو تړونونـو او پـه ۱۹۷۷ کال کـې پـه دوو اضافـي پروټوکولونـو کـې شـریکو هېوادونـو، چـې شـمېر یـې (۱۹۱) و، پـه وسـله والـو شـخړو کـې د قربانیانـو د مرسـتې او سـاتنې دنـده ور پـه ګوتـه کـړه.

لـه لومـړي پیـل څخـه د سـره صلیـب د نړیوالـې کمیټـې بنسـټ ایښـودونکو د داسـې یـوې نړیوالـې نښـې اړتیـا احسـاس کـړه چـې پېژندنـه یـې ټولـو تـه اسـانه وي.

د هغـوی پـه انـد لـه دې نښـې څخـه موخـه یـوازې د جګـړې پـه ډګـر کې لـه ټپیانـو سـره مرسـته کـول نـه، بلکې د ټپیانـو د لېږدوونکـو، او د ټولـو هغـو ډلـو خوندیتـوب دی چـې طبـي خدمـات وړانـدې کـوي کـه څـه هـم د دښـمن اړونـد وي.

پـه داسـې ډول چـې یـوازې د دغـې نښـې پـه لیـدو سـره د جنګیالیـو غبرګـون د جګـړې درول او نښـې تـه درنـاوی وي.

هماغـه و چـې د ۱۸۶۳زېږدیـزکال نړیـوال کنفرانـس چـې د سـره صلیـب نړیوالـه کمېټـه یـې هـم جـوړه کـړه او پـه سـپینه ځمکـه سـور صلیـب یـې (چـې د سـویس هېـواد د بیـرغ سـرچپه بڼـه ده) د یـادې ټولنـې شـعار وګرځـاوه څـو لـه ټپـي شـویو سـرتیرو سـره د مرسـتندویه ډلـو ځانګـړې نښـه وګڼـل شـي.

او یـوازې یـوکال وروسـته یـو ډیپلوماټیـک کانفرانـس د سـره صلیـب نښـه پـه ځواکونـو کې د طبـي خدمتونـو د ځانګـړې نښـې پـه توګـه ومنلـه او د جینـوا د ۱۸۶۴ زیږدیـز کال د تـړون لـه مخې پـه نړیـوال بشـرپال قانـون کې هـم تاییـد شـوه.

خو په ۱۸۷۶ زېږدیز کال کې د عثماني ټولواکۍ له خوا د سره صلیب پر ځای د سرې میاشتې نښه وکارول شوه چې دا بیا د عثماني ټولواکۍ د بیرغ سرچپه بڼه وه او په ۱۹۲۹زېږدیزکال کې د سرې میاشتې نښه هم په رسمیت وپېژندل شوه.

له دې څخه ښکاري چې د سرې میاشتې او سره صلیب نښې چې زموږ په اوسنۍ زمانه کې د بشري مرستو نښې دي، له دین سره هیڅ ډول اړیکه نه لري.

په پای کې یو ځل بیا له درانه استاد ډاکټر زید بن عبدالکریم الزید څخه مننه کوم چې د دې کتاب په خپراوي کې یې د سره صلیب له نړیوالې کمېټې سره د خپل زیار او هڅو مرسته وکړه.

**د ۱۴۲۵هـ ق، د ذوالقعدې ۸ مه،** د ۲۰۰۴ زېږدیز د ډېسمبر ۲۰ مه.

**میشیل مییر،** په کویت کې د نړیوال سره صلیب ټولنې سیمه ییز استازی

# پیلیزه

د وسله والې جګړې پر مهال د بشر د حقوقو مسله په هغو اوسنیو مسایلو کې چې د پوهانو او د فکر څښتنانو ذهنونه یې بوخت کړي، تر ټولو مهمه مسله ګڼل کیږي ځکه د دغې مسلې اړوند بشریت له زیات شمېر تېریو، ظلمونو او جګړو سره مخ کیږي.

په دغه زمانه کې چې د تمدن او پرمختګ زمانه ده، دغه مسله له اهمو مسایلو څخه ګرځېدلې ده، کوم څه چې د جاپان په هیروشیما او ناګاساکي ښارونو، د لبنان په صبر او شاتیلا ښارونو، د عراق په حلبجه ښار، بوسنیا، هرزګوینا، کوسووا، کشمیر، چیچینیا او د فلسطین په جنین نښار کې پېښ شول، بیا د عراق مصیبت او همدارنګه څه چې د فلسطین په رفح ښار او نورو ډېرو ځایونو کې رامنځته شول، دا ټول انسان حیرانوي او دا پوښتنه را منځته کوي چې د بشر حقوق چېرې دي؟

جګړه هغه څه دي چې له انسان څخه خپل انسانیت، اصول او اخلاق هېروي، جنګونه د تاریخ په ګواهۍ سره تر ټولو زیات پر انساني ارزښتونو اغېز کوي، ځکه په هغو کې وینه تویول وي د افرادو او ټولنو د ټولو حقوقو سپکاوی وي، د دغې نړۍ درونند انساني موجود یو بې ارزښته شی ګرځوي، دغه ټول په دې خبره ټینګار کوي او د رایې، فکر او اغېز څښتنان دېته اړ باسي چې خپلې ټولې هڅې د دغې پدیدې د مخنیوي او د هغې د احکامو د بیان لپاره داسې وکاروي چې دغو تلپاتې انساني ارزښتونو ته پاملرنه وکړي.

دغه بحث -که څه هم مختصر دی- د اسلام له نظره د وسله والې جګړې پر مهال د بشر د حقوقو تعریف یا په اسلام کې نړیوال بشرپال قانون بیانوي، په دې کې پر شرعي نصوصو اعتماد کیږي، زموږ د علماوو له لیکنو څخه سرچینه اخلي او له زیات شمېر معاصرو څېړنو څخه ګټه په کې اخیستل کیږي او بنسټ یې پرې ایښودل کیږي او دا هیله کیږي چې د وروسته راتلونکو څېړونکو لپاره د دې میدان د مانۍ یوه ښه خښته وګرځي..

په دې ډګر کې د پام وړ ټکی دا دی چې نړیوال بشرپال قانون یوه نوې اصطلاح ده که څه هم موضوع او د کار ساحه یې له پخوا پېژندل شوي دي.

نـو پـه اسـلامي څېړنـو کې نړيـوال بشـرپال قانـون تـه فقهـاء د سـير او مغـازي (سـيرت او غزاګانـو) نـوم کاروي او پـه دغـه نـوم د نومولـو لامـل يـې سرخسـي پـه خپـل کتـاب مبسـوط کې داسې بيـان کـړی دی: «سـير» د «سـيرة» جمـع ده او دا کتـاب ځکـه پـر دې نـوم نومـول شـوی، چې پـه دې کتـاب کې لـه حربـي مشـرکانو، امـن ورکـړل شـويو کافرانـو او ذميانـو سـره پـه چلـن کـې د مسـلمانانو تـګلاره بيانېـږي، آن تـر دې چې سرخسـي ويلي دي: او مغـازي ځکـه ورتـه وايـي چې قواعـد يـې د رسـول الله صلی الله عليـه وسـلم لـه غزاګانـو څخـه سـرچينه اخلـي[1]. د «السـير»په نـوم امـام محمـد بـن حسـن شـيباني يـو کتـاب ليکلی چې سرخسـي پـه پنځـو ټوکونـو کې شـرحه کـړی دی او موضـوع يـې پـه اوسـني وخـت کې د «پـه اسـلام کې نړيـوال بشـرپال قانـون» پـه نامـه پېژنـدل کيـږي.

او د قانونپوهانـو پـه ليکنـو کې د «جګـړې قانـون» يـا «د وسـله والـو شـخړو قانـون» پـه نامـه پېژنـدل کيـږي.

خـو ډېـر ژر دغـه اصطـلاح خپـره شـوه، پـه نويـو ليکنـو او کتابونـو کې وپېژنـدل شـوه او نړيوالـو ملي او محلي کانفرانسـونو پـه خپلـو عبارتونـو، ليکنـو او خپرونـو کې وکارولـه، تـر دې چې مشـهوره او وپېژنـدل شـوه. سـره لـه دې چې دا څېړنـه پـه يـاده موضـوع کې يـوازې مقدماتي خبـرې دي، خـو څېړونکـی بـه تحليلي تـګلاره غـوره کـړي څـو د موضـوع اړونـد عـام تصـور يـا داسې عامـو اصولـو تـه د رسـېدو کوښـښ وشـي، چې د نـورو مسـئلو لپـاره بنسـټ جوړېدی شي، يـا لـږ تـر لـږه پـه راتلونکې هراړخيـزه او اوږده څېړنـه کې تـرې لارښـوونه ترلاسـه شي.

بحـث دوه اړخونـه لـري يـو يـې زمانـي اړخ دی او بـل يـې موضوعـي، زمانـي اړخ يـې پـه دې معنـا دی ـ لکـه څنګـه چې دا خبـره تېـره شـوه ـ چې يـوازې هغـه قوانيـن څېـړي چې د وسـله والې جګـړې پـر مهـال د پلي کېـدو وړ وي او موضوعـي اړخ يـې بيـا دا معنـا لـري چې د دغـه بحـث موضـوع هغـه قوانيـن دي چې د هغـو افـرادو، ځايونـو او شـتمنيو د سـاتنې پـه موخـه رامنځتـه شـوي چې لـه هغـه څـه سـره هيـڅ اړيکـه نـه لـري چې د جګـړې پـه ډګـر کې روان دي.

دغه مقدمه پر لاندې شيانو مشتمله ده:

[1] وګوره: محمد بن ابي سهل السرخسي، المبسوط د. ط (بيروت: دارالمعرفة ۱۴۰۶)

تمهید چې لاندې برخې لري:

- جنګ په اسلام کې.
- په اسلام کې د نړیوال عام قانون مفهوم.
- په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون اصطلاح.

**لومړی مبحث:** په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون ډګرونه.

**دویم مبحث:** په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون تطبیقات (د بدر غزا د بېلګې په توګه).

**خاتمه**

او په پای کې هېره دې نه وي چې له ډاکټر متعب بن صالح العشیوي څخه مننه وکړم چې په بهرنیو چارو وزارت کې د ډیپلوماتیکو څېړنو په انسټیټیوټ کې د نړیوال قانون پوهیالی استاذ دی، لکه څنګه چې له ښاغلي استاد شریف عتلم څخه مننه کوم چې د منځني ختیځ او سویلي افریقا لپاره د سره صلیب د نړیوالې کمېټې د مشورتي خدمتونو د څانګې سیمه ییز تنظیموونکی دی، دوی دواړو دا کتاب ولوست او یو شمېر مهمې سپارښتنې یې وړاندې کړې، چې د لیکوال له خوا د مننې او ستاینې وړ وې.

له الله جل جلاله څخه مرسته، توفیق او استقامت غواړم، وصلی الله علی نبینا محمد صلی الله علیه وسلم.

۱۲/ ۶/ ۱۴۲۵

**استاد ډاکټر زید بن عبدالکریم الزید**
په ریاض کې د امام محمد بن سعود په اسلامي پوهنتون کې د مقارنې فقهې استاذ او د قضاء د عالي انسټیټیوټ رئیس

# تمهید چې لاندې برخې لري

**لومړی:** جنګ په اسلام کې.

**دویم:** په اسلام کې د نړیوال عام قانون مفهوم.

**درېیم:** په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون اصطلاح.

# لومړی: جګړه په اسلام کې

په اصل کې د اسلامي امت اړیکه له نورو ملتونو سره سوله ییزه ده لکه الله جل جلاله چې وایي: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً ﴾[٢].

**ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، بشپړه په اسلام کې داخل شئ.

خو ځینې خلک داسې دي چې روزنه ګټه نه ورته رسوي او قانون یې مخه نه شي نیولی، او داسې ملتونه هم شته چې خپل ځواک او د ګاونډیانو کمزوري یې تېري او بشکېلاک ته هڅوي؛ نو په داسې حالت کې د تېري کوونکي د مخنیوي، د سولې، ازادۍ او عدالت د ټینګښت په موخه ښکېلتیا (?) په دې کې وه چې د ځواک کارول روا وګرځول شي، په اسلام کې د جګړې رواوالی تر همدې بریده دی، نو په اسلام کې د جګړې موخه د بشر د حقوقو خوندیتوب دی، لکه الله جل جلاله چې وایي: ﴿ وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ﴾[٣].

**ژباړه:** له هغوی (مشرکانو) سره وجنګېږئ تر څو فتنه پاتې نه شي او دین یوازې الله لره شي.

نو کله چې دښمن له ظلم، تېري او خلکو ته په دین کې له ستونزو جوړولو څخه لاس په سر شي؛ بیا ورسره جګړه روا نه ده[٤] لکه څنګه چې الله جل جلاله ویلي دي: ﴿ فَإِنِ انْتَهَوْا فَلَا عُدْوَانَ إِلَّا عَلَى الظَّالِمِينَ ﴾[٥].

**ژباړه:** که چېرې هغوی له تېري څخه لاس په سر شول؛ نو بیا تېری روا نه دی مګر یوازې پر ظالمانو.

او په همدې اساس په اسلام کې جګړه یوازې د هغه تیري د مخنیوي لپاره پېښېږي، چې د دښمن له خوا پیل شوی وي، یا له هغه ثابت حق څخه د دفاع په موخه وي چې د دښمن له خوا مات شوی تړون یې غوښتنه کوي، یا د دیني ازادۍ د لارې خوندیتوب لپاره وي، چې که څوک غواړي له خنډ او مانع پرته په ازاده توګه په کې داخل شي، نو کله چې کوم عام شرعي نص له ټولو کافرانو سره

٢ د بقرې سورت، آیت شمېره (٢٩).
٣ د انفال سورت، آیت شمېره (٣٩).
٤ وګوره: مصطفى السباعي، نظام السلم والحرب في الاسلام، دویم چاپ ( ریاض: مکتبة الوراق ١٤١٩) ص٣٦.
٥ د بقرې سورت، آیت شمېره (١٩٣).

د جګړې په اړه راغلی وي، هغه به د آیت د مخکې یا وروسته برخې له امله مقید وي؛ نو په دې اړه د ټولو آیتونو کتل تا ته مقصود ښکاره کوي او دا په ډاګه کوي چې له دغه حکم څخه موخه یوازې د هغو صفتونو لرونکي خلک دي چې د دغو یادو شویو آیتونو په ټولګه کې راغلي دي.[٦]

بیا له دې سره د وسیلې درناوی خوندي پاتې کیږي او ارزښتونو او اخلاقو ته پاملرنه کیږي، لکه څرنګه چې په هغه حدیث کې دي، چې سلیمان بن بریده رضي الله عنه یې له خپل پلار څخه روایت کوي:

**صحیح مسلم (٣/ ١٣٥٧)**

كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَّرَ أَمِيرًا عَلَى جَيْشٍ، أَوْ سَرِيَّةٍ، أَوْصَاهُ فِي خَاصَّتِهِ بِتَقْوَى اللهِ، وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ خَيْرًا، ثُمَّ قَالَ: «اغْزُوا بِاسْمِ اللهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، قَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللهِ، اغْزُوا وَلَا تَغُلُّوا، وَلَا تَغْدِرُوا، وَلَا تَمْثُلُوا، وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيدًا، وَإِذَا لَقِيتَ عَدُوَّكَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ، فَادْعُهُمْ إِلَى ثَلَاثِ خِصَالٍ - أَوْ خِلَالٍ - فَأَيَّتُهُنَّ مَا أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ، وَكُفَّ عَنْهُمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ، فَإِنْ أَجَابُوكَ، فَاقْبَلْ مِنْهُمْ، وَكُفَّ عَنْهُمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى التَّحَوُّلِ مِنْ دَارِهِمْ إِلَى دَارِ الْمُهَاجِرِينَ، وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ إِنْ فَعَلُوا ذَلِكَ فَلَهُمْ مَا لِلْمُهَاجِرِينَ، وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَى الْمُهَاجِرِينَ، فَإِنْ أَبَوْا أَنْ يَتَحَوَّلُوا مِنْهَا، فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّهُمْ يَكُونُونَ كَأَعْرَابِ الْمُسْلِمِينَ، يَجْرِي عَلَيْهِمْ حُكْمُ اللهِ الَّذِي يَجْرِي عَلَى الْمُؤْمِنِينَ، وَلَا يَكُونُ لَهُمْ فِي الْغَنِيمَةِ وَالْفَيْءِ شَيْءٌ إِلَّا أَنْ يُجَاهِدُوا مَعَ الْمُسْلِمِينَ، فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَسَلْهُمُ الْجِزْيَةَ، فَإِنْ هُمْ أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ، وَكُفَّ عَنْهُمْ، فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَقَاتِلْهُمْ، وَإِذَا حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ فَأَرَادُوكَ أَنْ تَجْعَلَ لَهُمْ ذِمَّةَ اللهِ، وَذِمَّةَ نَبِيِّهِ، فَلَا تَجْعَلْ لَهُمْ ذِمَّةَ اللهِ، وَلَا ذِمَّةَ نَبِيِّهِ، وَلَكِنِ اجْعَلْ لَهُمْ ذِمَّتَكَ وَذِمَّةَ أَصْحَابِكَ، فَإِنَّكُمْ أَنْ تُخْفِرُوا ذِمَمَكُمْ وَذِمَمَ أَصْحَابِكُمْ أَهْوَنُ مِنْ أَنْ تُخْفِرُوا ذِمَّةَ اللهِ وَذِمَّةَ رَسُولِهِ، وَإِذَا حَاصَرْتَ أَهْلَ حِصْنٍ فَأَرَادُوكَ أَنْ تُنْزِلَهُمْ عَلَى حُكْمِ اللهِ، فَلَا تُنْزِلْهُمْ عَلَى حُكْمِ اللهِ، وَلَكِنْ أَنْزِلْهُمْ عَلَى حُكْمِكَ، فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي أَتُصِيبُ حُكْمَ اللهِ فِيهِمْ أَمْ لَا»[٧].

**ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله پر یو لښکر یا ډلګۍ څوک د مشر په توګه ټاکه؛ نو په ځانګړي ډول د خپل ځان په اړه به یې له الله څخه د

٦ وګوره: سعید اسماعیل صیني، حقیقة العلاقة بین المسلمین وغیر المسلمین، لومړی چاپ (بیروت: مؤسسة الرسالة ١٤٢٠) ص٤٢ او ورپسې.
٧ الامام مسلم، صحیح مسلم ٣/ ١٣٥٧.

وېرې او لـه ورسـره مسـلمانانو پـه هکلـه بـه یـې د ښـېګڼې سپارښـتنه ورتـه کولـه، بیـا بـه یـې ویـل: د اللـه پـه لار کـې د اللـه پـه نـوم لـه هغـو مشـرکانو سـره وجنګېـږئ چـې اللـه نـه منـي، جهـاد وکـړئ، لـه غنیمـت څخـه غـلا مـه کـوئ، دوکـه مـه کـوئ، مـړي مـه بدشـکله کـوئ او ماشـوم مـه وژنـئ، کلـه چـې لـه خپـل مشـرک دښـمن سـره مخامـخ شـې؛ نـو دریـو شـیانو تـه یـې راوبولـه، هـر یـو یـې چـې درسـره ومانـه، تـرې قبـول یـې کـړه او نـور کار مـه پـرې لـره، اسـلام تـه یـې راوبولـه، کـه یـې درسـره ومانـه، تـرې قبـول یـې کـړه او نـور کار مـه پـرې لـره، بیـا ورتـه ووایـه چـې لـه خپـل هېـواد څخـه د مهاجرینـو هېـواد تـه ولاړ شـي، او خبـر یـې کـړه کـه دا کار وکـړي؛ نـو هغـوی لـره ټـول هغـه حقـوق دي چـې مهاجرینـو لـره دي او هغـه مسـوولیتونه یـې پـر غـاړه دي چـې د مهاجرینـو پـر غـاړه دي، خـو کـه هغـوی د خپـل هېـواد لـه پرېښـودو څخـه ډډه وکـړي؛ بیـا هغـوی د مسـلمانو کوچیانـو پـه څېـر دي او د اللـه هغـه حکمونـه بـه پـرې پلـي کېـږي، چـې پـر مومنانـو پلـي کېـږي، خـو تـر څـو یـې چـې لـه مسـلمانانو سـره یـو ځـای جهـاد نـه وي کـړی، پـه غنیمـت او ولجـه کـې بـه برخـه نـه لـري، او کـه هغـوی لـه اسـلام منلـو ډډه وکـړي؛ نـو بیـا دې جزیـه ورکـړي، کـه یـې دغـه کار وکـړ، بیـا یـې هـم ورسـره ومنـه او نـور کار مـه پـرې لـره، او کـه لـه دغـه کار څخـه یـې هـم ډډه وکـړه؛ نـو بیـا د اللـه پـه مرسـته لـه هغـوی سـره وجنګېـږه او کـه دې د کومـې کلا خلـک کلابنـد کـړل او هغـوی لـه تـا څخـه د اللـه او د هغـه د نبـي پنـاه وغوښـتله؛ نـو د اللـه او د هغـه د نبـي پنـاه مـه ورکـوه، بلکـې خپلـه او د ملګـرو پنـاه دې ورکـړه، ځکـه کـه چېـرې د خپلـې او ملګـرو د پنـاه پـه اړه خیانـت وکـړئ، دا بـه تـر دې آسـانه وي چـې د اللـه او د هغـه د رسـول د پنـاه پـه اړه خیانـت وکـړئ، کـه چېـرې د کومـې کلا خلـک کلابنـد کـړې او هغـوی لـه تـا څخـه وغـواړي چـې د اللـه د پرېکـړې پـر بنسـټ ځـای ورکـړې؛ نـو د اللـه د پرېکـړې پـر بنسـټ ځـای مـه ورکـوه، بلکـې پـه خپلـه پرېکـړه ځـای ورکـړه، ځکـه تاسـو تـه نـه ده معلومـه چـې اللـه بـه د هغـوی پـه اړه څـه پرېکـړه کـوي.

دا پـه اصـل کـې د جګـړې د پیـل پـه اړه د اسـلام لـه نظـره یـو عـام انځـور وړانـدې کـوي، چـې بیـا وروسـته د جګـړې پـه تـرخ کـې لـه دښـمن سـره د ښـو اخلاقـو او ښـه چلـن کولـو مرتبـه هـم بیانـوي او همدغـه د دغـو فقـرو او جملـو موخـه ده.

# دویم: د اسلامي نړیوال عام قانون مفهوم

نړیـوال عـام قانـون د هغـو قواعـدو ټولګـه ده چې د سـولې او جنـګ پـه حالاتـو کې د نړیوالـو حقوقـي اشـخاصو اړیکې لـه یـو بـل سـره تنظیمـوي.

لـه پخـوا څخـه د عامـو نړیوالـو قوانینـو مهمـې سـرچینې نړیـوال تړونونـه، عـرف او د قانـون هغـه عـام اصـول دي چې هېوادونـو پـه خپـل منـځ کې سـره منلـي وي، د بېلګې پـه ډول د ضـرر رسـوونکي د مسـوولیت اصـل، او تړونونـو تـه د درنـاوي اصـل.

دا خـو پـه عامـه توګـه د نړیوالـو قوانینـو سـرچینې دي خـو پـه اسـلام کې مـوږ وینـو چې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم لومړنـی دولـت پـه مدینـه منـوره کې رامنځتـه کـړ او لـه ګاونډیـو دولتونـو سـره یې تړونونـه او تعامـل وکـړ، چې لـه مخې یې د مدینې منـورې او نـورو دولتونـو ترمنـځ اړیکې رامنځتـه شـوې او د دغـو اړیکـو لپـاره د حاکمـو قواعـدو شـتون اړیـن و چې همـدا قواعـد د اسـلام لـه نظـره نړیـوال عـام قانـون تشـکیلوي.

شـونې ده چې اسـلامي نړیـوال عـام قانـون داسې تعریـف شي چې دا پـه اسـلامي شـریعت کې د هغـو قواعـدو او احکامـو ټولګـه ده، چې اسـلامي دولـت لـه نـورو هېوادونـو او نړیوالـو ټولنـو سـره پـه اړیکـو کې ورتـه پابنـد پاتې کېـږي.

هغه مهمې قاعدې چې اسلامي نړیوال عام قانون پرې ولاړ دی، په لاندې ډول دي:

**۱ـ بشري یووالی**

اسـلامي شـریعت ټولـو انسـانانو تـه د یـو امـت پـه سـترګه ګـوري، چې پـه انسـانیت کې سـره ګـډ دي، د قومونـو او ټبرونـو بېلوالـی یـوازې د یـو بـل د پېژندګلـوۍ او لـه یـو بـل سـره د مرسـتې لپـاره دي، البتـه د غـوره والي لپـاره بېـل معیـار لـري، او هغـه د اللـه جـل جلالـه د حکـم منـل دي، اللـه جـل جلالـه وایـي: ﴿ يَاأَيُّهَـا النَّـاسُ إِنَّـا خَلَقْنَاكُـمْ مِـنْ ذَكَـرٍ وَأُنْثَـى وَجَعَلْنَاكُـمْ شُـعُوبًا وَقَبَائِـلَ لِتَعَارَفُـوا إِنَّ أَكْرَمَكُـمْ عِنْـدَ اللَّـهِ أَتْقَاكُـمْ ﴾.[۸]

**ژباړه:** ای خلکـو! تاسـو مـو لـه یـو نارینـه او یـوې ښـځینه څخـه پیـدا کـړي یاسـت، او پـه ملتونـو او قبیلـو مـو وېشـلي یاسـت تـر څـو یـو بـل وپېژنـئ، بې شـکه د اللـه پـه وړانـدې غـوره ستاسـو ځـان سـاتونکی دی.

۸ د حجرات سورت، آیت شمېره (۱۳).

**۲ــ له یو بل سره مرسته کول**

په ښو کارونو کې له یو بل سره مرسته داسې اصل دی چې په اسلام کې ډېر لوړ ځای لري. الله جل جلاله وايي: ﴿ وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ﴾[۹]

ژباړه:په ښو کارونو او ځان ساتنه کې له یو بل سره مرسته وکړئ، په ګناه او دښمنۍ کې مرسته مه سره کوئ.

**۳ــ تسامح (د یو بل بښنه)**

شریعت بلنه ورکوي چې د ټولو په حق کې له ښښنې څخه کار واخلو، الله جل جلاله وايي: ﴿ فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا... ﴾[۱۰].

**ژباړه:** ښښنه وکړئ او تېرېدنه وکړئ.

او الله جل جلاله وايي: ﴿ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ ﴾[۱۱].

**ژباړه:** او هغه کسان چې غوسه خوړونکي دي او خلکو ته ښښنه کوونکي دي.

همدا رنګه الله جل جلاله فرمايي: ﴿ وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ﴾[۱۲].

**ژباړه:** او ښېګڼه او بدي سره برابر نه دي، د بدۍ ځواب په ښېګڼه ورکړه؛ نو هغه څوک چې ستا او د هغه ترمنځ دښمني ده داسې به شي لکه یو نږدې دوست.

**۴ــ د عقیدې ازادي**

اسلامي شریعت د عقیدې د ازادۍ پر بنسټ ولاړ دی او په دین کې یې د ځواک کارول منعه کړي دي. الله جل جلاله وايي: ﴿ لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ ﴾[۱۳].

**ژباړه:** په دین کې زور نه شته.

بلکې اسلامي دولت د هغو نامسلمانو ساتنه کوي چې د اسلامي دولت تر سیوري لاندې ژوند کوي او د هر هغه څه مخه نیسي چې هغوی د خپل دین پرېښودلو ته اړ باسي.

۹ د المائده سورت، آیت شمېره (۲).
۱۰ د البقره سورت، آیت شمېره (۱۰۹).
۱۱ د آل عمران سورت، آیت شمېره (۱۳۴).
۱۲ د فصلت سورت، آیت شمېره (۳۴).
۱۳ د البقره سورت، آیت شبره (۲۵۶).

### ۵ـ عدالت

اسلامي شریعت د سولې او جګړې په حالت کې د عدالت او په انصاف د پرېکړې کولو غږ کوي او خپل پیروان یې اړ کړي، چې له ټولو خلکو سره د عدالت په لټه کې شي لکه چې وايي: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ وَلَوْ عَلَى أَنْفُسِكُمْ ﴾[١٤].

**ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی پر عدالت شاهدان اوسئ، که څه هم د ځانو پر خلاف مو وي.

همدا رنګه الله جل جلاله وايي: ﴿ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى ﴾[١٥].

**ژباړه:** هیڅکله مو د کوم قوم دښمني له دې څخه را و نه ګرځوي چې عدالت و نه کړئ، عدالت وکړئ هغه (عدالت) ځان ساتنې ته ډېر نږدې دی.

### ۶ـ معامله بالمثل (ورته عمل کول)

اسلامي شریعت د ورته عمل کولو اصل په دې شرط منلی، چې دغه ورته کړنه به اخلاقي وي او کله چې هم ورته کړنه د عدالت له غوښتنو څخه بېرون شي یا د ارزښتونو د له منځه تلو لامل شي؛ نو هلته یې په ورته کړنه عمل کول منعه کړي دي، که دښمن پر مسلمانو سوداګرو داسې ظالمانه مالیه ولګوي چې مالونه یې له منځه وړي، یا دښمن د ځینو مسلمانانو بې عزتي وکړي؛ نو په دغه حالت کې د مسلمانانو لپاره ورته کړنه روا نه ده، همدا رنګه د مسلمان لپاره روا نه ده چې پر هغه چا درواغ وتړي، چې پر ده یې درواغ تړلي دي، یا له هغه چا سره خیانت وکړي چې له ده سره یې خیانت کړی دی[١٦].

په دغو حالتونو کې د دولت له خوا د ورته عمل نه کولو لامل فقهاء داسې بیانوی، چې دا کړنې د غیر اسلامي دولت له خوا خیانت دی، نو موږ ته یې پیروي روا نه ده، او بل دا چې دا ظلم دی او په ظلم کې پیروي نه شته او موږ د ناوړو خویونو له خپلولو څخه منعه شوي یو، که څه هم زموږ دښمن خپل کړي وي[١٧].

١٤ د النساء سورت، آیت شمېره (١٣٥)
١٥ د المائده سورت، آیت شمېره (٨)
١٦ وګوره: د السعدي تفسیر ١/ ۴۵۲.
١٧ وګوره: السرخسي، المبسوط ٢/ ٢٠٠، او عمر الاشقر، تاریخ الفقه الاسلامي، درېیم چاپ (کویت: مکتبة الفلاح ١۴١٣) ٢٧ـ ٢٩. او عبدالکریم زیدان، نظرات في الشریعة الاسلامیة مخ ١۴٩ـ ١۵٠.

د دغو عامو قواعدو بنسټ شرعي نصوص لکه قرآن، احادیث او معتبر عرف دي، په شرعي نصوصو کې موږ یو شمېر آیتونه او احادیث وینو چې له نورو هېوادونو سره د اسلامي هېوادونو د اړیکو په اړه بحث کوي د بېلګې په ډول:

ـ الله جل جلاله وایي:﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ﴾[۱۸].

**ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی پر خپلو تړونونو وفا وکړئ.

نو د دا ډول نص پر عموم عمل کېږي، چې د هر ډول تړونونو په اړه د وفا امر کوي او تر ټولو مهم تړونونه هغه دي چې د هېوادونو ترمنځ ترسره کیږي؛ نو دا شرعي نص دی او دلته اسلامي هېواد ته حکم کوي چې پر هغو تړونونو وفا وکړي، چې له نورو هېوادونو سره یې ترسره کړي دي.

ـ بل لوري ته نور داسې نصوص وینو چې له خیانت څخه خلک وېروي، لکه الله جل جلاله وایي: ﴿ إِنَّ اللَّـهَ لَا يُحِـبُّ الْخَائِنِـينَ ﴾[۱۹].

**ژباړه:** بې شکه الله خیانت کوونکي نه خوښوي.

همدارنګه الله جل جلاله وایي: ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا أَثِيمًا ﴾[۲۰]

**ژباړه:** پرته له شکه الله هغه څوک نه خوښوي چې خیانت کوونکی ګناهګاره وي.

نو د خیانت ټول ډولونه د سزا وړ دي، هغه که د افرادو ترمنځ وي او که د هېوادونو، بلکې د دولتونو ترمنځ خیانت لا زیات د سزا وړ دی، ځکه هغه لوی او عام خیانت دی.

همدا رنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ګورو چې فرمایي: ﴿ آيـة المنافـقِ ثـلاثٌ: إذا حـدَّث كـذَب، وإذا وعـدَ أَخلـفَ، وإذا اؤْتمِـنَ خـانَ ﴾[۲۱].

**ژباړه:** د منافق درې نښې دي: کله چې خبرې کوي، درواغ وایي، چې ژمنه کوي، نه یې پر ځای کوي او چې امانت ورته وسپارل شي، خیانت په کې کوي.

نو مسلمان په خپلو خبرو کې درواغ نه وایي، د خپلې ژمنې خلاف کار نه کوي

۱۸ د المائده سورت، آیت شمېره(۱).
۱۹ د الانفال سورت، آیت شمېره (۵۸).
۲۰ د النساء سورت، آیت شمېره(۱۰۷).
۲۱ امام مسلم په خپل صحیح کې روایت کړی دی، ۱/ ۷۸.

او څوک چې امانت ورته وسپاري، خیانت نه په کې کوي، هغه که هر څوک وي، دښمن یې وي او که دوست، دولت وي او که فرد.

دې ته ورته نصوص ډېر دي چې په عمومي ډول د افرادو خپلمنځي او له نورو دولتونو سره د اسلامي دولت اړیکو ته شامل دي.

او د دې نصوصو دغه معنا او مفهوم د رسول الله صلی الله علیه وسلم له عملي تطبیق او هغو تړونونو څخه نور هم ښه څرګندیږي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه منوره کې له یهودیانو سره، یا یې په مکه مکرمه کې د قریشو له کافرانو سره او یا هم د نجران له نصاراوو سره ترسره کړي دي یا رسول الله صلی الله علیه وسلم د استول شویو جنګي لښکرو مشرانو ته په خپلو سپارښتنو کې پرې ټینګار کړی دی.

ـ بله سرچینه عرف دی: د دغو نصوصو سربېره چې د اسلامي او غیر اسلامي هېوادونو ترمنځ د اړیکو د اصولو بنسټ ایښودونکي دي، په یو شمېر نصوصو کې د عرف اعتبار او مرتبه هم بیان شوې چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱ـ الله جل جلاله وایي: ﴿ خُذِ العَفْوَ وأْمُرْ بالعُرْفِ ﴾[۲۲].

**ژباړه:** له ښښنې کار اخله او پر عرف امر کوه.

قاضي ابن عطیه رحمه الله ویلي دي: د ﴿ وأْمُرْ بالعُرْفِ ﴾ معنا هر هغه څه ده، چې خلک یې ښه ګڼي او له شریعت سره په ټکر کې نه وي[۲۳]. او شاطبي رحمه الله بیا وایي: اړینه ده چې د خلکو ترمنځ جاري عادتونه د شریعت له نظره معتبر وګڼل شي (۲٤). همدا معنا شیخ سعدي په خپله دې وینا تاییدوي: عرف یو لوی اصل دی چې په ډېرو هغو شرطونو او حقوقو کې رجوع ورته کیږي، چې د شریعت په نصوصو کې په څرګند یا ضمني ډول نه وي بیان شوي[۲۵].

۲ـ او په بل ځای کې الله جل جلاله وایي: ﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ﴾[۲٦].

۲۲ الاعراف سورت، آیت شمېره (۱۹۹).
۲۳ ابن عطیه، المحرر الوجیز ۶/ ۱۸۶.
۲٤ الشاطبي، الموافقات في اصول الشریعة، تعلیق عبدالله دراز، دویم چاپ (مصر: المکتبة التجاریة ۱۳۹۵) ۲/ ۲۸۶.
۲۵ السعدي، المختارات الجلیة من المسائل الفقهیة، دویم چاپ، (الریاض: الرئاسة العامة للبحوث العملیة والافتاء ۱۴۰۵) مخ ۱۲۷.
۲٦ د الحج سورت، آیت شمېره (۷۸).

**ژباړه:** او الله په دین کې پرتاسو حرج او ستونزه نه ده اچولې.

او خلک له هغه څه منعه کول چې ورسره بلد او عادت شوي وي د هغوی لپاره ستونزه ده، سرخسي ویلي دي: له عام عادت څخه د خلکو په اړولو کې ښکاره ستونزه ده[۲۷]. نو دا عادت چې څنګه د افرادو په خپلمنځي اړیکو کې چلېږي، همدارنګه په بېلا بېلو حالاتو او ظروفو کې د هېوادونو ترمنځ په اړیکو کې هم معتبر دی، څو چې دغه عرف د شریعت له کوم منعه کوونکي نص سره په ټکر کې نه وي؛ نو ویلی شو چې معاصر نړیوال عرف معتبر دی، بلکې اسلامي هېوادونو ته الزامي دی او تر هغه وخت یې باید پلی کړي، تر څو چې له شرعي نص سره په ټکر کې نه وي، باک نه لري که دغه عرف په نړیوال عام قانون کې وي، یا یې په کومه فرعه کې، لکه نړیوال بشرپال قانون چې په دې کتاب کې زموږ د بحث موضوع ده.

د نړیوال قانون لپاره په اسلام کې د دغو معتبرو سرچینو سربېره، یو بل مهم اړخ شتون لري چې د نړیوال قانون د ښوونو او اصولو په پلي کولو کې ځانګړی ژور اغېز لري چې هغه اخلاقو ته پاملرنه ده، ځکه د اسلامي نړیوال عام قانون د پلي کولو په ډګر کې اخلاقو ته پاملرنه ډېره څرګنده خبره ده، په همدې کچه د وګړو ترمنځ د قانوني اړیکو په ډګر کې اخلاقو ته پاملرنه څرګنده ده، له همدې امله څنګه چې د افرادو ترمنځ په خپلمنځي اړیکو کې ښو اخلاقو ته پاملرنه او له ضد څخه یې ځان ساتل اړین دي، همداسې له نورو هېوادونو سره د اسلامي هېواد په اړیکو ساتلو کې اخلاقو ته پاملرنه اړینه ده، او په دې ډګر کې د اسلامي شریعت شعار دا دی چې دا د منلو نه ده، چې یو شی دی د وګړو په خپلمنځي اړیکو کې د شریعت له نظره بد او حرام وي، کټ مټ هماغه شی دې په ځانګړو حالاتو کې له نورو هېوادونو سره د اسلامي هېواد په اړیکو کې ښه، حلال او د منلو وي؛ د همدې خبرې پر بنسټ په اسلام کې د نړیوال قانون یو بنسټیز اصل د اخلاقو رعایتول دي، د یو اسلامي هېواد لپاره په ټولو حالاتو او ظروفو کې له نورو هېوادونو او د هغو له وګړو سره په هر ډول اړیکو کې پر دغه اصل تر وروستي بریده عمل کول اړین دي، که څه هم پر دغه اصل عمل کول تر ټولو سترې قربانۍ او لوی قیمت وغواړي، او ګڼ شمېر ګټې یې له لاسه ووځي، ځکه د اخلاقو پر غوښتنه عمل کول د اسلامي شریعت له

---

۲۷ محمد بن ابي سهل السرخسي، المبسوط، د. ط (بیروت: دارالمعرفۀ ۱۴۰۶) ۱۳/ ۱۴ـ۱۵ او وګوره ۱/ ۸۷ او ۱۵/ ۱۲۰ مخکینۍ مرجع.

نظـره دومـره ارزښـتمن کار دی، چې هيـڅ شی ورسـره نـه شي برابرېدلی او په لار کې يې هـر ډول سربښـندنه او قرباني ساده او اسـانه کار دی، او په دې اړه لـه بريده اوښـتل داسې يـوه نـاوړه کړنـه ده چې ناوړتيـا يـې پـه هيـڅ شي سـره لـه منځـه نـه ځي[۲۸].

نـو لـه همـدې ځايـه پـه اسـلام کې د سـمون اصـل د بشـري حقوقـو پـه قضيـو کې پـه خاصـه توګـه او پـه نـورو قضيـو کې پـه عامـه توګـه څنګـه چې يـو قانوني اصـل دی همدارنګـه يـو ژور اخلاقي اصـل هـم دی، او د رسـول الله صلی الله عليه وسـلم حديث دغـه مفهـوم تاييـدوي چې ويلي يـې دي: ﴿ إِنَّمَـا بُعِثْـتُ لِأُتَمِّـمَ حُسْـنَ الْأَخْـلَاقِ ﴾.[۲۹]

ژباړه: بـې شـکه زه يـوازې د دې لپـاره لېـږل شـوی يـم چې ښـه اخـلاق بشـپړ کـړم. دا حديث دې خبـرې تـه پـام اړوونکی دی چې يـوازې اخـلاق د نبـوي پيغـام اساسي موخـه ده، او دا يـوازې لـه دې املـه چې پـه دې پيغـام کې اخـلاق ځانګـړی ځـای لـري.

او اسـلام اخلاقـو تـه لـه دې اړخـه ګـوري چې اخـلاق پـه خپلـه لـه ايمـان سـره ډېـره ټينګـه اړيکـه لـري، لـه ابـو هريـره رضي اللـه عنـه څخـه روايـت دی وايـي، چې رسـول اللـه صلی اللـه عليـه وسـلم وفرمايـل: ﴿ أَكْمَـلُ الْمُؤْمِنِـينَ إِيمَانًـا, أَحْسَـنُهُمْ خُلُقًـا ﴾[۳۰].

**ژباړه:** د ايمان له پلوه تر ټولو بشپړ مومنان هغه دي چې اخلاق يې غوره وي.

لکـه څنګـه چې اخـلاق داسې يـوه ځانګـړې مرتبـه لـري چې خپـل څښـتن لـوړوي او ځـای يـې د رسـول اللـه صلی اللـه عليـه وسـلم د ناسـتې ځـای تـه نـږدې کـوي، پـه دې اړه رسـول اللـه صلی اللـه عليـه وسـلم پـه خپلـه دې وينـا کې خبـر راکـوي: ﴿ إِنَّ مِـنْ أَحَبِّكُـمْ إِلَيَّ, وَأَقْرَبِكُـمْ مِنِّـي مَجْلِسًـا يَـوْمَ الْقِيَامَـةِ, أَحَاسِـنَكُمْ أَخْلَاقًـا ﴾[۳۱].

**ژباړه:** مـا تـه لـه تاسـو څخـه تـر ټولـو خـوښ او د قيامـت پـه ورځ د مجلـس لـه پلـوه تـر ټولـو نـږدې، لـه تاسـو څخـه د غـوره اخلاقـو څښـتن دی.

نـو رسـول اللـه صلی اللـه عليـه وسـلم تـه بـه د قيامـت پـه ورځ تـر ټولـو نـږدې هغـه څـوک وي چې غـوره او لـوړ اخـلاق ولـري او څومـره چې د مسـلمان اخـلاق غـوره وي هماغومـره بـه رسـول اللـه صلی اللـه عليـه وسـلم تـه نـږدې وي**!!**

۲۸ ګوره: عبدالکريم زيدان، نظرات في الشريعة الاسلامية، لومړی چاپ (بيروت: مؤسسة الرسالة ۱۴۲۱) مخ ۱۴۵.
۲۹ الامام مالك، المؤطا، اووم چاپ، بيروت: دارالنفائس۱۴۰۴) حديث شمېره ۱۶۳۴ مخ ۶۵۱.
۳۰ الترمذي، سنن الترمذي، وحسنه الالباني في صحيح سنن الترمذي، حديث شمېره ۹۲۸.
۳۱ الترمذي، سنن الترمذي، وحسنه الالباني في صحيح سنن الترمذي، حديث شمېره ۱۶۴۲.

د ښو اخلاقو درجه دومره لوړېږي، چې له ډېرو ښو اعمالو څخه مخکې کیږي، د عائشې رضي الله عنها حدیث چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې اوربلی دی، همدا څرګندوي: ﴿ إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الصَّائِمِ الْقَائِمِ ﴾[٣٢].

**ژباړه:** له شک پرته مومن په ښو اخلاقو د روژه نیوونکي او تهجد کوونکي درجه مومي.

بیا په نړیوال عام قانون کې او په ځانګړې توګه په نړیوال بشرپال قانون کې د ښو اخلاقو تر ټولو مهمه نښه په هر ډول حالت کې له عدالت سره تړاو دی، که څه هم دښمن په هر ډول حالت کې وي، الله جل جلاله ویلي دي: ﴿ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴾[٣٣]

**ژباړه:** او د کومې ډلې دښمني مو دومره و نه پاروي چې بیا عدالت و نه کړئ، عدل کوئ، دا تقوا ته ډېر نږدې دی او له الله څخه ووېرېږئ بې شکه الله په هغه څه ښه خبر دی چې کوئ یې.

معنا دا چې له یو قوم سره کینه، دښمني او د هغوی له خوا پر تاسو تېری مو دې ته و نه هڅوي چې پر هغوی تېری وکړئ، ځکه پر مسلمان لازمه ده چې د الله پر حکم عمل وکړي او د عدالت لاره غوره کړي، که څه هم تېری، ظلم او تجاوز پرې شوی وي؛ نو د مسلمان لپاره روا نه ده چې پر هغه چا درواغ وتړي چې درواغ یې پرې تړلي وي، یا له هغه چا سره خیانت وکړي چې خیانت یې ورسره کړی وي.[٣٤] په دې تعامل کې په مطلوب عدالت له تفریع شویو اصولو څخه یو اصل دا دی، چې مسوولیت یوازې تر فاعل پورې اړه لري او هیڅوک د بل پر ګناه نه نیول کېږي، الله جل جلاله وایي: ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى ﴾[٣٥]

**ژباړه:** او هیڅ بار وړونکی به د بل بار نه وړي.

٣٢ أبوداؤد، سنن ابي داؤد وصححه الالباني في صحيح سنن ابي داؤد حديث شمبره۴۰۱۳.
٣٣ د المائده سورت، آیت شمېره (٨).
٣٤ وګوره: السعدي، تفسيرالسعدي (جدة: دارالمدني للنشر، ١۴٠٨) ١/ ۴۵٢.
٣٥ د فاطر سورت، آیت شمېره (٨).

معنا دا چې هر څوک به د خپلو تېروتنو بار پر غاړه لري[۳٦].

او ډېرى وخت دغه اصل په جنګونو او شخړو کې له یاده ویستل کیږي، چې بیا ټول ملت د خپلو ځینو افرادو د تېروتنو او ګناهونو بار زغمي، چې په پایله کې یې ټولوژنې، نسل له منځه وړونکې جګړې او ورته نورې ناخوالې رامنځته کېږي او دا ټول پر مظلومانو د نورو خلکو د بار اچولو پایله ده.

له هغو خلکو سره د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د تعامل بېلګې رارسېدلې دي، چې تړون ورسره شوی او بیا یې ځینو مات کړی دی، نو یوازې تړون ماتوونکو به یې پایله ګالله او یوازې هغه خلک به ورسره په دې پایله کې شریک وو، چې پر ماتولو به یې خوښ وو، خو کومو خلکو به چې تړون نه و مات کړی او پر ماتولو به یې راضي هم نه وو؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به له هغوی سره هماغسې وفا کوله[۳۷].

او د فقهاوو په ویناوو کې هم داسې څه تر سترګو کیږي چې دغه مفهوم ته لارښوونه کوي لکه ابن قدامه رحمه الله په خپل کتاب «المغني» کې وایي: که چېرې هغه څوک چې تړون یې نه دی مات کړی په خپله وینا یا کړنه په څرګنده توګه تړون ماتوونکی بد وګڼي، یا له هغه څخه بېلتون غوره کړي او یا د مسلمانانو واکمن ته دا پیغام ولېږي چې دی هغه څه بد ګڼي چې تړون ماتوونکي ترسره کړي او دی په خپل تړون ولاړ دی؛ نو په حق کې یې تړون مات نه ګڼل کیږي، بلکې د مسلمانانو واکمن به د هغه په اړه د تړون له ماتوونکي څخه د بېلوالي حکم کوي، تر څو یوازې تړون ماتوونکي ته سزا ورکړي، خو که هغه د تړون ماتوونکي له بېلوالي یا د هغه له سپارلو ډډه وکړي؛ نو بیا دی هم تړون ماتوونکی ګرځي، ځکه د تړون ماتوونکي له سزا یې ډډه وکړه؛ نو دی هم د هغه په څېر شو[۳۸].

دا تر وروستي بریده د وفا په اړه د اسلام له دقت څخه کار اخیستنه، عدالت ته بشپړه پاملرنه، خپل اصل ته ژمنتیا او پر تړون د پاتې کېدو ټینګار په ډاګه کوي.

د نړیوال عام قانون په ډګر کې د اسلام اصول هغه مهال لا د لوړې مرتبې څخه برخمن کیږي چې پر دغو اصولو د یوه داسې توپیر راوستونکي اصل مهر لګوي،

۳٦ وګوره المراغي، تفسیر المراغي دویم چاپ (بیروت: دار الکتب العربیۀ، ۱۹۸۵) ۲۲/ ۱۱۹.
۳۷ وګوره: ابن القیم، زاد المعاد في هدي خیرالعباد، دویم چاپ (بیروت: مؤسسۀ الرسالۀ ۱۴۰۵) ۳/ ۱۳٦ــ ۱۳۷.
۳۸ ابن قدامۀ، المغني (الریاض: مکتبۀ الریاض الحدیثۀ د. ت) ۸/ ۴٦۲.

چې پرې دا اصول له نورو بېلېږي، په پياوړې توګه يې پلي کېدونکي او په دقيقه توګه يې نافذېدونکي ګرځوي او دا هغه مهال چې دا په ياد ولرو چې دا اصول له مسلمان شخه د خپل ځان په اړه د ذاتي څارنې غوښتنه کوي، او دا چې سرچينه يې الهي ده، عمل کولو او ورسره مينې لرلو ته يې هڅوي، له هغه سره د ښه ثواب هيله لري او له دنيوي سزا پرته له هغې اخروي سزا وېرېږي چې مخالفت کوونکي يې پرې تهديد کړي دي.

که څه هم په عامو حالاتو کې د قانون د پېروۍ ستر لامل يوازې له دنيوي سزا څخه وېره ده، نه د قانون اصولو ته درناوی، چې په همدې اړه دکتور عبدالحي حجازي وايي: «د يو شخص له خوا د قانون درناوی او له پلي کولو سره يې مينه يوازې يوه ستايل شوې هيله کېدی شي، خو حقيقت دا دی چې د قانون پيروي د هغه د مينې له امله دومره نه کېږي، څومره چې له هغه څخه د وېرې له امله کېږي؛ نو څومره چې له قانون څخه د خلکو وېره له منځه ځي، همدومره يې احترام هم له زړونو وځي».

# دریېم: په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون اصطلاح

کله چې د جنګي غمیزې یو مخ له منځه وړل ناشونې وي؛ نو کوښښ کیږي چې د شونتیا تر کچې یې کړاوونه کم او زیانونه یې یوازې تر ښکېلو غاړو لنډ کړل شي، تر څو د جنګ لمبې د جنګ له ډګره بېرون نورو لوریو ته و نه غځیږي، اوهمدا د نړیوال بشرپال قانون د نظریې بنسټ دی(۳۹).

دغه قانون ته چې موخه یې د وسله والو شخړو پر مهال د بشر د حقوقو ساتنه ده، د نړیوال بشرپال قانون اصطلاح کارول کیږي، دا ځکه چې پر قواعدو یې انساني رنګ غالب دی(۴۰) او بل دا چې د نړیوال بشرپال قانون د رامنځته کېدو لامل هغه انساني شعور او عاطفه ده، چې موخه یې د جګړې پر مهال له تېري څخه د انسان ساتنه ده.

پر همدې بنسټ نړیوال بشرپال قانون، د نړیوال عام قانون یوه ځانګړې برخه یا یې له ځانګو څخه یوه څانګه ده او دا بیا د بشر د حقوقو له نړیوال قانون سره یو ځای د نړیوال عام قانون دوې بېلې قانوني څانګې دي او هره یوه یې بېل ډګر او د پلي کېدو وخت لري. لومړی قانون د وسله والو شخړو او دویم د سولې پر مهال پلی کېږي او دواړه بیا په بنسټیزه توګه د فرد په ساتنه او د هغه د حقوقو په خوندي کولو کې سره یو دي ، خو توپیر یې په دې کې دی، چې د نړیوال بشرپال قانون موخه د وسله والو نښتو پر مهال د دښمن د وګړو ساتنه ده او د بشر د حقوقو نړیوال قانون بیا د هاغه دولت له تېري او ظلم څخه د فرد ساتنه کوي، چې تابعیت یې لري(۴۱).

د دغه وېش په رڼا کې کېدای شي د اسلام له نظره نړیوال بشرپال قانون داسې تعریف شي: د هغو شرعي قواعدو ټولګه ده چې موخه یې د وسله والې شخړې پر مهال د انسان ساتنه او د هغه د حقوقو خوندیتوب دی.

۳۹ وګوره: شریف عتلم، (محرر) محاضرات في القانون الدولي الانساني (محاضرة بعنوان مبادئ القانون الدولي الانساني للدکتور جان بکتیه) دویم چاپ (بیروت: دار المستقبل العربي ۲۰۰۳) ۵۲.

۴۰ ګوره: عبدالغني عبدالحمید محمود، حمایة ضحایا النزاعات المسلحة في القانون الدولي الإنساني والشریعة الإسلامیة، لومړی چاپ (القاهرة: اللجنة الدولة لصلیب الأحمر ۲۰۰۰) مخ ۶.

۴۱ وګوره: أبوالخیر أحمد عطیة، حمایة السکان المدنیین والأعیان المدنیة إبان النزاعات المسلحة، دراسة مقارنة بالشریعة الإسلامیة، لومړی چاپ ( القاهرة: دارالنهضة ۱۹۹۸م) مخ ۱۷.

د مخکښنۍ یادونې په ترڅ کې چې اشاره مې ورته وکړه، جنګ په اسلام کې یوه داسې اړتیا ده چې یوازې د اړتیا تر بریده منل کیږي او په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون له مخکیني بیان شوي تعریف څخه موږ په دغه قانون کې دوه څرګند ټکي موندلی شو، هغه دا چې جنګ د کمیت او کیفیت له اړخه باید یوازې د اړتیا تر بریده وي، او بل دا هر څه چې په جنګ کې پېښیږي باید په انساني چوکاټ کې وي، په دې معنا چې د ښکېلو اړخونو انسانیت ته په کې درناوی وشي.

او دا دواړې قاعدې اسلامي دي، چې لومړۍ یې د اړتیا او ضرورت قاعده ده او په شریعت کې دا خبره منل شوې چې اړتیا باید یوازې د اړتیا تر بریده وي[٤٢].

کله چې جګړه یوازې یوه اړتیا ده، نو په هیڅ صورت کې باید د اړتیا تر بریده وا نه وړي او له بریده هر ډول اوښتل پر مقابل لوري ظلم او تېری دی.

دویمه قاعده د انسان اړوند ده چې په اصل کې د انسان درناوی په کار دی لکه څنګه چې الله جل جلاله وایي: ﴿ وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ ﴾[٤٣].

**ژباړه:** موږ د آدم اولاد ته درناوی ورکړی دی.

ظلم یې ورباندې حرام کړی دی، لکه چې ویلي یې دي: ﴿ وَمَنْ يَظْلِمْ مِنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيرًا ﴾[٤٤].

ژباړه: او څوک چې له تاسو څخه ظلم کوي موږ به هغه ته لوی عذاب وروڅکو. دغه د هر ظالم لپاره ګوتڅنډنه ده[٤٥]؛ چې د جګړې پر مهال د یو انسان له خوا پر بل انسان ظلم کول هم په کې راځي. د همدغې قاعدې په پیروۍ اسلام له خلکو غوښتي، چې په جګړه کې له انساني چلن څخه کار واخلي[٤٦]. نو مسلمان به پرته له کوم شرعي لامل څخه څوک نه وژني، لکه الله جل جلاله چې وایي: ﴿ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴾[٤٧].

٤٢ ګوره: الزركشي (بدرالدين محمد بن بهادر الشافعي)، المنثور في القواعد، تحقيق تيسير فائق أحمد محمود، له لومړنۍ نسخې څخه کاپي شوې نسخه (الكويت: وزارة الأوقاف والشؤون الإسلامية ١٤٠٢) ٢/ ٣٢٠.
٤٣ د الإسراء سورت، آيت شمېره (٧٠).
٤٤ د الفرقان سورت، آيت شمېره (١٩).
٤٥ وګوره: شوكاني، فتح القدير٤/ ٩١.
٤٦ وګوره: إحسان الهندي، الإسلام والقانون الدولي، لومړی چاپ (دمشق: دار طلاس للدراسات والترجمة والنشر ١٩٨٩م ) مخ ١٣٧.
٤٧ د الأنعام سورت، آيت شمېره (١٥١).

**ژباړه:** او پرته له حق څخه هغه څوک مه وژنئ چې الله یې وژل حرام کړي دي، الله تاسو ته د همدې سپارښتنه کوي، کېدای شي له عقله کار واخلئ.

او کله چې د چا د وژلو لپاره شرعي لامل شتون ولري، بیا هم لازمه ده چې په تر ټولو غوره انساني توګه ووژل شي، تر څو د شداد بن أوس رضي الله عنه پر روایت کړي حدیث عمل وشي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: ﴿ إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْإِحْسَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ فَإِذَا قَتَلْتُمْ فَأَحْسِنُوا الْقِتْلَةَ وَإِذَا ذَبَحْتُمْ فَأَحْسِنُوا الذِّبْحَةَ ﴾[٤٨].

**ژباړه:** له شک پرته الله په هر څه کې ښېګڼه لازمه ګرځولې ده؛ نو کله چې څوک وژنئ، په ښه توګه یې ووژنئ او کله چې یو شی ذبح کوئ؛ نو په ښه ډول یې ذبح کړئ.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنګي حالت او پر دغو دوو قاعدو د عمل کولو ترمنځ تطبیق په خپله دې وینا کې داسې کړی دی: ﴿ أَنَا نَبِيُّ الرَّحْمَةِ وَأَنَا نَبِيُّ الْمَلْحَمَةِ ﴾[٤٩].

**ژباړه:** زه د رحمت نبي او زه د جنګ نبي یم. رسول الله صلی الله علیه وسلم ملحمهٔ[٥٠] (جنګ) له رحمت سره یو ځای بیان کړی او رحمت یې پر جنګ مخکې کړی، څو د مسلمانو جنګیالیو په زړونو کې دا خبره ځای ونیسي، چې مسلمان د عدالت لاس دی، نه د سپکاوي[٥١] توره، او دا د اړتیا په حالت کې شخړه او جګړه ده، چې اخلاق او زړه سوی په کې نه هېرېږي.

کله چې د اسلام له نظره په نړیوال عام قانون کې د اخلاقو خبره په قانون جوړونه او بیا یې په پلي کولو کې مهم ځای لري، لکه دا خبره چې مخکې تېره شوه؛ نو هغه استثنایي حالتونه چې د بېړنیو لاملونو له امله د انسان پر خپل ځان ولکه

٤٨ الترمذي، سنن الترمذي، تحقیق أحمد محمد شاکر او نور (بیروت: دار إحیاء التراث العربي، د. ت) ٤/ ٢٣.
٤٩ أخرجه ابن سعد، الطبقات الكبری د. ط (بیروت: دار صادر د.ت) ١/ ١٠٥ (من طريق أبي حصين عن مجاهد).
ومحمد بن حبان، صحیح ابن حبان، تحقیق شعیب الأرناؤوط، دویم چاپ (بیروت: مؤسسهٔ الرسالهٔ ١٤١٤) ١٤/ ٢٢٠ شمېره٦٣١٤. وابن جریر الطبري، تفسیر الطبري، تحقیق عبدالله الترکي، لومړی چاپ (القاهرة: دار هجر١٤٢٢) ١٤/ ١٠٧.
٥٠ الملحمهٔ: جنګ او د جنګ ځایونو ته ویل کیږي او د خلکو په یو بل کې ننوتلو او له یو بل سره له ګډوډېدو څخه اخیستل شوې کلمه ده. وګوره: ابن الأثیر، النهایهٔ في غریب الحدیث والأثر تحقیق طاهر أحمد الزاوي وزمیله (مکهٔ: دارالباز، د. ت ) ٤/ ٢٤٠.
٥١ أبوالخیر عطیهٔ، حمایهٔ السکان المدنیین والأعیان المدنیهٔ مخ ١٦.

په کې کمزورې کیږي او ژور اغېز پرې کوي، نو شاتګ کوي او اخلاق او ارزښتونه هېروي، لکه د جګړو حالتونه چې ډېری خلک په کې پر خپل توازن، تصرفاتو او چلن ولکه له لاسه ورکوي؛ نو دا ډول استثنايي حالتونه د اسلام له نظره بېل شان لري.

د دې ډول استثنايي حالتونو په اړه موږ وینو چې اسلام مخ پر وړاندې یو ځل بیا پر اخلاقو او ارزښتونو ټینګار او د شر جوړوونکو د مهارولو اواز کوي. چې په دې اړه ګڼ شمېر شرعي نصوص د دغه حالت حکم بیانوي او په اړه یې یادونه کوي، او هغه بېړني حالتونه چې د اخلاقو او ارزښتونو له لوړې مرتبې سره انډول شوي، ځینې بېلګې یې دا دي:

**۱ ـ** الله جل جلاله د ستاینې په ځای کې ویلي دي: ﴿ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ ﴾[۵۲].

**ژباړه:** دا هغه کسان دي چې په پراخۍ او تنګسه کې لګښت کوي، او د غوسې خوړونکي او د خلکو (له تېروتنو څخه) تېرېدونکي دي او الله ښېګڼه کوونکي خوښوي.

په دغه آیت کې د هغه چا ستاینه شوې چې له غوسې وروسته ځان کابو کړي او پرې برلاسی شي؛ نو خپله غوسه کنټرول کړي، ښښنه وکړي او ښه چلن وکړي.

**۲–** بل ځای کې الله جل جلاله وایي: ﴿ وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ (٣٤) وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا الَّذِينَ صَبَرُوا وَمَا يُلَقَّاهَا إِلَّا ذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴾[۵۳].

**ژباړه:** او ښېګڼه او بدي نه سره برابرېږي، د (بدۍ) مخه په هغه څه نیسه، چې ډېر غوره (نیکي) وي نو بیا به هماغه (کس) چې ستا او د هغه ترمنځ دښمني وي، د یو مهربانه دوست غوندې شي، او دا (خصلت) پرته له هغو چې زغم یې کړی وي، بل چا ته نه ورکول کیږي او د لویې برخې والا څخه پرته یې بل څوک نه شي موندلای.

دا له دښمن سره د ښو اخلاقو او ښېګڼې کولو په اړه یو ډول یادونه او د ځانګړو

۵۲ د آل عمران سورت، ایت شمېره (۱۳۴).
۵۳ د حم سجدة سورت، آیت شمېره (۳۴ــ ۳۵).

خلکو مرتبه ده او یوازې هغه خلک یې ترلاسه کولای شي چې زغم لرونکي او د لویې برخې څښتنان وي.

**۳– او** له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: ﴿ لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ ﴾[٥٤].

**ژباړه:** پیاوړی هغه څوک نه دی چې چپه کول کوي، بلکې پیاوړی هغه څوک دی چې د غوسې پر مهال خپل ځان کابو کړي.

نو په عادي حالتونو کې پر ځان برلاسی کېدل کومه ځانګړنه نه لري، بلکې ځانګړنه هاغه ده چې د غوسې پر مهال څوک پر خپل ځان برلاسی شي.

**۴ـ** رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: ﴿ مَنْ كَظَمَ غَيْظَهُ، وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ، دَعَاهُ اللَّهُ عز وجل عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، حَتَّى يُخَيِّرَهُ اللَّهُ فِي الْحُورِ مَا شَاءَ ﴾[٥٥].

**ژباړه:** څوک چې خپله غوسه وزغمي سره له دې چې د عملي کولو توان یې ولري، الله عزوجل به یې د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په مخ کې راوغواړي، تر دې چې له خپلې خوښې سره سم د حورو د غوره کولو اختیار به ورکړي.

نو دا ټول غیر عادي حالتونه دي، چې اسلام یې په اړه له ښو اخلاقو څخه د کار اخیستلو یادونه کړې او د هغه چا لپاره یې لوړه مرتبه بیان کړې، چې پاملرنه ورته وکړي، شر جوړوونکي پرې برلاسي نه شي او په ناوړه چلن یې اخته نه کړي.

اسلام د ښو اخلاقو په لوړه مرتبه بیانولو، پرې د ټینګار کولو او د دوه ګونې دنیوي او اخروي بدلې په بیانولو سره ښو اخلاقو ته لا زیاته اغېزمنتیا وربښلې ده، څو د مشرانو او عامو وګړو په چلن کې لا اغېز وکړي. اسلام له همدې لارې غواړي چې څومره د خلکو ترمنځ د ښو اخلاقو کچه لوړه وي، په همغه کچه الزامي قوانینو ته اړتیا کمېږي او برعکس کله چې د خلکو اخلاقي اړخ کمزوری کېږي؛ بدیلو لارو ته اړتیا پیښېږي چې ملتونه پرې کابو کړای شي او همدارنګه هغو سختو قوانینو ته اړتیا لیدل کېږي، چې موخه یې د وضعیت د ټیکاو تضمین وي، خو ژر دغه قوانین

٥٤ متفق علیه: الإمام البخاري، صحیح البخاري ٥/ ٢٢٦٧. والإمام مسلم، صحیح مسلم ٤/ ٢٠١٤.
٥٥ أبوداود، سنن أبي داود ٤/ ٢٤٨.

له پامه غورځول کیږي او په بشپړ ډول ماتېږي. کله چې کمونېستي نظام له سره پر الله جل جلاله ایمان نه لري او په نسبي ډول پر اخلاقو باور لري؛ نو د هغه لپاره اړينه وه چې تر ټولو زيات دغه ډول پرېکنده قوانين رامنځته او پلي کړي. خو له دې سره سره دغه قوانين و نه توانېدل چې د یادونې وړ څه ترسره کړي، خو بل پلو اخلاقي روزنه هغه څه وړاندې کوي چې د ټول بشریت ملاتړ او ساتنه کوي.

ښو اخلاقو ته د اسلام دغه پاملرنه موږ ته راښیي چې ولې اسلامي قانون جوړونه په ډېرى خپلو چارو کې پر عامو اصولو باور لري او په خلکو کې د اخلاقي اړخ پر پیاوړتیا بسنه کوي، ځکه همدا د سمون او سمونې تر ټولو مثالي لار ده.

نو کله چې اخلاق سم شي، ارزښت خوندي کېږي او په جګړه او سوله کې د خلکو حقوق خوندي کېږي او ټول خلک په امن او ډاډ ژوند کوي.

د دې خبرې په پیروۍ موږ ته څرګندیږي چې اسلام په عادي حالاتو کې (د سولې حالت) د اخلاقو لپاره لوړه درجه بیان کړې ده، بیا یې مخ پر وړاندې د بیا ځلې لپاره د اخلاقو مرتبه بیان کړې، او په استثنائي حالاتو کې یې چې په سر کې یې جنګي حالت دی، اخلاقو ته لوړ ځای ورکړی دی، دا یوازې د دې لپاره چې د بشر هغو حقوقو ته پاملرنه وشي چې ډېر کم په جګړه کې خوندي پاتې کیږي او دا هغه څه دي چې په ټولو حالاتو کې په خلکو کې د ښو اخلاقو پر پیاوړتیا د اسلام حرص څرګندوي او په ډاګه کوي، کله چې هم څوک له کوم فشار سره مخ کیږي، وینې چې اسلام هغه ته ارزښتونه او اخلاق ور په یادوي، دا ټول د دې لپاره تر څو انسان د غوسې او خوښۍ په حالت کې د بل انسان او د انسان د اولاد درناوی وکړي، هغه یې دوست وي او که دښمن.

دا هغه عام اصل دی چې اسلام یې په خلکو کې د ځای پر ځای کولو هڅه کړې ده، تر څو په تر ټولو خطرناکو ځایونو کې یو انسان له بل انسان له څخه خوندي شي، د هغو جګړو پر مهال؛ چې طبیعت یې ظلم او تیرى دى.

او دا هغه څه دي چې د اسلام له نظره د نړیوال بشرپال قانون د عامه پاملرنې په اړه یوه عامه رڼا اچوي، چې موخه یې د ښو اخلاقو پیاوړتیا ده او په دغه ډګر کې په ځانګړي ډول پر ارزښتونو داسې ټینګار کوي چې د خلکو پام ورواوړي.

# لومړی مبحث

## په اسلام کې د نړیوال بشر پال قانون د پلي کېدو ډګرونه

# په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون د پلي کېدو ډګرونه

اسلام د سولې دین دی لکه الله جل جلاله چې وایي: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً ﴾[٥٦].

**ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی په اسلام کې بشپړه داخل شئ.

اسلام د جنګ د مخنیوي لپاره ډېر تدابیر لري، خو که د اسلام له ارادې پرته د نورو لاملونو له کبله جنګ ونښت؛ نو بیا اسلام داسې اصول ورته ایښي دي، چې د جنګ زیانونه یوازې تر جنګیالیو پورې محدود شي او دغه تېری تر نورو ملکیانو او هغو خلکو پورې و نه رسیږي، چې په جګړه کې یې ګډون نه دی کړی، یا جګړه دومره و نه غځیږي چې له پای ته رسېدو وروسته یې بندیان زیانمن شي.

دغو اصولو ته د اشارې په موخه د ځینو هغو حقوقو یادونه کوو، چې اسلام د جنګونو او وسله والو شخړو له کړاوونو څخه د زیان لیدونکو د خوندیتوب لپاره ټاکلي دي او ځینې یې په لاندې ډول دي:

## لومړی: د ټپیانو او مصیبت ځپلو د حقوقو ساتنه

د دښمن له افرادو څخه هغه ټپیان او مصیبت ځپلي چې نور د وسلې پورته کولو او له مسلمانانو سره د جګړې توان نه لري، هغوی باید نور ازار نه شي او نه زیان ورته ورسول شي، بلکې مرسته او انساني چلن ورسره وشي، دا د هغه سوچه اسلامي اصل پلي کول دي چې جنګ یو ضرورت ګڼي او ضرورت باید یوازې د اړتیا تر بریده وي، نو کله چې دغه اړتیا ختمه شي نو له جنګ څخه لاس په سر کېدل لازم دي؛ نو کله چې دغه جنګیالی نور د جګړې توان نه لري، بیا د هغه او هغه ته د ورته کسانو وژل او د ټپیانو ازارول روا نه دي، ځکه په وژلو کې یې هیڅ جنګي ښېګڼه نه شته، کله چې ټپي د جنګ توان له لاسه ورکړي، نو انسانیت ته یې د درناوي په موخه د جنګي بندي غوندې چلن ورسره کیږي، او بل دا چې د جګړې موخه یوازې د دښمن د دبدبې ماتول دي؛ نو جګړه به د ظلم تر بریده

٥٦ د البقرې سورت، آیت شمېره (٢٠٨).

نه رسوي(٥٧). ابوعبید قاسم بن سلام په خپل کتاب « الأموال» کې روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې مکرمې د فتحې په ورځ خپل اعلان کوونکي ته امر وکړ چې خلکو ته اعلان وکړي: ﴿ أَلَا لَا يُجْهَزَنَّ عَلَى جَرِيحٍ، وَلَا يُتْبَعَنَّ مُدْبِرٌ وَلَا يُقْتَلَنَّ أَسِيرٌ، وَمَنْ أَغْلَقَ بَابَهُ فَهُوَ آمِنٌ ﴾[٥٨].

**ژباړه:** خبر اوسئ هیڅکله دې ټپي له منځه نه وړل کېږي، تښتېدونکی دې نه تعقیبېږي، بندي دې نه وژل کېږي او چا چې په ځان پسې خپله دروازه بنده کړه، په امن کې دی.

وهبة الزحیلي وایي: «دغه حکم یوازې تر مکې پورې نه دی ځانګړی، ځکه لفظ عام دی؛ نو له عموم څخه یې په هر ځای کې استدلال کیږي»[٥٩].

نو کله چې مسلمانان له خپلې بریا او برلاسۍ څخه ډاډه شي، د دښمن له ټپیانو سره ښه چلن ته بیړه کوي، ځکه د اسلام رحمت ټولو مخلوقاتو ته عام دی او د ناروغ او ټپي حالت تر هر څه ډېر د دغه رحمت غوښتنه کوي او د دغه زخمي یو حق دا دی چې د ټپونو درملنه یې وشي، ځکه له بندیانو سره د ښېګڼې سپارښتنه د هغوی درملنې ته هم شامله ده[٦٠]. او طبراني روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: ﴿ اسْتَوْصُوا بِالْأُسَارَى خَيْرًا ﴾[٦١].

**ژباړه:** له بندیانو سره ښېګڼه کوئ.

او له درملنې پرته د ټپي بندي پرېښودل هیڅ ښېګڼه نه ده، بلکې دا یې یو ډول ازارول دي چې منعه ترې شوې ده، لکه چې الله جل جلاله ویلي دي: ﴿ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴾[٦٢].

٥٧ وګوره: محمد أبوزهرة، نظرية الحرب في الإسلام (مصر: المجلس الأعلى للشؤون الإسلامية بوزارة الأوقاف ١٣٨٠) مخ ٦١.
٥٨ أبوعبيد القاسم بن سلام، الأموال، تحقيق محمد خليل هراس (القاهرة: مكتبة الكليات الأزهرية ١٣٩٦) مخ ١٤١.
٥٩ وهبة الزحيلي، آثار الحرب في الفقه الإسلامي مخ ٤٧٧.
٦٠ وګوره: وهبة الزحيلي، آثار الحرب في الفقه الإسلامي مخ ٤٧٦.
٦١ خرجه الطبراني في الصغير والكبير، وګوره: سليمان الطبراني، المعجم الصغير، تحقيق محمد شكور محمود الحاج أمرير، لومړی چاپ (بيروت: المكتب الإسلامي ١٤٥٠) ١/ ٢٥٠. وسليمان الطبراني، المعجم الكبير، تحقيق حمدي بن عبد المجيد السلفي، دويم چاپ (الموصل: مكتبة العلوم والحكم ١٤٠٤) ٢٢/ ٣٩٣ او هیثمي یې په اړه ویلي دي (رواه الطبراني في الصغير والكبير و إسناده حسن)، علي الهيثمي، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (بيروت: دارالكتاب العربي ١٤٠٧) ٦/ ٨٦.
٦٢ د البقرې سورت، آیت شمېره (١٩٠).

**ژباړه:** او له بریده مه اوړئ بې شکه الله له بریده اوښتونکي نه خوښوي.

هشام بن حکیم بن حزام له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي، چې ویل یې: ﴿ إِنَّ اللهَ يُعَذِّبُ الَّذِينَ يُعَذِّبُونَ النَّاسَ ﴾[٦٣].

**ژباړه:** له شک پرته الله جل جلاله هغو کسانو ته سزا ورکوي، څوک چې خلک ازاروي.

خلک ازارول د فضیلت او ښو اخلاقو له اصولو سره په ټکر کې کړنه ده، چې اسلام په خلکو کې د دغه فضیلت او ښو اخلاقو د رامنځته کېدو سخت کوښښ کوي.

## دویم: د بندیانو حقوق

له جنګي بندیانو څخه موخه دلته هغه دښمنان دي چې له اسلام سره یې خپله دښمني څرګنده کړې او د اسلام پر وړاندې جنګېدلي دي او بیا د مسلمانانو له خوا بندیان شوي دي. په تاریخ کې داسې جنګیالی نه تر سترګو کیږي چې پر بندیانو دې داسې زړه سوانده او مهربانه وي لکه لومړني مسلمانان چې د خپل دین پر هغو اوامرو یې عمل کاوه چې یو یې د الله جل جلاله دغه وینا ده: ﴿ وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا (٨) إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنْكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا ﴾[٦٤].

**ژباړه:** او (نېک خلک) د هغه په مینه بې وزله، یتیم او بندي ته خواړه ورکوي (٨) (وایي) موږ یوازې د الله د رضا لپاره خواړه درکوو، نه له تاسې بدله غواړو او نه مننه.

اسلام د بندي موضوع ته داسې ځانګړې پاملرنه کړې، چې د کرامت ساتنه یې کوي، حقوقو ته یې ارزښت ورکوي، او هر ډول تېری پرې منعه کوي. دلته به هڅه وکړم چې په اسلام کې له بندي سره د چلن په اړه خبره په لنډ ډول بیان کړم:

١ ــ الله جل جلاله په الانفال سورت کې ویلي دي: ﴿ يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِمَنْ فِي

---

٦٣ الإمام مسلم، صحیح مسلم تحقیق محمد فؤاد عبدالباقي (القاهر: دارإحیاء الکتب العربیة) ۴/ ۲۰۱۷شمېره ۲۶۱۳. و محمد بن حبان، صحیح ابن حبان، تحقیق شعیب الأرناؤوط دویم چاپ (بیروت: مؤسسة الرسالة ۱۴۱۴) ۴۲۹۱۲.

٦٤ د الدهر سورت، آیت شمېره (٨ــ ٩).

أَيْدِيكُمْ مِنَ الْأَسْرَى إِنْ يَعْلَمِ اللَّهُ فِي قُلُوبِكُمْ خَيْرًا يُؤْتِكُمْ خَيْرًا مِمَّا أُخِذَ مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴾[٦٥].

**ژباړه:** ای نبي! هغو بندیانو ته چې ستاسو په لاس کې دي، ووایه: که الله ته معلومه وي چې ستاسو په زړونو کې څه خیر شته نو تر هغه به غوره (بدل) درکړي چې له تاسو اخیستل شوي او ښښنه به هم درته وکړي، او الله مهربان ښښونکی دی.

کله چې الله جل جلاله له هغو بندیانو سره چې په زړونو کې یې ښېګڼه او خیر دی، د ښښنې او له هغوی څخه د تېرېدنې ژمنه کوي؛ نو مسلمانان له دې وروسته یوازې دغه واک لري، چې له هغوی سره به د شونتیا تر وروستي بریده له لورینې او انساني چلن څخه کار اخلي.

۲ – لکه څنګه چې اسلام له بندي سره ښه چلن کول لازم ګرځولي او د هغه سپکول او داسې ذلیلول یې چې انساني کرامت ته یې زیان رسوي منعه کړي او په دې اړه طبراني له ابوعزیز څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: ﴿ اسْتَوْصُوا بِالْأُسَارَى خَيْرًا ﴾[٦٦].

**ژباړه:** له بندیانو سره ښېګڼه کوئ.

د بنو قریظه په غزا کې چې یهودیانو په سخت حالت کې هغه تړون مات کړ، چې د هغوی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ترمنځ شوی و، د مسلمانانو ژوند یې له ګواښ سره مخ کړ او ترمنځ یې داسې تړون شوی و، چې د مسلمانانو پر ضد به د مشرکانو مرسته نه کوي، خو هغوی دغه تړون مات کړ او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې خیانت وکړ؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی کلابند کړل او کله چې پرې برلاسی شو او هغوی ورسره بندیان شول، نو خپلو ملګرو ته یې وویل: ﴿ أَحْسِنُوا إِسَارَهُمْ، وَقَيِّلُوهُمْ، وَأَسْقُوهُمْ حَتَّى يُبْرِدُوا ﴾[٦٧]

---

٦٥ د الأنفال سورت، آیت شمېره (٧٠).

٦٦ أخرجه الطبراني في الصغير والكبير، وګوره: سليمان الطبراني، المعجم الصغير، تحقيق محمد شكور محمود الحاج أمرير، لومړی چاپ (بیروت: المكتب الإسلامي ١٤٥٠) ١/ ٢٥٠. وسليمان الطبراني، المعجم الكبير، تحقيق حمدي بن عبد المجيد السلفي، دویم چاپ (الموصل: مكتبة العلوم والحكم ١٤٠٤) ٢٢/ ٣٩٣ او هیثمي یې په اړه ویلي دي (رواه الطبراني في الصغير والكبير و إسناده حسن)، علي الهيثمي، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (بيروت: دار الكتاب العربي ١٤٠٧) ٦/ ٨٦.

٦٧ محمد بن حسن الشيباني، السير الكبير وشرحه للسرخسي، تحقيق حسن محمد الشافعي، لومړی چاپ (بیروت: دار الكتب العلمية ١٤١٧) ٣/ ١٢٧. ومحمد بن يوسف الصالحي، سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد،

**ژباړه:** بندیتوب یې په ښه ډول ترسره کړئ، د غرمې خوب ته یې پرېږدئ او اوبه ورکړئ چې ګرمي یې و نه شي.

او له امام مالک رحمه الله څخه پوښتنه وشوه: آیا بندي ته په دې تمه سزا ورکول کېدی شي، څو د دښمن راز افشاء کړي؟[٦٨] هغه ورته وویل: ما داسې څه نه دي اورېدلي، دا یوازې د هغه خبره ده، چې اعتبار لري او په دې مسئله کې نورې رایې هم شته.

٣ – اسلام د خپلې مهربانۍ له مخې پر مسلمانانو لازم ګرځولي چې له بندیانو سره ښه چلن وکړي او هغوی ته خواړه ورکړي، تر څو د الله پر امر یې عمل کړی وي، او الله جل جلاله بندي ته خواړه ورکول د هغو نېکو خلکو صفت بللی، چې په مؤمنانو کې تر ټولو لوړه درجه لري او حال یې داسې بیانوي: ﴿ وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ﴾[٦٩]

**ژباړه:** او (نېکان خلک) د هغه په مینه بې وزله، یتیم او بندي ته خواړه ورکوي.

معنا دا چې هغوی له الله سره د ډېرې مینې له امله، سره له دې چې په خپله له سختې لوږې سره مخ وي، لومړی کمزورو خلکو؛ بې وزله، یتیم او بندي ته خواړه ورکوي. یوازې دا نه چې خواړه ورکوي بلکې له هغوی سره هر ډول ښېګنه کوي، دلته یې خواړه ذکر کړل خو موخه یې ترې هر ډول ګټې او نورې ښېګنې دي[٧٠] او د خوړو یادونه یوازې له دې کبله وشوه چې هغه تر ټولو غوره ښېګنه ده، او تر ټولو زیاته قرباني په کې شتون لري، هیڅوک به هیڅکله هم د خوړو په ورکړه کې د ځان په پرتله بل چا ته تر هغه مهاله لومړیتوب ور نه کړي تر څو د هغه په اند ارزښتونه او اخلاق تر هر څه لوړ او ځانګړی اوچت ځای و نه لري، له همدې امله د تعجب خبره نه ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګرو به خپلو بندیانو ته له خپلو خوړو غوره خواړه ورکول، په اړه یې یو جنګي بندي ابو عزیز بن عمیر داسې ګواهي ورکوي: «زه د انصارو له یوې ډلې سره بندي وم چې د بدر له غزا څخه راستانه شول، کله به چې هغوی ته غرمنۍ یا ماښامنۍ راوړل کېده؛ ما ته به

تحقیق فهیم محمد شلتوت وزمیله (القاهرة: المجلس الأعلى للشؤون الإسلامیة ١٤١٣) ٥/ ٢٤. د قیلوهم معنا دا ده چې د غرمې خوب ته یې پرېږدئ چې آرام شي.

٦٨ وهبة الزحيلي، آثار الحرب في الفقه الإسلامي مخ ٤١٥.

٦٩ د الدهر سورت، آیت شمېره (٨).

٧٠ وګوره: المراغي، تفسیر المراغي دویم چاپ (بیروت: دار إحياء التراث العربي ١٩٨٥) ٢٩/ ١٦٥.

يې ډوډۍ راکوله (چې دا د هغه وخت ښه خوراک ګڼل کېده) او خپله يې خرماوې خوړې، ځکه هغوی ته رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ په اړه سپارښتنه کړې وه، نو که به له هغوی څخه د یو چا په لاس کې یوه ټوټه ډوډۍ هم وه ما ته به یې راکوله، زه به ترې شرمېدلم، هغه به مې بېرته له هغوی څخه یو تن ته ورکوله، خو هغه بېرته ما ته راکوله او خپله به یې لاس نه وروووړ».

ابو یوسف رحمه الله وایي: «اړینه ده تر هغه مشرکانو بندیانو ته خواړه ورکړل شي او ښه چلن ورسره وشي، څو چې په اړه یې پرېکړه نه وي شوې»[٧١]. او دا ښېګڼه نه ده چې بندي له مناسب خوراک او جامو پرته پرېښودل شي.

له شک پرته مسلمانو مشرانو په خپلو جنګونو کې د همدې لارې پیروي کوله، چې د بندیانو درناوی به یې کاوه او هغوی به یې وږي نه پرېښودل، تاریخ دغه حالت د صلاح الدین ایوبي رحمه الله په اړه ثبت کړی دی، کله چې هغه له صلیبیانو سره جنګېده؛ نو زیات شمېر فرانسوي عسکر یې ونیول، بیا له صلاح الدین ایوبي سره دومره خواړه نه وو، چې هغوی ته بسنه وکړي؛ نو ټول یې ازاد کړل، بیا هغوی سره راټول او یو لښکر ترې جوړ شو، څو له ده سره وجنګېږي، هغه یې هرکلی وکړ او ښه یې وګڼله، چې د جنګ په میدان کې یې د جنګیالیو په ښه ووژني، نه په بند کې په لوږه[٧٢].

۴ – او له بندي سره مطلوب ښه چلن دا هم دی، چې د جامو په ورکړه کې ورسره ښېګڼه وشي، چې ښې جامې ورکړل شي، تر څو د دوبي له ګرمۍ او د ژمي له یخ څخه یې وساتي، د جابر رضي الله عنه په حدیث کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوي دي: ﴿ لَـمَّا كَانَ يَـوْمَ بَـدْرٍ أُتِيَ بِالأُسَـارَى وَأُتِيَ بِالْعَبَّـاسِ وَلَـمْ يَكُـنْ عَلَيْـهِ ثَـوْبٌ فَنَظَـرَ رَسُـولُ اللَّـهِ صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ فَوَجَـدَ قَمِيـصَ عَبْـدِ اللَّـهِ بْـنِ أُبَيٍّ يَقْـدُرُ عَلَيْـهِ فَكَسَـاهُ إِيَّـاهُ ﴾[٧٣].

**ژباړه:** کله چې د بدر په ورځ بندیان راوستل شول او عباس هم په بندیانو کې راوستل شو، او د هغه جامې نه وې، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه لپاره جامې ولټولې او د عبدالله بن ابی کمیس پرې جوړ شو، بیا یې هغه ورواغوسته.

٧١ أبو یوسف یعقوب بن إبراهیم، الخراج، شپږم چاپ (القاهرة: المطبعة السلفیة ١٣٩٧) مخ ١۶١.
٧٢ وګوره: محمد أبو زهرة، نظرية الحرب في الإسلام مخ ۵۶– ۵٧.
٧٣ البخاري، صحیح البخاري د ابن حجر له فتح الباري سره یو ځای چاپ شوې (الریاض: توزیع الرئاسة العامة للإفتاء والبحوث العلمية بالرياض)، كتاب الجهاد باب الكسوة للأسارى ۶/ ١۴۴ شمېره ٣٠٠٨.

همـدا راز پـه روایتونـو کې راغلـي دي، چې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم ځینـو بندیانـو تـه خپلې جامې ورکـړې دي.

۵ـ همـدې تـه ورتـه؛ اسـلام بندیانـو تـه د بنـد پـه زمانـه کې د خپلـو دینـي احکامـو د ترسـره کولـو حـق ورکـړی[٧٤]، چې دا د بنـدي پـه دیـن کې د لاسـوهنې لـه مسـئلې او اسـلام منلـو تـه یې د مجبورولـو لـه کوښـښ څخـه لـوړه مرتبـه ده، او اللـه جـل جلالـه ویلـي: ﴿ لَا إِكْـرَاهَ فِي الدِّيـنِ قَـدْ تَبَـيَّنَ الرُّشْـدُ مِـنَ الْغَـيِّ ﴾[٧٥].

**ژباړه:** پـه دیـن (منلو) کې زور نـه شـته، لـه شـک پرتـه لارښـوونه لـه بې لارۍ څرګنـده شـوه.

۶ـ اسـلام لـه بندیانـو او برمتـه شـویو سـره دوکـه نـه کـوي کـه څـه هـم دښـمن د مسـلمانانو لـه برمتـه شـویو او بندیانـو سـره دوکـه وکـړي، دا ځکـه چې اللـه جـل جلالـه ویلـي دي: ﴿ وَلَا تَـزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْـرَى ﴾[٧٦].

**ژباړه:** او هیڅ بار وړونکی به د بل بار نه وړي.

او د مخکې تېر شـوي حدیث پر بنسټ چې پـه کې دي: ﴿ كَانَ رَسُـولُ اللـه صَـلَّى اللـه عَلَيـه وسَـلَّم إِذَا بَعَـثَ جُيُوشَـهُ، قَـالَ: اخْرُجُـوا بِاسْـمِ اللـه تعالـى، تُقَاتِلُـونَ مَـنْ كَفَـرَ بِاللـه، لاَ تَغْـدُرُوا، وَلاَ تَغُلُّـوا، وَلاَ تُمَثِّلُـوا، وَلاَ تَقْتُلُـوا الْوِلْـدَانَ، وَلاَ أَصْحَـابَ الصَّوَامِـعِ ﴾[٧٧].

**ژباړه:** رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم بـه چې کلـه خپـل لښـکر لېـږل، ورتـه ویـل بـه یې: د اللـه پـه نـوم ووځئ، لـه هغـو خلکـو سـره وجنګېږئ چې اللـه نـه مني، دوکـه مـه کـوئ، لـه غنیمـت څخـه غـلا مـه کـوئ، مـړي مـه بدشـکله کـوئ، ماشـومان او د کلیسـا والا مـه وژنـئ.

د ابـن جریـر طبـري پـه «تاریـخ الرسـل و الملـوك» کتـاب کې راغلـي، کلـه چې امـوي خلیفـه معاویـه بـن ابـي سـفیان رضي اللـه عنـه اړ شـو، چې لـه رومیانـو سـره د سـولې تـړون وکـړي او د دوکې لـه وېرې یې ځینې کسـان د ضمانـت پـه توګـه ګـرو کـړي، خـو

٧٤ وګوره: إحسان الهندي، أحكام الحرب والسلام في دولة الإسلام، لومړی چاپ ( دمشق: د، ن ١٩٩٣ شمېره (٢٥۶).

٧٥ د البقره سورت، آیت شمېره (٢٥۶).

٧٦ د فاطر سورت، آیت شمېره (١٨).

٧٧ الإمام أحمد، مسند الإمام أحمد تحقيق الدكتور عبدالله التركي او ملګرو یې لومړی چاپ (بیروت: مؤسسة الرسالة ١٤١٧) ۴۴۶١، شمېره (٢٧٢٨) محقق ویلي: دغه حدیث حسن لغیره دی.

هغـوی بیـا هـم دوکـه وکـړه؛ نـو معاویـه رضـي اللـه عنـه هغـوی تـه ګـرو کـړي بندیـان وروسـپارل او ویـې ویـل: د دوکې پـه بـدل کې وفـا لـه دې غـوره ده، چې د دوکې پـه بـدل کې دوکـه وشـي.

۷ـ همدارنګـه لـه بندیانـو سـره ښـه چلـن دا هـم دی، چې د یـوې کورنـۍ د یـو ځـای بندیانـو شـویو غـړو ترمنـځ بېلتـون را نـه وسـتل شي، لـه ابـو ایـوب رضي اللـه عنـه څخـه روایت دی چې مـا لـه رسـول اللـه صلى اللـه علیـه وسـلم څخـه اورېدلي چې ویـل یـې:
﴿ مَـنْ فَـرَّقَ بَـيْنَ وَالِـدَةٍ وَوَلَدِهَـا فَـرَّقَ اللَّـهُ بَيْنَـهُ وَبَـيْنَ أَحِبَّتِـهِ يَـوْمَ الْقِيَامَـةِ ﴾[۷۸].

**ژباړه:** څـوک چې د مـور او زوی ترمنـځ بېلوالـی راولي، د قیامـت پـه ورځ بـه اللـه د هغـه او دوسـتانو ترمنـځ یـې بېلتـون راولي. امـام ترمـذي رحمـه اللـه ویلي دي: پـه دې اړه د نبـي کریـم صلى اللـه علیـه وسـلم د ملګـرو او نـورو علمـاوو عمـل دا و، چې پـه مریيتـوب کې بـه یـې د مـور او زوی، د زوی او پـلار او د ورونـو ترمنـځ بېلتـون بـد ګڼـه [۷۹]. ابـن قدامـه پـه خپـل کتـاب «المغنـي» کې ویلي دي: «علمـاوو د مـور او کوچني زوی ترمنـځ د بېلتـون پـه نـه جـواز اجمـاع کـړې ده»[۸۰] همـدا رنګـه د پـلار او زوی، د دوو ورونـو او د دوو خوینـدو ترمنـځ بیلتـون هـم جایـز نـه دی، بلکې ځینـو فقهـاوو داسې هـم ویلي دي، چې د ذي رحـم محـرم خپلوانـو ترمنـځ بېلتـون جایـز نـه دی، لکـه د عمـه او وراره او د خالـه او خوریـي ترمنـځ[۸۱]. او د عباسي خلیفـه معتصـم باللـه پـه اړه ویـل کېـږي، کلـه چې یـې لـه خونـړۍ جګـړې وروسـته د ارمینیـا یـوه کلا پـه زور ونیولـه؛ نـو امـر یـې وکـړ چې د یـوې کورنـۍ د بنـدي شـویو غړیـو ترمنـځ دې بېلوالـی نـه راوسـتل کېـږي[۸۲].

۸ـ اسلام لـه هغـو سملاسي تصرفاتـو څخـه منعـه کـړې، چې لـه جګـړې څخـه د ځینـو عسـکرو د رواني تاثیراتـو پـه پایلـه کې رامنځتـه کیـږي؛ نـو بنـدي کوونکـی یـې د بنـدي لـه وژلـو منعـه کـړی دی، هغـه کـه یـو تـن وي یـا ډلـه، ځکـه شـونې ده چې د جګـړې پـر مهـال ځینـو عسـکرو لـه بنـدي کوونکي سـره بـد چلـن کـړی وي او اوس د بنـد پـر مهـال هغـه پـرې خپلـه غوسـه سـړوي او دا پـه اسـلام کې جـواز نـه لـري، بلکې پـر ټولـو لازمـه ده چې تـر هغـه انتظـار وکـړي، څـو د هغـوی قومانـدان پـه زغـم او حوصلـه یـوه پرېکـړه

۷۸ الإمام أحمد، مسند الإمام أحمد (مصر: مؤسسة قرطبة) ۵/ ۴۱۲ والترمذي، سنن الترمذي، تحقيق أحمد محمد شاكر (بيروت: دارإحياء التراث العربي د.ت) ۴/ ۱۳۴. وقال عنه الترمذي هذا حديث حسن غريب.

۷۹ الترمذي، مخکېنی اخځلیک. او محمد عبدالرحمن بن عبدالرحيم المباركفوري، تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي (بيروت: دار الكتب العلمية) ۵/ ۱۵۴.

۸۰ ابن قدامه، المغني (الرياض: مكتبة الرياض الحديثة، د. ت) ۸/ ۴۲۲.

۸۱ وګوره: ابن قدامة، المغني ۸/ ۴۲۳ـ ۴۲۴.

۸۲ وګوره: آدم میتز، الحضارة العربية په څلورمه هجري پېړۍ کې.

وکړي، دا لـه شـک پرتـه د رامنځتـه شـوې غوسـې پـه حالـت کې تصـرف لـه منځـه وړي او د بنديانـو کرامـت او انسـانيت سـاتي او همدغـه د علمـاوو لـه نظـره پـه فقهـي ډول منـل شـوې خبـره ده، چـې د بنديانـو پـه اړه د پرېکـړې واک بـه د واکمـن پـه لاس کې وي او پـه اړه بـه يـې ګټـوره پرېکـړه کـوي[٨٣]، ابـن قدامـه رحمـه اللـه وايـي: «څـوک چـې بنـدي ونيسي، تـر هغـه يـې نـه شي وژلـی، څـو واکمـن راشي او پـه اړه يـې پرېکـړه وکـړي، ځکـه عسـکر چـې بنـدي شي؛ نـو واک يـې لـه واکمـن سـره دی»[٨٤]. دغـه ممانعـت بنـدي لـه سـختې غوسـې او د بريـا لـه هغـې نشـې سـاتي، چـې عسـکر يـې د هغـه د بنـدي کولـو پـر وخـت لـري، د عسـکرو پـه وړانـدې د انسـانيت ضـد جرائـم ډېـری وخـت د هغـوی د ماتـې او د مقابـل لـوري د عسـکرو لاس تـه لوېـدو پـر مهـال ترسـره کيـږي، نـو پـه دې شـبهه کې لـه تصـرف څخـه د عسـکر منعـه کېـدل د بنـدي لپـاره غـوره خونديتـوب رامنځتـه کـوي او د برخليـک اړونـد يـې پـه لويـه کچـه د غـور او فکـر ضمانـت کـوي، چـې پـه پايلـه کې يـې کرامـت او انسـانيت خونـدي کېـږي او د بريـا لـه نشـې او د جنـګ لـه غوسـې پـاک چلـن ورسـره کېـږي.

د همـدې پـه تـرخ کې د يـو عسـکر لـه خـوا پـر داسې بنـدي تيـری کـول هـم منعـه دي چـې د جګـړې پـر مهـال د بـل عسـکر لـه خـوا نيـول شـوی وي، کـه چېـرې يـو عسـکر تـه لـه بـل عسـکر سـره د بنـدي ليدلـو فرصـت پـه لاس ورشي؛ نـو د هغـه وژل ورتـه روا نـه دي، د سـمرة رضي اللـه عنـه حديث پـر همـدې دلالـت کـوي چـې رسـول اللـه صلى اللـه عليـه وسـلم ويلي دي: ﴿ لَا يعْـتَرِض أحدكُـم أَسِـير صَاحبـه؛ فَيَأْخـذهُ؛ فيقتلـه ﴾[٨٥].

**ژباړه:** هيڅـوک دې لـه تاسـو څخـه د خپـل ملګـري بنـدي تـه نـه وروړانـدې کېـږي، چـې تـرې وايخلي او ويـې وژنـي.

٩ـ لـه بنديانـو سـره د اسـلام چلـن نـرم و، او د بنديانـو ازادول لـه هغـو غـوره اخلاقـو څخـه وو، چـې عربـو پـرې وياړ کاوه، شـاعر وايـي:

وَلَا نَقْتُلُ الْأَسْرَى وَلَكِنْ نَفُكُّهُمْ
إِذَا أَثْقَلَ الْأَعْنَاقَ حَمْلُ الْمَغَارِمِ[٨٦]

---

٨٣ وګوره: ابن حجر، فتح الباري، ٦/ ١٥١، الماوردي، الأحكام السلطانية، مخ ١٠٤.
٨٤ ابن قدامة، المغني ٨/ ٣٧٧.
٨٥ عبدالله بن عدي الجرجاني، الكامل في ضعفاء الرجال، تحقيق يحيى مختار غزاوي، دويم چاپ (بيروت: دار الفكر١٤٠٩) ١/ ٣٣٦.
٨٦ وګوره: الشوكاني، فتح القدير الجامع بين فني الرواية والدراية من علم التفسير تحقيق عبدالرحمن عميرة، دويم چاپ (المنصورة: دارالوفاء للطباعة والنشر ١٤١٨) ٥/ ٤٠.

**ژباړه:** موږ بندیان نه وژنو بلکې ازادوو یې، کله چې یې پر غاړو پوړ دروند شي.

او تر ټولو مشهور آیت چې د بندیانو د شرعي حالت په اړه پرېکړه کوي، د الله جل جلاله دغه وینا ده: ﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ﴾[۸۷].

**ژباړه:** نو کله چې له هغو کسانو سره مخ شئ (ونښلئ) چې کفر یې کړی؛ نو ورمېږونه وهئ، تر څو یې ښه ووژنئ بیا یې کلك وتړئ، بیا نو یا احسان وکړئ خوشې یې کړئ او یا فدیه واخلئ تر څو جنګ خپلې وسلې کېږدي.

د بندیانو له نیولو وروسته باید د هغوی بشپړه ساتنه وشي، تر څو جګړه پای ته ورسیږي، دغه وخت واکمن څو اختیاره لري:

**لومړی اختیار:** دا چې بندي ته ښښنه وکړي او پرته له کوم بدل څخه یې ازاد کړي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په زیات شمېر غزاوو کې همدا ډول پرېکړې کړې دي، لکه څنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سیرت کې دا خبره راغلې ده، او دا هیښوونکې نه ده ځکه الله جل جلاله هم لومړی د ښښنې یادونه کړې ده، لکه چې ویلي یې دي: ﴿ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ﴾ یعنې یا ښښنه وکړئ پرته له کومې بدلې څخه یې ازاد کړئ او یا فدیه ترې واخلئ تر څو جګړه خپلې وسلې کېږدي. او ښښنه دا ده چې بندي ته ښښنه وشي او له فدیې او بدلې اخیستلو پرته ازاد کړل شي، او په ایت کې له فدیې پرته د ازادولو مخکې راوړل په همدې معنا دلالت کوي، له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدر په غزا کې دغه لار غوره کړه او پر دې حکم یې تر نورو حکمونو مخکې عمل وکړ[۸۸]. همدارنګه ښښنه لومړی اختیار و لکه څنګه چې مصطفی صلی الله علیه وسلم د بدر له غزا وروسته وویل: که چېرې مطعم بن عدي –چې د کافرانو یو مشر و– ژوندی وای او د بدر د بندیانو ازادي یې غوښتې وای، ما به ټول د هغه په خاطر ازاد کړي وای، دا ټول په ټینګه پر دې خبره دلالت کوي چې په اسلامي قانون کې بندیانو ته ښښنه کول یو ځانګړی ځای لري.

**دویم اختیار چې د جنګي بندیانو فدیه ده:** نو یا به بندي له خپل ځان څخه د مال بدله ورکوي لکه د بدر په لویه غزا کې چې داسې وشول، او یا به له کافرانو

۸۷ د محمد سورت، آیت شمېره (۴).

۸۸ وګوره: الزرقاني، شرح المواهب اللدنیة ۱/ ۵۴۳– ۵۴۴ چې دغه وینا یې له سهیلي څخه نقل کړې ده.

سره په مسلمان بندي تبادله کېږي او رسول الله صلی الله علیه وسلم په فدیه کې یوازې په مال او تبادله بسنه نه ده کړې، بلکې د بندي له خوا د مسلمانانو بچیانو ته لیک او لوست ښودل یې فدیه ګرځولې ده، چې دا چاره د بندي لپاره ډېره اسانه ده او په دې کې څرګند دلالت پر دې دی چې اسلام د ازادۍ ورکولو او د ناپوهۍ له منځه وړلو کې څومره لېواله دی.

**دریېیم اختیار:** د بندي وژل دي او د دې خبرې پلویان هم له قرآن او حدیث څخه یو شمېر دلایل لري، یو یې هغه دی چې په نبوي سیرت کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې بندیان ووژل، خو بل پلو ته ابن عربي رحمه الله د الله د دغه قول په اړه د ابن عباس رضي الله عنهما وینا را نقل کوي چې ویلي یې دي: ﴿ حَتَّـى يُثْخِـنَ فِي الْأَرْضِ ﴾[89]

**ژباړه:** تر هغه چې په ځمکه کې دښمن ښه وټکوي.

ابن عباس رضي الله عنهما وايي: دغه حکم د بدر د غزا په اړه و، چې هغه وخت مسلمانان لږ وو، کله چې مسلمانان زیات شول، بیا الله جل جلاله وویل: ﴿ فَإِمَّا مَنًّـا بَعْـدُ وَإِمَّـا فِـدَاءً ﴾، نو الله جل جلاله مسلمانانو ته د ښښنې او فدیې اختیار ورکړ، چې همدا خبره له هغه وروسته زیات شمېر نورو مفسرینو هم کړې ده[90]. د دې معنا دا ده چې د بندي وژل یوازې د اسلام په پیل کې و، کله چې مسلمانان لږ وو، خو وروسته بیا یوازې د ښښنې او فدیې اختیار ورکړل شول، او دا د ځینو هغو فقهاوو وینا ده چې د بندي وژل منعه ګڼي، ابن رشد په دغه مسئله کې د اختلاف له رانقلولو وروسته وايي، چې ډېری علماء په دې اند دي چې واکمن د بندیانو د ښښنې، مریتوب او وژنې اختیار لري، او بیا وايي چې ځینې علماء په دې باور دي «چې د بندي وژل روا نه دي، چې حسن بن محمد التیمي په دې اړه د صحابه وو اجماع را نقل کړې ده»[91]، حسن او عطاء رحمهما الله ویلي دي: «د واکمن لپاره د بندي وژل روا نه دي»[92]. او ابو حیان په «البحر المحیط» کې د الله تعالی د

89 الإثخان في الشئ: د مبالغې او زیادت په معنی دی، چې دلته د کفارو په وژلو کې مبالغه ځینې مراد ده.
90 ابن العربي، أحکام القرآن، تحقیق علي محمد البخاري ( بیروت: دار الفکر د. ت) ۲/ ۸۷۹.
91 ابن رشد، بدایة المجتهد ونهایة المقتصد، شپږم چاپ (بیروت: دار المعرفة ۱۴۰۲) ۱/ ۳۸۲.
92 ابن العربي، أحکام القرآن ۴/ ۱۷۰۳. وهبة الزحیلي د خپل «آثارالحرب في الفقه الاسلامي» نومي کتاب په ۴۴۰ مخ کې وايي: د بندي وژل د اباحت په پرتله حرمت ته ډېر نېږدې دي، او که روا هم شي؛ نو هغه یوازې داسې یوه شفاء ورکوونکې دوا ده چې په ځانګړو فردي حالاتو کې د سختې اړتیا پر مهال کارول کیږي، او د ټولو عامو حالاتو لپاره درملنه نه ده»، همدارنګه په ۴۳۶ مخ کې وايي: «د بندیانو د وژلو پېښې د اسلام په پیل کې په ځانګړو حالاتو کې له فردي پېښو څخه دي، او دا کوم عام او تلپاتې شرعي حکم نه دی، بلکې یوازې د همغو حالاتو په

دې وینا: ﴿ فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتَّى إِذَا أَثْخَنْتُمُوهُمْ فَشُدُّوا الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتَّى تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ﴾[۹۳].

ژباړه: نو کله چې له هغو کسانو سره مخ شئ (و نښلئ) چې کفر یې کړی؛ نو د ورمېږونو وهل کوئ تر څو یې ښه ووژنئ بیایې کلك وتړئ، بیا نو یا احسان وکړئ خوشې یې کړئ او یا فدیه واخلئ ترڅو خپلې وسلې کېږدي.

په تفسیر کې ویلي دي: «داسې ښکاري چې د دښمن د کمزوري کېدو پر مهال د غاړو وهنه (وژنه) په بندي کولو پای ته رسېږي، او دغه وینا یې: «چې له بندي کولو وروسته ښنه یا فدیه ده»، د بندي دوه حالتونه بیانوي چې یا په ازادولو ورسره ښېګڼه وشي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې له ثمامۀ بن اثال الحنفي سره په ازادولو ښېګڼه کړې وه ، او یا تبادله شي لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې دوه کافران په یوه مسلمان تبادله کړل»[۹٤]. دغه خبره هغې نظریې سره سمون لري چې وایي په اسلام کې له جنګ څخه موخه د دښمن له منځه وړل نه دي، بلکې یوازې د تېري مخنیوی دی؛ نو کله چې د تېري مخنیوی وشي او د دښمن ځینې عسکر ونیول شي، هغوی جنګي مجرمان هم نه وي او پخوانی جرمي مخینه و نه لري؛ نو وژل یې روا نه دي.

۱۰ – مخکې مو دې خبرې ته اشاره وکړه چې عرف په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون لپاره یوه معتبره شرعي سرچینه ده، د همدې خبرې پر بنسټ چې کله هم هېوادونه له وژلو څخه د بندیانو د خوندیتوب په اړه کوم تړون کوي یا د هغو ترمنځ کوم عرف شتون ولري؛ نو دغه تړون او عرف به د اسلامي هېوادونو لپاره الزامي ګرځي او د هغه عرف برخه به ګرځي چې پلې کول یې پر ټولو لازم وي او په هغه نړیوال عام قانون کې به ځای پر ځای کېږي چې د تړون یا الزامي عرف پر بنسټ ولاړ وي، دا خبره که څه هم د واکمن واک کموي خو په دې کې یوګڼه

---

راتلو سره بیا روا کېدلی شي، ځینې بندیان ځکه ووژل شول چې له اسلامي بلنې سره یې سخت عداوت لرلو او له مسلمانانو سره یې دښمني زیاته وه او د قومونو ترمنځ دښمني اچول او د مسلمانانو پر خلاف هڅول یې کول، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې ازار رسولو او په هغه پسې یې سپکې خبرې کولې»، وګوره: عبدالواحد یوسف الفار، أسری الحرب د.ط (القاهرة: عالم الکتب، ۱۹۷۵) مخ ۱۹۱ـ ۱۹۲. او د وهبۀ الزحیلي خبره یې تایید کړې ده.

۹۳ د محمد سورت، آیت شمېره (۴).

۹٤ أبوحیان الأندلسي، تفسیرالبحر المحیط، دویم چاپ (بیروت:دار الفکر للطباعۀ والنشر والتوزیع ۱۴۰۳) ۸/۷۴.
او أبوحیان رحمه الله له دې وینا وروسته په دغه مسئله کې د علماوو اختلاف او همدارنګه د دغه آیت او {فاقتلوا المشرکین حیث وجدتموهم} آیت ترمنځ ظاهري ټکر بیان کړی دی.

مصلحت شتون لري، او اسلامي هېواد د دغه تړون او عرف په پلي کولو او په اړه یې له نړیوالې ټولنې سره په مرسته کولو کې تر ټولو زیات حریص دی، ځکه په دې کې د بندي خوندیتوب، ساتنه او درناوی وي.

## درېیم: د ورکو شویو او وژل شویو حقوق

له جنګونو وروسته هغه ورک شوي خلک هم ډېر وي چې درک یې نه وي معلوم، او دا له شک پرته داسې یو درد او غم دی، چې کله ښایي د ورک شوي کس د خپلوانو لپاره د هغه د مرګ له خبره هم ډېر دردوونکی وي، ځکه په دې حالت کې کله نا کله پر هغوی درد اوږدیږي او په دوامدار ډول د هغه د کړاوونو تصور کوي، او ځینې خلک زیات وخت د خپل ورک شوي خپلوان د مرګ د خبر اورېدو هیله کوي څو په اړه یې زړه ډاډه شي.

له همدې امله باید دښمن ته د هغو بندیانو په اړه خبر ورکړل شي، چې له مسلمانانو سره وي، د بندیانو نومونه پټول او یا د هغوی له شتون څخه انکارکول روا نه دي، ځکه په دې کې د بندي سپکاوی او د هغه د حقوقو ضایع کول دي، د شریعت له مخې له بندي سره مطلوب ښه چلن د هغه د شخصیت احترام، د هغه د کرامت درناوی او په اړه یې کورنۍ ته کافي معلومات ورکول دي.

له هر جنګ وروسته د عسکرو حالت معلومول مهم دي څو د هر ورک شوي عسکر او له مسلمانانو سره د جګړې په ډګر کې د پاتې شویو جسدونو په اړه معلومات راټول شي، ځکه اسلام ژوندي او مړه انسان ته درناوی لري او په ډېرو ځایونو کې د مړي درناوی کوي:

۱ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم له مثله(۹۵) کولو څخه منعه کړې ده، دغه خبرې ته د بریده رضي الله عنه حدیث لارښوونه کوي چې وایي:﴿ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَّرَ أَمِيرًا عَلَى جَيْشٍ، أَوْ سَرِيَّةٍ، أَوْصَاهُ فِي خَاصَّتِهِ بِتَقْوَى اللهِ، وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ خَيْرًا، ثُمَّ قَالَ: «اغْزُوا بِاسْمِ اللهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، قَاتِلُوا مَنْ كَفَرَ بِاللهِ، اغْزُوا وَلَا تَغُلُّوا، وَلَا تَغْدِرُوا، وَلَا تَمْثُلُوا، وَلَا تَقْتُلُوا وَلِيدًا ﴾[۹۶].

**ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله پر یو لښکر یا ډلګۍ څوک د

۹۵ المثلة: ویل کیږي وژل شوی یې مثله کړ، معنا دا چې کله یې پوزه، غوږونه، نور غړي او برخې پرې کړل شي. الصنعاني، سبل السلام شرح بلوغ المرام (الریاض: جامعة الإمام محمد بن سعود الإسلامیة ۱۳۹۷) ۴/ ۹۶.
۹۶ الإمام مسلم، صحیح مسلم ۳/ ۱۳۵۷ شمېره (۱۷۳۱).

مشر په توګه ټاکه؛ نو په ځانګړي ډول د خپل ځان په اړه به يې له الله څخه د وېرې او د ورسره مسلمانانو په هکله به يې د ښېګڼې سپارښتنه ورته کوله، بيا به يې ويل: د الله په لار کې د الله په نوم له هغو مشرکانو سره وجنګېږئ چې الله نه مني، جهاد وکړئ، له غنيمت څخه غلا مه کوئ، دوکه مه کوئ، مړي مه بدشکله کوئ او ماشوم مه وژنئ. او انس بن مالک رضي الله عنه ويلي دي: ﴿ لَمْ يَخْطُبْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَةً إِلَّا أَمَرَ بِالصَّدَقَةِ، وَنَهَى عَنِ الْمُثْلَةِ ﴾[٩٧].

**ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم به هر کله چې خطبه وړاندې کوله؛ نو د صدقې امر او له مثله کولو به يې منعه کوله.

د احد په غزا کې چې کله دښمنانو د مسلمانانو مړي مثله کړل، رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل: لکه څنګه چې په تفسير طبري کې راغلي: ﴿ لَئِنْ ظَهَرْنَا عَلَيْهِمْ لَنُمَثِّلَنَّ بِثَلاثِينَ رَجُلا مِنْهُمْ « فلما سمع المسلمون بذلك، قالوا: والله لئن ظهرنا عليهم لنمثلنّ بهم مُثْلة لم يمثِّلها أحد من العرب بأحد قطُّ فأنزل الله {وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُمْ بِهِ وَلَئِنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِلصَّابِرِينَ ﴾[٩٨].

**ژباړه:** که چېرې موږ پر هغوی برلاسي شو، هرومرو به دېرش کسان ترې مثله کړو، نو کله چې مسلمانانو دغه خبره واورېده، ويې ويل: په الله قسم که پر هغوی برلاسي شو، هرومرو به يې داسې مثله کوو، چې له عربو څخه هيچا، هيڅوک داسې نه وي مثله کړي؛ نو الله جل جلاله دغه آيت نازل کړ: او که تاسو کسات اخلئ نو هغه شان کسات واخلئ لکه چې پر تاسو تېری شوی وي او که صبر مو وکړ، دا خو صبر کوونکو ته لا ډېره غوره ده.

طبري وايي: بيا يې اراده وکړه او خبر يې ورکړ چې مثله به نه کوي او له مثله کولو څخه يې منعه وکړه[٩٩].

د همدې خبرې پر بنسټ د دښمن مړي مثله کول ناروا دي.[١٠٠] بلکې صنعاني په «سبل السلام» کې ويلي دي: د بريده حديث د مثله کولو او د مشرکانو د ماشومانو د

٩٧ البيهقي، السنن الکبری ٩/ ٦٩.
٩٨ د النحل سورت، آيت شمېره (١٢٦).
٩٩ الطبري، تفسيرالطبري (بيروت: دار الفکر١٤٠٥) ١٤/ ١٧٦.
١٠٠ وګوره: ابن قدامۀ، الکافي، تحقيق زهير الشاويش، پنځم چاپ (بيروت: المکتب الإسلامي ١٤٠٨) ٤/ ٢٧٢.

وژلو پر حراموالي دلالت کوي، بیا ویلي دي: «دغه د ټولو په اجماع حرام دي»(۱۰۱). زمخشري ویلي دي: د مثله په حراموالي کې هیڅ اختلاف نه شته او د منعې په اړه یې احادیث راغلي دي ان تر دې چې د داړونکي سپي مثله هم منعه ده(۱۰۲).

۲ـ لکه څنګه چې اسلام د وژل شویو مثله منعه کړې، همدارنګه یې سرونه وړل او ننداریې ته وړاندې کول منعه کړي دي، زهري ویلي دي: «رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هیڅکله د دښمن سر نه دی وړل شوی»(۱۰۳). او محمد بن حسن الشیباني روایت کوي چې عقبهٔ بن عامر الجهني لومړي خلیفه ابوبکر رضي الله عنه ته د مشرکانو له وژل شویو څخه د یو تن سر راوړ، ابوبکر رضي الله عنه دغه کار بد وګاڼه او خپلو قوماندانانو ته یې ولیکل چې هیڅکله ما ته د چا سر را نه وړئ که نه د زړه یخولو لپاره به له بریده اوښتي وئ، بلکې زما لپاره لیک یا خبر راکول بسنه کوي(۱۰٤). او په بل روایت کې راځي چې ویلي یې دي: «دغه د عجمو کړنلاره ده»(۱۰٥) دا په دې معنا چې د اسلام د تشریع پر مهال د سرونو وړل نااشنا وو، بلکې د ابوبکر رضي الله عنه د دې خبرې معنا چې دا د عجمو کړنلاره ده، پر دغه کار نیوکه او له دې کار څخه کرکه ښودل دي او ناروا والی یې څرګندوي، لکه له هغو بېلګو چې څرګندیږي چې د سیرت کتابونه یې یادونه کوي چې له جنګ وروسته د دښمنانو سرونه وړل شوي دي(۱۰٦) او د دې حکم ساحه به خورا تنګه او د هغو ځانګړو کسانو په اړه به وي چې په دښمنۍ کې یې مبالغه کړې او مسلمانانو ته په اذیت او تېري کې له ټولو پولو اوښتي وي.

۳ـ د انساني کرامت د ساتنې په لار کې باید د وژل شویو جسدونه داسې پرېښښودل شي، چې ځناور او مرغان یې څیرې کړي، بلکې هغه باید د سپکاوي له ځایونو لرې او پټ کړل شي، نو لکه څنګه چې اسلام د مسلمانو جنګیالیو په لاسونو د وژل شویو مثله منعه کړې، همدا راز یې د هغوی د جسدونو د ساتنې امر کړی، څو څیروونکی ځناور یې مثله نه کړي، یا څیروونکی مرغه پرې راکوز او څیرې یې نه

۱۰۱ ګوره: الصنعاني، سبل السلام ۴/ ۹۷.

۱۰۲ لزمخشري، الکشاف عن حقائق التنزیل وعیون الأقاویل في وجوه التأویل، تحقیق محمد الصادق قمحاوي، د.ط (مصر: شرکهٔ مکتبهٔ ومطبعهٔ مصطفی البابي الحلبي، ۱۳۹۲) ۲/ ۴۳۵.

۱۰۳ البیهقي، السنن الکبری ۹/ ۱۳۲ـ ۱۳۳، او ابن قدامهٔ، المغني ۸/ ۴۹۴. زحیلي وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې د ابوجهل د سر وروړلو په اړه کوم روایت راغلی، د دغه روایت په ثبوت کې علماوو اختلاف کړی دی خو راجح دا ده چې دغه روایت ثابت نه دی) آثارالحرب في الفقه الإسلامي مخ ۴۸۴..

۱۰٤ وګوره: محمد بن الحسن الشیباني، السیر الکبیر۱/ ۷۹. والبیهقي، السنن الکبری ۹/ ۱۳۲.

۱۰٥ البیهقي، السنن الکبری ۹/ ۱۳۲.

۱۰٦ وګوره: إسماعیل أبوشریعهٔ، نظریهٔ الحرب في الإسلام، لومړی (الکویت: مکتبهٔ الفلاح ۱۴۰۱) مخ ۵۲۰.

کړي[۱۰۷] او په ځینو نصوصو کې داسې څه راغلي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا د کفارو د جسدونو پر پټولو او په ډاګ نه پرېښودلو دلالت کوي. د بدر په غزا کې رسول الله صلی الله علیه وسلم امر وکړ، چې د کفارو جسدونه هلته په بدر کې یوې څاه ته کش کړل شي، او کله چې هغه څاه ته د امیه بن خلف د جسد په کش کولو و نه توانېدل؛ نو هملته پټ کړل شو او په بیابان کې وحشي او ځیروونکو ځناورو ته پرېنښودل شو[۱۰۸]. او کله به چې هم په کوم جسد تېرېده، د پټولو امر به یې کاوه، پرته له دې چې د هغه د دین په اړه پوښتنه وکړي، یعلی بن مره ویلي دي: «له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مې څو ځلې سفر کړی، خو چې کله به هم د کوم انسان په جسد تېرېده د هغه د ښخولو امر به یې کاوه، هغه به که مسلمان و او که کافر»[۱۰۹]. د دغو نصوصو ټولګې ته په کتو ویلی شو، چې اسلام د دښمن د وژل شویو پټول د هغه د انسانیت د درناوي په موخه واجب ګرځولي دي، او وروسته حساب یې بیا له الله سره دی[۱۱۰].

دا د انسان لپاره د عملي درناوي یو حقیقت دی، هغه که مړ وي او که ژوندی، پرته له دې چې په دغه کرامت کې دې د دین، عقیدې او یا بل کوم لامل له کبله هغه ته زیان ورسیږي.

## څلورم: د ملکي وګړو حقوق[۱۱۱]

له څوارلسو پېړیو راهیسې اسلام د جنګیالیو او نورو سوله غوښتونکو ملکیانو ترمنځ توپیر په ګوته کړی، د نظامي او ملکي بنسټونو ترمنځ یې توپیر بیان کړی، اسلام د خپلو شرعي نصوصو او عملي تطبیق له مخې د هغوی او د دوی ترمنځ فرق کړی دی، له تېري او زیان رسونې څخه یې د سوله غوښتونکو ملکي وګړو ساتنه واجب ګرځولې ده، الله جل جلاله ویلي دي: ﴿ قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ﴾[۱۱۲].

۱۰۷ وګوره: أبو الخير أحمد عطية، حماية السكان المدنيين والأعيان المدنية إبان الحرب مخ ۱۰۷.
۱۰۸ وګوره: ابن هشام، السيرة النبوية تحقيق عادل أحمد عبدالموجود او ملګری یې، لومړی چاپ (الرياض: مكتبة العبيكان ۱۴۱۸) ۱/ ۲۳۰.
۱۰۹ الدارقطني، سنن الدارقطني، پر الدارقطني د المغني له تعليق سره چاپ شوی ۴/ ۱۱۶ كتاب السير شمېره ۴۱.
۱۱۰ وګوره: إسماعيل أبوشريعة، نظرية الحرب في الإسلام مخ ۵۱۴.
۱۱۱ ملکیان ټولو هغو خلکو ته ویل کیږي چې صورتا او معنا له بدني یا عرفي اړخه په جنګ کې برخه نه لري لکه ښځې، ماشومان، استازي او نور ټول هغه خلک چې عسکري او جنګي فعالیتونه نه لري، وګوره: حسن أبوغدة، قضايا فقهية في العلاقات الدولية مخ ۲۶۹.
۱۱۲ د البقرة سورت، آیت شمېر (۱۹۰).

**ژباړه:** او د الله په لار کې له هغو کسانو سره وجنګېږئ چې له تاسو سره جنګیږي او له بریده مه اوړئ، بې شکه الله له بریده اوښتونکي نه خوښوي.

ابن عربي رحمه الله دغه آیت په خپله وینا داسې تفسیروي، چې جګړه به یوازې له هغو بالغو نارینه وو سره کیږي چې په جنګ کې ګډون لري، ښځې، ماشومان او راهبان به نه وژل کیږي[۱۱۳]. او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه د الله جل جلاله د دغې وینا ﴿ وَلَاتَعْتَدُوا ﴾ په اړه روایت شوی چې وایي: «ښځې، ماشومان او زاړه مه وژنئ» [۱۱٤]. چې د دغو خلکو په حکم کې ړانده، راهبان (مذهبي خلک)، کروندګر او نور هم راځي[۱۱۵].

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپارښتنه هغو مسلمانو جنګیالیو ته چې د دښمن پر وړاندې جګړې ته به یې لېږل په دې خبره ټینګار کول و، چې د جنګیالیو او ملکیانو ترمنځ به توپیر کوئ، له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: ﴿ انْطَلِقُوا بِاسْمِ اللَّهِ وَبِاللَّهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ، وَلَا تَقْتُلُوا شَيْخًا فَانِيًا وَلَا طِفْلًا وَلَا صَغِيرًا وَلَا امْرَأَةً ولا تَغُلّوا، وضُمّوا غَنائمَكُم، وأَصلِحوا وأَحسِنوا، إنَّ اللهَ يُحِبُّ المُحسِنينَ ﴾.

**ژباړه:** د الله په نوم، د الله په بروسه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاره سم (جهاد ته) لاړ شئ، فاني بوډا، ماشوم، نابالغ او ښځه مه وژنئ، له غنیمته غلا مه کوئ، ولجې مو راټولې کړئ، سمون راولئ او ښېګڼه کوئ، له شک پرته الله ښېګڼه کوونکي خوښوي.

دلته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه مبارکه سپارښتنه کې وینو چې د دریو ډلو خلکو د وژلو پر نه جواز یې ټینګار کړی دی او په لاندې ډول دي:

**۱ـ عمر خوړلی بوډا.**
**۲ـ وړوکی ماشوم.**
**۳ـ ښځه.**

۱۱۳ ګوره: ابن العربي، أحکام القرآن ۱/ ۱۰۴.
۱۱٤ ابن قدامۀ، المغني ۸/ ۴۷۷.
۱۱۵ وګوره: ابن قدامۀ، المغني ۸/ ۴۷۷ـ ۴۷۹. او د هغوی له وژلو دغه ممانعت هغه مهال دی چې هغوی په جګړه کې برخه و نه لري، خو که هغوی جګړه کوله؛ نو بیا هغوی له ملکیانو څخه نه دي، بلکې د جګړې عسکر ګڼل کیږي او د جنګیالیو حکم لري. محمد الحسن الشیباني، السیر الکبیر د السرخسي له شرحې سره چاپ شوی ۴/ ۱۸۷. او ابن قدامۀ المغني ۸/۴۷۸.

رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم وایـي: عمـر خوړلـی بـوډا، ماشـوم، نابالـغ او ښـځه مـه وژنـئ. لـه دغـو خلکـو څخـه پـه عسـکري عملیاتـو کې د ګډون تمـه نـه کیـږي. کلـه چې لـه جنګ څخـه د اسـلام موخـه د دښـمن لـه منځـه وړل نـه دي، بلکې اصلي لامـل يې د تېري مخنیـوی دی؛ نـو پـه کار نـه ده چې جګـړه لـه خپلـو اصلي لاملونـو ورتېـره شي. کلـه چې د د غـو خلکـو د وژلـو د نارواوالـي لامـل څرګنـد شـو، چې پـه جګـړه کې نـه ګډون دی؛ نـو لـه همـدې املـه هـر هغـه څـوک چې پـه هیـڅ ډول پـه جګـړه کې ګډون و نـه کـړي، پـه هغـو ملکیانـو کې شـمېرل کیـږي چې تـر دې معنـا لانـدې راځـي.

او د لښـکرو هغـو مشـرانو تـه د رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم پـه لارښـوونو کې د دې وصیـت مضمـون تکرارېـږي، چې غزاګانـو تـه بـه وتـل، رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم بـه هغـوی تـه تـل دا امـر کاوه، چې ښـځې، ماشـومان او د کلیسـاوو خلـک بـه نـه وژنـي، پـه دې اړه د رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم وینـا ابـن عبـاس رضـي اللـه عنهمـا داسې روایـت کـړې ده: ﴿ كَانَ رَسُـولُ اللـه صَـلَّى اللـه عَلَيـه وسَـلَّم إِذَا بَعَـثَ جُيُوشَـهُ، قَـالَ: اخْرُجُـوا بِاسْـمِ الله تعالـی، تُقَاتِلُـونَ مَـنْ كَفَـرَ بِاللـه، لاَ تَغْـدُرُوا، وَلاَ تَغُلُّـوا، وَلاَ تُمَثِّلُـوا، وَلاَ تَقْتُلُـوا الْوِلْـدَانَ، وَلاَ أَصْحَـابَ الصَّوَامِـعِ ﴾[١١٦].

**ژبـاړه:** رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم بـه چې کلـه خپـل لښـکر لېـږل، ورتـه ویـل بـه يې: د الله پـه نـوم ووځـئ، لـه هغـو خلکـو سـره وجنګېـږئ چې الله نـه مني، دوکـه مـه کـوئ، لـه غنیمـت څخـه غـلا مـه کـوئ، مـړي مـه بدشـکله کـوئ، ماشـومان او د کلیسـا والا مـه وژنـئ. او ابـن کعـب بـن مالـک لـه خپـل تـره څخـه روایـت کـوي وایـي: ﴿ أَنَّ النَّبِـيَّ - صَـلَّى اللَّـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ - حِـينَ بَعَـثَ إِلَى ابْـنِ أَبِي الْحَقِيـقِ بِخَيْـبَرَ نَهَـى عَـنْ قَتْلِ النِّسَـاءِ وَالصِّبْيَـانِ ﴾[١١٧].

**ژبـاړه:** کلـه چې نبـي صلـی اللـه علیـه وسـلم یـوه ډلـه انصـار پـه خیبـر کې د ابـن ابـي الحقیـق یهـودي وژلـو تـه ولېـږل، هغـوی يې د ښـځو او ماشـومانو لـه وژلـو څخـه منعـه کـړل. او لـه ابـن عمـر رضـي اللـه عنهمـا څخـه روایـت دی: ﴿ أَنَّ امْـرَأَةً وُجِـدَتْ فِي بَعْـضِ مَغَـازِي النَّبِـيِّ صَـلَّى اللـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ مَقْتُولَـةً، «فَأَنْكَـرَ رَسُـولُ اللَّـهِ صَـلَّى اللـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ قَتْـلَ النِّسَـاءِ وَالصِّبْيَـانِ ﴾[١١٨].

---

١١٦ الإمام أحمد، مسند الإمام أحمد تحقيق الدكتور عبدالله التركي او ملګرو يې لومړی چاپ (بیروت: مؤسسة الرسالة ١٤١٧) ٤٤٦١، شمېره (٢٧٢٨) محقق ویلي: دغه حدیث حسن لغیره دی.
١١٧ الإمام أحمد، مسند الإمام أحمد ٥٠٦/٣٩ شمېره ٢٤٠٠٩/ ٤/ ٤٦١، شمېره (٢٧٢٨) محقق حسن لغیره بللی دی.
١١٨ الإمام مسلم، صحیح مسلم ٣/ ١٣٦٤ شمېره (١٧٤٤)..

**ژباړه:** وایـي: د نبـي صلـی اللـه علیـه وسـلم پـه یـوه غـزا کې یـوه ښـځه وژل شـوې وموندل شـوه؛ نـو رسـول اللـه د ښـځو او ماشـومانو وژل بـد وګڼـل.

او د أحمـد پـه روایـت کې راغلي چې رسـول اللـه صلی اللـه علیـه وسـلم وویـل: دغـه ښـځه خـو نـه جنګېدلـه، بیـا یـې د ښـځو او ماشـومانو وژل منعـه کـړل(۱۱۹).

همدغـه یـې د نـه وژلـو لامـل و، ځکـه هغـې پـه جنـګ کې برخـه نـه اخیسـتله او څـوک چې پـه جنـګ کې برخـه نـه اخلي وژل یـې روا نـه دي.

او خالـد بـن ولیـد رضي اللـه عنـه تـه د رسـول اللـه صلی اللـه علیـه وسـلم پـه سپارښـتنه کې دي: ﴿ لَا تَقْتُـلْ ذُرِّيَّـةً وَلَا عَسِـيفًا ﴾(۱۲۰).

**ژباړه:** ماشومان او عسیف مه وژنه. «عسیف» کاریګر یا کروندګر ته ویل کېږي(۱۲۱).

دغـه سپارښـتنې د ښـځې، ماشـوم، عمـر خوړلي بـوډا او نـورو ملکیانـو پـه اړه د تېـري نـه کولـو ټینـګار کـوي، دا ټـول هغـه خلـک دي چې پـه جګـړه کې برخـه نـه اخلي او مـوږ وینـو چې یـوه بلـه ډلـه خلـک یـې هـم دغـه حکـم تـه ور زیـات کـړي او دا د هغـو خلکـو ډلـه ده چې رسـول اللـه صلی اللـه علیـه وسـلم پـه مخکینـي حدیث کې اشـاره ورتـه وکـړه او ویـې ویـل: «دوکـه مـه کـوئ، لـه غنیمتـه غـلا مـه کـوئ، مـړي مـه بدشـکله کـوئ، ماشـومان او د کلیسـا والا مـه وژنـئ»(۱۲۲).

لـه دغـې زیاتونـې څخـه موخـه کلیسـا والا دي، هغـه راهبـان چې خپـل ډېـر وخـت پـه کلیسـاوو او عبادتځایونـو کې تېـروي، او د ابوبکـر رضـي اللـه عنـه پـه سپارښـتنه کې راغلـي دي: «د یهودیانـو عبادتځـای مـه ورانـوئ»(۱۲۳).

لـه دغـې اشـارې څخـه دوه خبـرې پـه لاس راځـي: لومـړی دا چې اسـلام دغـه ډول خلکـو تـه درنـاوی لـري چې د عبادتځایونـو څښـتنان دي او هغـوی تـه او د هغـوی غونـدې نـورو عبـادت کوونکـو تـه لـه زیـان رسـولو څخـه یـې منعـه کـړې ده، چې پـه جګـړو کې برخـه نـه اخلي، دویـم دا چې د دغـو ځایونـو سـاتنه پـه څرګنـد ډول اړینـه ده او تـر څـو چې د نظامـي موخـو لپـاره نـه وي کارول شـوي، د جګـړو پـر مهـال ورتـه زیـان رسـول

۱۱۹ لإمام أحمد، مسند الإمام أحمد۱۰/ ۱۷۳شمېره ۵۹۵۹.
۱۲۰ ابن حبان، صحیح ابن حبان ۱۱/ ۱۱۲. والحاکم، المستدرك علی الصحیحین ۲/ ۱۳۳.
۱۲۱ القرطبي تفسیر القرطبي، دویم چاپ (القاهر: دارالشعب ۱۳۷۲) ۲/ ۳۴۹.
۱۲۲ الإمام أحمد، مسند الإمام أحمد تحقیق الدکتور عبدالله الترکي او ملګري یې لومړی چاپ (بیروت: مؤسسة الرسالة ۱۴۱۷) ۴/ ۴۶۱، شمېره (۲۷۲۸) محقق حسن لغیره بللی دی.
۱۲۳ أحمد بن حسین البیهقي، السنن الکبری. تحقیق محمد عبد القادر عطا (مکة المکرمة: دارالباز١٤١٤) ۹/ ۸۵.

روا نه دي. زما په اند دغه حکم فرهنګي ځایونو لکه کتابتونونو، علمي مرکزونو، ښوونځیو، پوهنتونونو او نورو ته شامل دی، چې دغه ټول به د عبادتځایونو غوندې وي او کټ مټ د عبادتځایونو حکم به ورکول کیږي، ځکه د حکم په علت، ګټو موخو او د کاروونکو په نوعیت کې سره یو دي.

همدغه سپارښتنې خلیفه ابوبکر رضي الله عنه خپلې کړې او کله یې چې یزید بن ابي سفیان رضي الله عنهما شام ته لېږه؛ نو هغه ته یې امر وکړ، چې ښځې، ماشومان او راهبان تر هغه و نه وژني، څو یې ترې زیان نه وي لیدلی[۱۲٤].

همدارنګه په سپارښتنه کې راغلي: ﴿ وَسَتَجِدُونَ أَقْوَامًا حَبَسُوا أَنْفُسَهُمْ فِي الصَّوَامِعِ فَدَعُوهُمْ وَمَا حَبَسُوا أَنْفُسَهُمْ لَهُ ﴾[۱۲٥].

**ژباړه:** تاسو به داسې خلک ومومئ چې ځانونه به یې په عبادت ځایونو کې بند کړي وي؛ نو هغوی همغه څه ته پرېږدئ چې ځانونه یې ورته بند کړي دي.

ښکاره خبره ده چې هغه مهال په شام کې د یهودیانو هیکلونو، د راهبانو کلیساوو او هغو عبادتځایونو شتون درلود، چې خلک به په کې د عبادت لپاره پاتې کېدل؛ نو خپلو قوماندانانو ته د ابوبکر رضي الله عنه سپارښتنه له هغوی سره د ښېګڼې وه، ځکه هغوی په نظري او عملي توګه په وژلو کې برخه نه لرله. د همدې خبرې پر بنسټ د راهبانو او کلیساوو د څښتنانو وژل یو ناروا تېری دی، لکه څنګه چې ابن کثیر ورته په خپل تفسیر کې اشاره کړې ده[۱۲٦].

همدا راز شام ته د یزید بن ابي سفیان د لېږلو پر مهال د ابوبکر رضي الله عنه په سپارښتنه کې دا ټکي هم وو: «ماشوم، ښځه، عمر خوړلی بوډا، ناروغ او راهب مه وژنئ، مېوه لرونکې ونه مه پرې کوئ، ودانۍ مه ورانوئ، له خوراکي اړتیا پرته اوښ او غوا مه ذبح کوئ او د شاتو مچۍ مه ډوبوئ او مه یې سوزوئ»[۱۲۷].

نو دلته موږ وینو چې د ابوبکر رضي الله عنه سپارښتنه د مېوه لرونکو ونو پرې کول، د آبادیو ورانول، له خوراکي اړتیا پرته د حلالو څارویو ذبح کول او همدارنګه د شاتو د مچیو ډوبول ټول منعه کړي دي[۱۲۸]. دا یوه داسې سپارښتنه ده چې

۱۲٤ وګوره: ابن العربي، أحکام القرآن ۱/ ۱۰۴.
۱۲٥ البیهقي، السنن الکبری (بیروت: دارالفکر د.ت)۹/ ۸٥.
۱۲٦ ابن کثیر، تفسیر ابن کثیر د. ط (بیروت: دار الفکر ۱۴۰۱) ۱/ ۲۲۷.
۱۲۷ البیهقي، السنن الکبری ۹/ ۹۰.
۱۲۸ په ځینو روایتونو کې د النحل (مچیو) پر ځای النخل یعني د خرما ونې راغلې دي.

ملکي تاسیساتو او ملکي خدمتونو ته په پاملرنه دلالت کوي، او د دښمن د هغو مالونو د له منځه وړلو په اړه د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی، چې په جګړه کې نه کارول کیږي(۱۲۹). ابن قدامه رحمه الله ونې او کروندې دریو ډولونو ته وېشلې دي: لومړی هغه ونې او کښتونه چې دښمن په کې پټیږي، ځان په کې ساتي او داسې نور چې پاتې کېدل یې له نظامي پلوه د دښمن په ګټه دي؛ نو پرې کول یې پرته له اختلافه روا دي، ځکه په جګړه ییزو موخو کې ترې ګټه اخیستل کیږي، دویم ډول هغه دي چې پرېښودل یې د مسلمانانو په ګټه وي او پرې کول یې عام رواج هم نه وي؛ نو د دا ډول ونو او کښتونو له منځه وړل روا نه دي، درېیم ډول له دې دواړو پرته نورې ونې او کروندې دي، چې په پرې کولو کې یې د کافرانو له غوسه کولو پرته بله ګټه نه شته؛ د هغو په اړه دوه روایتونه دي(۱۳۰) او په دغه مسئله کې یوه رایه همدا ده چې یوه ډله د دښمن د جامدو مالونو او ځارویو ترمنځ توپیر کوي او یوازې د لومړي ډول جامدو مالونو له منځه وړل یې روا بللي دي، او بله ډله د دښمن د کمزوري کولو او غوسه کولو په موخه د هغو مالونو له منځه وړل هم روا بولي چې په جګړه کې نه کارول کیږي(۱۳۱).

دغه تفصیل هماغه د ملکي او جنګیالي وګړي او د نظامي او ملکي موخې ترمنځ د توپیر په څېر دي، ایا ته د ابوبکر رضي الله عنه په سپارښتنه کې د مېوه لرونکو ونو له پرې کولو، د آبادیو له ورانولو، د شاتو د مچیو له غرقولو یا سوځولو څخه منعه نه وینې ؛ نو په اسلام کې د همدې خبرې په پیروۍ پر ملکي خلکو وسله وراړول او وژل یې روا نه دي. همدارنګه د یو شمېر فقهاوو په اند له هغه څه پرته چې ابن قدامه مخکې بیان کړل د نورو ملکي تاسیساتو او موخو نړول روا نه دي او که څوک دغه کار کوي؛ نو د دغو فقهاوو په اند به د هغو تیري کوونکو له ډلې څخه وي چې الله جل جلاله د آیت په پای کې بیان کړي او ویلي یې دي: ﴿ وَلَا تَعْتَـدُوا إِنَّ اللَّـهَ لَا يُحِـبُّ الْمُعْتَدِيـنَ ﴾.

**ژباړه:** له بریده مه اوړئ، له شک پرته الله له بریده اوښتونکي نه خوښوي.

له همدې امله د ونو سوځول او له مصلحت پرته د ځارویو وژل، له بریده اوښتل دي(۱۳۲). لکه څنګه چې دغه خبره له هغه عدالت څخه هم لرې ده چې الله جل

۱۲۹ وګوره: حسن أبوغدة، قضايا فقهية في العلاقات الدولية، لومړی چاپ (الرياض: مكتبة العبيكان ۱۴۲۰) مخ ۲۵.
۱۳۰ وګوره: ابن قدامه، المغني ۸/ ۴۵۳ـ ۴۵۴.
۱۳۱ وګوره: حسن أبوغدة، قضايا فقهية في العلاقات الدولية مخ ۷۳.
۱۳۲ وګوره: ابن كثير، تفسير ابن كثير د. ط (بيروت: دارالفكر۱۴۰۱) ۱/ ۲۲۷. دغه تفسير له ابن عباس، عمر بن

جلاله يې امر کړی او ويلي يې دي: ﴿ قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ ﴾[۱۳۳].

**ژباړه:** (ای رسوله!) ووايه ما ته مې پالونکي پر عدالت امر کړی. نو د ملکيانو پر وړاندې حملې او عسکري بريدونه عدالت نه دی. خو دا چې دغه ملکي تن کافر دی؛ نو کفر يوه داسې مسئله ده چې تر بنده او خپل پالونکي پورې يې اړه لري او د داسې کړنې سزا د قيامت په ورځ له الله سره ده[۱۳٤].

د وژلو موخه د جګړې فتنه له منځه وړل دي او دا موخه په نه جنګېدونکي بوډا، راهب، ښځې، ماشوم او داسې نورو کې شتون نه لري.[۱۳٥]. د همدغو نصوصو او سپارښتنو په پيروۍ د ښځو، ماشومانو، راهبانو، بوډاګانو او هر هغه چا وژل روا نه دي، چې د جګړې له توان سره له جګړې ګوښه شي،[۱۳٦] ځکه دغه ممانعت راهبانو او ښځو ته شامل دی او په دوی کې داسې څوک شته چې د جګړې توان لري، خو کله چې له جګړې ګوښه شول او په رايه او مرسته يې په کې برخه وانخيسته؛ نو د هغو ولسي خلکو له ډلې شول، چې اسلام يې د جګړې پر مهال د حقوقو ساتنه کړې ده؛ نو مسلمان قومندان او لښکر ته يې روا نه ده چې د جګړې پر مهال د دښمن ولسي وګړي له ځان سره په جګړه کې ښکېل کړي.

لکه څنګه چې دغه ممانعت عبادتځايونو، فرهنګي مرکزونو، ښوونځيو او نورو ته شامل دی، او د همدې خبرې پلي کېدل موږ د صحابه وو رضي الله عنهم په غزاګانو کې وينو، کله يې چې شام فتح کړ؛ نو کليساوې او عبادتځايونه يې خپلو څښتنانو ته پرېښودل او مسلمانانو ورته نه د جګړې پر مهال او نه وروسته کوم زيان ورساوه.

---

عبدالعزيز، له مقاتل او نورو څخه را نقل شوی دی.

۱۳۳ د الأعراف سورت، آيت شمېره (۲۹).

۱۳٤ وګوره: السرخسي، شرح کتاب السير الکبير ۴/ ۱۸۶.

۱۳٥ وګوره: السرخسي، شرح کتاب السير الکبير ۴/ ۱۸۶.

۱۳٦ وګوره: الإمام مالك، المدونة تحقيق السيد عبدالرحمن الهاشم (د عربي اماراتو د رئيس شيخ زايد پر لګښت چاپ شوی ۱۴۲۲) ۳/ ۱۳.

# دویم مبحث

## په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون تطبیقات

(د بدر غزا د بېلګې په توګه)

د سولې یا جنګ په حالت کې د داسې اصولو بنسټ ایښودل چې موخه یې د عدالت رامنځته کول وي، ستونزمن کار نه دی، خو د دغو اصولو پلي کول او په کار اچول او قانوني چلن او برلاسي عمل خوا ته د هغو د مضامینو او نصوصو اړول په رښتیا یو ستونزمن کار دی، په ځانګړي ډول د جنګ په ډګر کې، ځکه کېدای شي هلته ډېر ژر دغه ښکلي قوانین او ستایل شوي ارزښتونه هېر او د ځنګل قانون حاکم شي او هغه مهال بیا د برلاسي ځواک له خوا د مغلوب لپاره تباهي وي.

دلته له دې هاخوا راته ښکاري چې یوازې د نظریې پر وړاندې کولو بسنه و نه کړم، بلکې د هغو مقدمو تطبیقي بېلګه هم وړاندې کړم چې په اسلام کې مې د نړیوال بشرپال قانون اړوند اشاره ورته وکړه، او هغه د یوې داسې عسکري پېښې په وړاندې کولو سره چې مسلمانان له خپل دښمن سره په یوه داسې تباه کوونکې جګړه کې مخ کیږي چې هغه د مسمانانو په بریا او د دښمن په ماتې پای ته رسیږي، له دغې وینې تویوونکې جګړې وروسته راځئ وپوښتو!!.

د تطبیق په ډګر کې د مخکینۍ نظریې اصل څه دی؟

یوه داسې پوښتنه وړاندې کوم، بیا یې ځواب عملي بېلګې او داسې ژوندي انځور ته پرېږدم چې هغه په جنګ کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د انساني کړنلارې له انځورونو څخه غوره کړل شوی انځور نه دی.

دغه ځواب په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون د پلي کېدو له کچې څخه خبره کوي معنا دا چې هغه حقوق وړاندې کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو غزاګانو په ترڅ کې پلي کړي او د بدر غزا یې یوه بېلګه ده.

خو د بدر د غزا او په هغې کې د پېښو شویو حالاتو په اړه له څه ویلو مخکې، اجازه راکړئ چې له ځانه داسې یوه پوښتنه وکړم، چې لوستونکی یې هم ښایي مطرح کړي او زه یې ځواب کړم! هغه دا چې ولې مې د بدر غزا د خبرو لپاره غوره کړه؟

د بدر غزا مې د خبرو لپاره د لاندې لاملونو له کبله غوره کړه:

**۱ـ** د بدر غزا د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د قریشو د کافرانو ترمنځ تر ټولو لومړۍ جګړه وه. بل دا چې هغه په اسلام کې د نړیوال بشرپال قانون لومړنۍ عملي ازموینه وه، د نظریې په ډګر کې له اوږد ژوند وروسته د تطبیق په ډګر کې دا لومړني مخامخ کېدل و.

**۲ـ** دغـه پېښـه د قریشـو د کافرانـو لـه خـوا لـه رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم او د هغـه ملګـرو سـره لـه سـختې دښـمنۍ او هغـوی تـه لـه ازار رسـولو وروسـته رامنځتـه شـوه؛ نـو لـه عـادت سـره سـم تمـه دا کېـده چې د هغـه برلاسي لښـکر د زړه یخولـو او غـچ اخیسـتلو کچـه بـه ډېـره لـوړه وي کـوم چې مخکې مغلـوب او مظلـوم او حقـوق یـې پایمـال شـوي وو!!.

**۳ـ** پـه دې غـزا کې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم د خپلـو دښـمنانو پـه وړانـدې څرګنـده بریـا ترلاسـه کـړه.

**۴ـ** پـه دې غـزا کې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم لـه بریـا وروسـته زیـات شـمېر بندیـان ونیـول.

کېـدای شـي د پېښـې شـوې جګـړې انځـور وړانـدې کـول د موضـوع پـه اړه لا زیاتـه روښـنایي او څرګنـد تصـور وړانـدې کـړي:

رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم تـه پـه مکـه کې نبـوت ورکـړل شـو، نـو خلـک یـې اللـه او د هغـه یووالي تـه رابلـل، لـه شـرک، نـاروا، نـاوړه او بـدو اخلاقـو یـې خلـک منعـه کـول، د قریشـو د ډېـرو مشـرانو لـه خـوا لـه لفظي او فزیکي ځورونـې سـره مـخ شـو، بیـا یـې د هغـه پیـروان دومـره وکـړول چې ځینـې یـې مـړه شـول، او ځینـې نـور د دیني ازادۍ پـه لټـه کې حبشـې تـه پـه هجـرت کولـو اړ شـول، څـو وتوانېـږي پـه ډاډ خپـل دینـي شـعایر ترسـره کـړي، د کفـارو لـه خـوا د مسـلمانانو د ځورونـې دوام تـه پـه کتـو یـوه بلـه ډلـه صحابـه هـم د هغـوی پـه پیـروۍ حبشـې تـه مهاجـر شـول، او بیـا رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم او د هغـه ملګـرو تـه د پرلـه پسـې ازار رسـېدو لـه املـه رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم خپلـو ملګـرو تـه د مدینـې پـر لـور د هجـرت اجـازه ورکـړه، بیـا رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم پـه خپلـه او پاتې صحابـه وو هـم مدینـې تـه هجـرت وکـړ او خپلې ځمکې او شـتمنۍ یـې پرېښـودې چې کافرانـو لـوټ کـړې.

کلـه چې کافـران د هغـه لـه هجـرت څخـه خبـر شـول وریـې شـول او د هغـه چـا لپـاره یـې ارزښـتناکې جائـزې وټاکلې چې هغـه ژونـدی یـا مـړ دوی تـه راوړي، خـو کلـه چې مدینـې تـه پـه سـلامتیا سـره د هغـه لـه رسـېدو خبـر شـول، بیـا یـې هـم پرېنښـود، بلکې ورسـره وجنګېـدل، چې د هغـوی ترمنـځ ځینـې نظامـي نښـتې وشـوې، تـر دې چې لـه هجرتـه دوه کالـه وروسـته د مکې او مدینـې ترمنـځ پـه لاره کې د بـدر پـه سـیمه کې د هغـوی ترمنـځ د بـدر غـزا وشـوه. پـه دې غـزا کې د کفـارو شـمېر شـاوخوا زر (۱۰۰۰) او

د مسلمانانو شمېر یوازې درې سوه او څوارلس (۳۱۴) تنه و، دغه جګړه د کفارو په ماتې، د اویا تنو په مرګ او اویا نورو په بندي کېدو پای ته ورسېده.

## د بدر په غزا کې انساني موقفونه

د بدر د غزا له دې لنډ شالید وروسته، د غزا له هغو دوو اړخونو سره تم کېږم چې دواړه یې د انسانیت پر پاتې نورو اړخونو دلالت کوي:

لومړی اړخ یې له خپل لښکر سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د چلن اړوند دی او دویم اړخ بیا له بندیانو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په چلن پورې اړه لري، نور اړخونه یې پرېږدم، چې د لوستونکي لپاره خبره اوږده نه کړم، ځکه موخه په بېلګه وړاندې کولو سره ثابتیږي او په بېلګه کې هغه څه وي چې په ورته شیانو دلالت کوي:

## لومړی: هغه بشري اړخونه چې له خپل لښکر سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په چلن پورې تړاو لري:

**۱ـ** رسول الله صلی الله علیه وسلم به له خپل لښکر سره داسې چلن کاوه لکه د هغوی په څېر یو عادي وګړی چې وي، د هغه او د لښکر ترمنځ به یې توپیر نه و، او پر دې خبره په دې غزا کې عملي دلیل دی، درې سوه او څوارلس تنه لښکر ووت، چې یوازې دوه آسان او اویا اوښان ورسره وو، په نوبت به پرې سپرېدل، تر لږ ځایه به یو سپور و، بیا به هغه کوزېده او بل به سپرېده، ځکه هغه سپرلۍ کمې وې چې سپرلي به پرې کېدله، رسول الله صلی الله علیه وسلم، علي بن ابي طالب او مرثد بن ابي مرثد غنوي درې واړه په یوه اوښ په خپل نوبت سپرېدل[۱۳۷]؛ نو کله چې هغوی دواړو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل موږ ستا پر ځای په پښو تګ کوو؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: «مَا أَنْتُمَا بِأَقْوَى مِنِّي، وَلَا أَنَا بِأَغْنَى عَنِ الْأَجْرِ مِنْكُمَا»[۱۳۸].

**ژباړه:** نه تاسو تر ما پیاوړي یاست او نه زه ستاسو په پرتله له ثوابه ډېر بې پروا یم. سره له دې چې په دغه وخت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر پنځه پنځوس او د علي رضي الله عنه عمر پنځه ویشت کاله و، خو بیا هم دواړه په نوبت په یوه اوښ سپرېدل. له مشر سره د بشر د حقوقو د درناوی دلیل له لښکر سره د

۱۳۷ ابن القیم، زادالمعاد، ۳/ ۱۷۱.
۱۳۸ أخرجه الحاکم في المستدرك وصححه ووافقه الذهبي، ۳/ ۲۰، وګوره: هامش زادالمعاد ۳/ ۱۷۱.

هغه عاجزي ده، د بشر پر حقوقو تېری د یو چا له عقلي غرور او پر خپل لښکر د ځان له لوړ ګڼلو څخه پیلېږي، چې پر یو تن ظلم کوي او د بل کرامت تر پښو لاندې کوي، تر دې چې عسکر د خپلو مشرانو د ظلم په نتیجه کې د فرصت په موندلو سره خپله غوسه له دښمن څخه په نیول شویو بندیانو سړوي. او کله چې د لښکر مشر متواضع وي د بشر د حقوقو درناوی په تر ټولو لوړه کچه وي او کوم مشر چې له خپلو عسکرو سره د دغه تواضع او د حقوقو د درناوي پر بنسټ چلن کوي، هغه هرومرو په زړونو کې د انسان د درناوي یوه ژوره روزنه کوي او دا هغه څه دي، چې په جګړه کې د مقابل لوري له خلکو سره د ده د لښکر په چلن کې جوتېږي.

**۲ـ** د بدر په غزا کې د مشورې او د بل د نظر د درناوي اصل هم په ډاګه شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپلو ملګرو ته ویل: «أَشِيرُوا عَلَيَّ أَيُّهَا النَّاسُ» ژباړه: ای خلکو مشوره راکړئ. تر دې چې مهاجرینو او د اوس او خزرج خلکو خبرې وکړې، حباب بن منذر او پر هغوی سربېره نورو کسانو خبرې وکړې. همدارنګه به رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو لښکرو له وړاندیزونو سره سم په خپل نظامي سیاست کې بدلون راوسته، له هغه سره به چې هر څوک و، د خپل انسانیت او خپلې رایې د درناوي احساس به یې کاوه، دې خبرې ته به هڅول کېده چې ځان سپک و نه ګڼي او دا احساس به یې کاوه چې په دغه لښکر کې هغه یا د بدني یا عقلي پیاوړتیا له امله ځانګړی ځای لري او په اوسني وخت کې ډېر کم وینو چې یو څوک دې خپلو سرتېرو ته داسې مقام ورکړي.

په اوسني وخت کې نظامي مشران خپلو سرتېرو ته د خبرو فرصت لا نه ورکوي، دا خو پرېږده چې دا خبرې اغېز ولري، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم به خبرې اورېدلې او غوښتلې، د رایې درناوی به یې کاوه او بیا به یې په خپل سیاست کې بدلون راوسته، دغه مهال بل لوری احساسوي چې رایه یې محترمه ده، اورېدل کیږي او اغېز لري، د رایې ازادي دې ته نه ویل کیږي چې یو څوک دې یوازې خبرې وکړای شي، بلکې د رایې ازادي دا ده چې ته یو داسې څوک ومومې چې خبره دې واوري، د رایې درناوی دې وکړي او عمل پرې وکړي[۱۳۹].

کوم عسکر چې د جګړې په ډګر کې په دغه صفت را لوی شي، دا ډول روزنه ترلاسه کړي، د بل رایې ته د درناوي د اصل په خپلولو ځان عادت کړي او اختلاف ته احترام ولري، هرومرو به وینې چې هغوی به له داسې اصولو څخه برخمن وي چې

۱۳۹ وګوره: محمد الطاهر بن عاشور، مقاصد الشريعة الإسلامية مخ۱۲۷.

د هغو ساتنه به کوي او پاملرنه به ورته کوي، بل ته به د هغه حق ورکوي او تېرى به پرې نه کوي که څه هم په رايه او اصل کې ورسره مخالفت ولري.

**۳ـ** د بدر غزا د صفونو د برابرولو په ترخ کې يو بل داسې موقف روښانه کيږي، چې د خپل لښکر په خوشحالولو، د عدالت په پلي کولو، د حق په پر ځاى کولو – که څه هم د خپل ځان په مقابل کې وي– او خپل يوه سرتېري ته له مشر څخه د غچ اخيستلو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حرص اندازه ترې څرګندېږي، هغه داسې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په سواد بن غزيۀ رضي الله عنه په داسې حال کې تېر شو چې هغه له صف څخه وتلى و، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپته په لرګي وواهه او ويې ويل: نېغ شه سواده! هغه ورته وويل: خوږ دې کړم د الله رسوله! حال دا چې ته الله په حقه رالېږلى يې؛ نو ما ته له خپل ځان څخه د قصاص اخيستلو فرصت راکړه، رسول الله صلى الله عليه وسلم خپله مبارکه خېټه ورته لوڅه کړه او ويې ويل: قصاص دې واخله، سواد ورغاړې ووت او خېټه يې ورښکل کړه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: ولې دې داسې وکړل سواده؟ ويې ويل: د الله رسوله! ګورې چې څه روان دي يعني د مرګ او شهادت ځاى دى؛ نو ومې غوښتل چې په وروستي حالت کې مې بدن ستا له بدن سره لګېدلى وي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته د خير دعا او ښې خبرې وکړې[١٤٠].

هغه شخص چې د خپل يوه سرتېري د داسې نااشنا غوښتنې هرکلى کوي او له ځان څخه د قصاص اخيستلو فرصت ورکوي، هغه به هيڅکله ونه وينې چې د خپلو عسکرو يا دښمنانو پر کوم بشري حق تېرى وکړي. دغه عسکر چې د خپل مشر له خوا په خپلو سترګو د عدالت دغسې درناوى او لوړه درجه ويني چې په عملي توګه پر مشر پلى کيږي، هيڅکله به و نه وينې چې د خپلې بريا، د برلاسې د نشې او غلبې پر مهال د عدالت سپکاوى وکړي.

## دويم: هغه بشري اړخونه چې له بنديانو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم په چلن پورې تړاو لري:

**۱ـ** رسول الله صلى الله عليه وسلم وکولاى شول چې په جګړه کې اويا بنديان ونيسي، دغه خلک يوازې بنديان نه وو، بلکې په اوسنۍ اصطلاح جنګي مجرمين

١٤٠ ابن هشام، السيرة النبويۀ، ٢/ ٢٦٦ـ ٢٦٧، او ابن حجر، الإصابۀ، ٣/ ١٤٨.

وو[١٤١]. هغوی د رسول الله صلی الله په ازارولو، د هغه د وژلو په هڅه، له خپل ښار څخه په ویستلو او د یو شمېر صحابه وو په کړاو کې مخینه لرله، تر دې چې ځینې صحابه یوازې له دې امله په دې کړاو مړه شول، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دین یې منلی و. خو سره له دې چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم پر هغوی برلاسی شو او هغوی ورسره بندیان شول، یوازې له دوو کسانو پرته یې له دغو اویا بندیانو بل هیڅوک و نه واژه، چې هغه دوه کسان هم له جګړې مخکې د خپل ځانګړي چلن او تعامل له امله ووژل شول.

**۲ـ** رسول الله صلی الله علیه وسلم بندیانو ته ځانګړې پاملرنه وکړه، خپلو ملګرو ته یې وسپارل او په اړه یې ورته د ښېګڼې سپارښتنه وکړه، چې له شک پرته د بندیانو په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا سپارښتنه یوه هراړخیزه سپارښتنه او قانون دی چې هر ډول ښېګڼه په کې شته؛ لکه هستوګنځی، خواړه او چلن، چې په هر یوه کې نیمګړتیا د هغه چلن په ښېګڼه کې نیمګړتیا ده، چې سپارښتنه یې شوې ده.

د دې لپاره چې صحابه کرام رضي الله عنهم د بندیانو په ښه پالنه وتوانېږي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به بندیان په خپلو ملګرو وېشل، بیضاوي په خپل تفسیر کې وایي: «کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بندي راوړل شو؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به یو مسلمان ته سپاره او ورته ویل به یې: «ښېګڼه ورسره وکړه»»[١٤٢].

دا په دې معنا چې دغه بندیان له صحابه وو سره په کورونو کې اوسېدل[١٤٣] او کله به یې د هستوګنې ځای جومات و.

تاریخ د یو شمېر دغو بندیانو ګواهۍ لیکلې دي:

**لومړی:** ابو عزیز بن عمیر چې یو بندي و وایي: «له بدر څخه د راوستو پر مهال زه د انصارو له یوې ډلې سره وم؛ نو کله به چې هغوی ته غرمنۍ یا ماښامنۍ راوړل شوه، ما ته به یې ډوډۍ راکوله (چې دا ښه خواړه وو) او په خپله به یې خرماوې

١٤١ وګوره: الغزالي، فقه السيرة مخ ٢٣٧.
١٤٢ وګوره: البيضاوي، تفسير البيضاوي د محي الدين زاده له شرحې سره چاپ شوی، ۴/ ۵۸۸.
١٤٣ وګوره: الشامي، سبل الهدی والرشاد ۴/ ۹۹ـ ۱۰۰ هغه یادونه کړې چې د مؤمنانو مور سوده رضي الله عنها سهیل بن عمرو په کور کې ولید، چې د هغو بندیانو له ډلې څخه یو و کوم چې له بدر څخه راوستل شوي وو.
وګوره: الواقدي المغازي ۱/ ۱۱۸.

خوړلې، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته زموږ په اړه سپارښتنه کړې وه. که د هغوی د یوه تن لاس ته به کومه ټوټه ډوډۍ ورسېده؛ نو ما ته به یې راکوله، زه به ترې شرمېدلم، بېرته به مې ورکوله، خو هغه به بېرته ما ته راکوله او په خپله به یې لاس نه وروړ»(۱٤٤).

**دویم:** یو بل بندي ابو العاص بن الربیع وایي: «زه د انصارو په یوه ډله کې وم، الله دې له هغوی سره ښه وکړي، کله به چې موږ غرمنۍ یا ماښامنۍ خوړله، ما ته به یې ډوډۍ راکوله او په خپله به یې خرماوې خوړلې، ډوډۍ به ورسره کمه او خرما یې توښه وه، تر دې چې که د کوم یوه لاس ته به د ډوډۍ ټوټه ورسېده؛ نو ما ته به یې راکوله»(۱٤٥).

**درېیم:** ولید بن ولید بن مغیرة هم دې ته ورته خبره کوي او زیاتوي: موږ به یې په سپرلیو سپرولو او خپله به پلي تلل(۱٤٦)، معنا دا چې بندي به په سپرلۍ سپور و او صحابي به په خپلو پښو روان و.

دلته زموږ لپاره د بندیانو له خوا له دې شاهدۍ سره لېره دمه په کار ده، چې صحابه وو رضي الله عنهم به په ښو خوړو کې بندیانو ته لومړیتوب ورکاوه، نه یوازې دا چې هغوی به له بندیانو سره په خوړو کې برابر نه وو، بلکې له هغوی سره به چې غوره خواړه وو هغه به یې بندیانو ته ورکول او بې کاره به صحابه وو ته پاتې کېدل، بندیان به یې په سپرلیو سپرول او صحابه به په خپلو پښو تلل، دا کېدای شي هغه ځوک و نه مني چې د جنګونو پخوانی او اوسنی تاریخ لولي او پوهیږي چې څنګه په کې د بشر تر ټولو ادنا حقوق تر پښو لاندې کېدل، وینه یې په کې تویېده، عزت یې لوټل کېده، او په دغو جنګونو کې یې ټول حقوق له منځه تلل، دا خو پرېږده چې بندي دې داسې یو ځوک ومومي چې هغه ته خواړه یا پناه ورکړي، د هغه چا په اړه ستا ګومان څه دی، چې په خپل لاس کې په شته خوړو او سپرلۍ خپل بندي ته لومړیتوب ورکوي.

**۳ــ** عبدالرزاق په خپل مصنف کې د بندیانو په اړه د لوروینې یوه کیسه روایت کوي او وایي: «کله چې عباس د بدر په ورځ ونیول شو رسول الله صلی الله علیه وسلم

۱٤٤ وګوره: ابن هشام، السیرة النبویة، ۲/ ۲۸۸ الزرقاني د المواهب په شرح کې په ۱ ټوک ۵۳۸ مخ کې ویلي. (الحافظ الهیثمي وایي: اسناد یې حسن دی).
۱٤٥ الواقدي، المغازي ۱/ ۱۱۹.
۱٤٦ الواقدي، پخوانی اخځلیک.

یې زګېروی واورېد، په داسې حال کې چې په زولنو کې و، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه شپه ویده نه شو او خوب هم نه ورتله، د یو انصاري ورپام شو او ویې ویل: ای د الله رسوله! ته له شپې راهیسې نارامه یې، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: عباس زولنو دردمن کړی او دا ما ناکراره کوي، انصاري ورته وویل: ور نه شم چې زولنې یې سستې کړم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: که خوښه دې وي نو دا کار زما له خوا وکړه، نو انصاري ولاړ، زولنې یې سستې کړې، نو هغه ارام او کرار شو، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ویده شو»(۱۴۷).

دا له بندیانو سره د یو لښکر د مشر چلن و؛ نن ورځ خو مشر لا پرېږده، هغه عسکر چېرته دي، چې په زندانونو کې د بندیانو او د هغوی د حال په اړه فکر وکړي!!!!

**۴ـ** په دې غزا کې د انساني چلن له انځورونو یو انځور، د بندیانو پر لورانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم رحمت او زړه سوی و، آن تر دې چې د بندي پر لورانو د رحمت او لورینې له امله یې یو بندي له بدلې پرته ازاد کړ، واقدي د سعید بن مسیب په سند روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدر په غزا کې ابو عزه عمرو بن عبدالله بن عمیر الجمحي یو شاعر بندي ته امن ورکړ خو کله چې یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: زه پنځه لوڼې لرم او هیڅ نه لري؛ نو ای محمده! زما په ازادۍ پر هغوی صدقه وکړه؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم همداسې وکړل او ازاد یې کړ. (۱۴۸).

**۵ـ** سهیل بن عمرو د قریشو له مشرانو څخه و، کله چې پوه شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د قریشو قافلې نیولو ته وتلی دی؛ نو قریشو ته یې خطبه وړاندې کړه هغوی تېول یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مقابلې ته وهڅول، بیا چې کله په بدر کې د دواړو لښکرو ترمنځ نښته وشوه، دی هم ونیول شو، نو عمر بن خطاب رضي الله عنه وویل: ای د الله رسوله! غاښونه یې وباسه چې بیا ستا پر خلاف هیڅکله خطبه ور نه کړي، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: زه یې نه مثله کوم چې الله ما پرې مثله کړي که څه هم زه نبي یم، او کېدای شي داسې یو مقام ته ورسیږي چې بیا به یې بد نه ګڼې (۱۴۹).

۱۴۷ عبدالرزاق، المصنف ۵/ ۳۵۳.
۱۴۸ الواقدي، المغازي ۱/ ۱۱۰ـ ۱۱۱.
۱۴۹ الواقدي، المغازي۱/ ۱۰۷. او الشامي، سبل الهدی۴/ ۱۰۷.

چېرته دي ننني يا تر نن وړاندې جنګي قومندانان چې دا خبره وکړي ؟؟؟.

اوس خو له بريا سره سم د جنګي قومندانانو تر ټولو لومړی کار غچ اخيستل دي، په ځانګړي ډول له هغه چا چې خلک يې د دوی پر ضد پارولي وي، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم په عملي ډول بيانوي، که دښمن هر څومره په دښمنۍ کې سخت وي، هغه بيا هم انسان او له حقوقو برخمن دی، او له انساني پولو اوښتل روا نه دي؛ نو ازار او ځورونه يې نه شته، بلکې ــ لکه څنګه چې مخکې بيان شول ــ د انساني مرتبې درناوی او احترام بايد وشي، که څه هم دغه بندي د دښمن له هغو مشرانو څخه وي، چې له بندي کېدو مخکې يې د مسلمانانو پر خلاف خلک هڅولي وي.

د همدغه انساني کرامت له مخې، وينو چې فقهاوو د دښمن مثله کول منعه کړي دي[150]. زمخشري رحمه الله وايي: «د مثلې په حراموالي کې هيڅ اختلاف نه شته، او د منعې په اړه يې احاديث راغلي دي آن تر دې چې د داړونکي سپي مثله هم منعه ده[151].

**٦ــ** د بنديانو په اړه د رسول الله صلى الله عليه وسلم او مسلمانانو پاملرنه يوازې د هغوی تر اړتياوو پورې نه وه تړلې، بلکې موږ وينو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د بندي جامو ته هم پاملرنه کړې، په صحيح بخاري کې له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي: ﴿ لَـمَّا كَانَ يَـوْمَ بَـدْرٍ أُتِيَ بِالعَبَّـاسِ وَلَـمْ يَكُـنْ عَلَيْـهِ ثَـوْبٌ، «فَنَظَـرَ النَّبِـيُّ صَـلَّى اللـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ لَـهُ قَمِيصًـا، فَوَجَـدُوا قَمِيـصَ عَبْـدِ اللَّـهِ بْـنِ أُبَيٍّ يَقْـدُرُ عَلَيْـهِ، فَكَسَـاهُ النَّبِـيُّ صَـلَّى اللـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ إِيَّـاهُ، فَلِذَلِـكَ نَـزَعَ النَّبِـيُّ صَـلَّى اللـهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ قَمِيصَـهُ الَّـذِي أَلْبَسَـهُ ﴾[152].

**ژباړه:** کله چې د بدر په ورځ عباس راوستل شو، او د هغه جامې نه وې، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه لپاره کميس ولټاوه؛ نو هغوی د عبدالله بن ابی کميس پرې برابر ومونډ، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ورواغوست. نو له همدې امله بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه د کميس په بدل کې

١٥٠ الشافعي، الأم ٤/ ٢٤٥.
١٥١ الزمخشري، الكشاف عن حقائق التنزيل وعيون الأقاويل في وجوه التأويل، تحقيق محمد الصادق قمحاوي، د. ط (مصر: شركة مكتبة و مطبعة مصطفى البابي الحلبي، ١٣٩٢) ٢/ ٤٣٥.
١٥٢ البخاري، صحيح البخاري د ابن حجر له فتح الباري سره يوځای چاپ شوی ٦/ ١٤٤ حديث شمېره (٣٠٠٨) او ويل کيږي چې له همدې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم عبدالله بن أبي ته د هغه د مرګ په ورځ سره له دې چې له لويو منافقانو څخه و، خپل کميس ورکړ.

هغـه تـه خپـل کمیـس ور واغوسـت (د عبداللـه بـن ابـی لـه مـرګ وروسـته هغـه تـه د دغې ښـېګڼې پـه بـدل کې رسـول اللـه صلی اللـه علیـه وسـلم خپـل کمیـس ورکـړ چې کفـن یـې شـو).

لکـه څنګـه چې پـه نـورو روایتونـو کې راغلي چې رسـول اللـه صلی اللـه علیـه وسـلم ځینـو بندیانـو تـه خپـل جامـې ور اغوسـتې دي. [153].

**۷ـ** لـه بندیانـو سـره د ښـه انسـاني چلـن لـه مواقفـو څخـه یـو بـل موقـف واقـدي بیـان کـړی چې خالـد بـن هشـام بـن مغیـرة او أمیـۀ بـن أبـي حذیفـۀ بـن مغیـرة دواړه بندیـان وو او د ام سـلمۀ رضي اللـه عنهـا کـور تـه ننوتـل، څکـه چې خپلـوان یـې وو، کلـه چې هغـه تـرې خبـره شـوه، او د رسـول اللـه صلی اللـه علیـه وسـلم لټـون پسـې لاړه؛ نـو د عائشـې رضي اللـه عنهـا پـه کـور کې یـې ومونـد نـو ویـې ویـل: ای د اللـه رسـوله! زمـا د تـره زامـن غـواړي مـا کـره راوسـتل شي، زه یـې مېلمـه پالنـه وکـړم، سـرونه یـې ورغـوړ او جـږ وېښـته یـې ورټـول کـړم، او مـا نـه غوښـتل چې سـتا لـه اجـازې پرتـه دا کار وکـړم! رسـول اللـه صلی اللـه علیـه وسـلم ورتـه وویـل: زه لـه دغـو کارونـو څخـه هیـڅ هـم بـد نـه ګڼـم، لـه دغـو کارونـو دې چې څـه زړه غـواړي ترسـره یـې کـړه[154].

د بندیانـو عجیـب درنـاوی دی چې د مېلمنـو غونـدې چلـن ورسـره کیـږي، سـرونه یـې ږمنځیـږي او غوړیـږي، آیـا دې تـه ورتـه انسـاني چلـن بـه د جګـړې لـه کـوم بنـدي سـره ترسـره شـوی وي ؟؟؟!!!!.

**۸ـ** وروسـته لـه دې چې رسـول اللـه صلی اللـه علیـه وسـلم مدینې تـه ورسـېد او بندیـان هـم ورسـره وو؛ نـو مـوږ لـه جنګـي دښـمن سـره د انسـاني چلـن لـه انځورونـو څخـه یـو بـل انځـور وینـو، داسې چې د هـر بنـدي د امکاناتـو او وړتیـاوو خیـال یـې وسـاته، څـوک چې لـه هغـوی بـې وزلـه و، مـال یـې نـه درلـود، پرتـه لـه کومې بدلې یـې ازاد کـړ[155]، ځینـې یـې د هغـه د پـلار د درنـاوي پـه موخـه ازاد کـړل چې مسـلمان شـوی و، لکـه وهـب بـن عمیـر جمحـي، د پـلار اسـلام تـه یـې د درنـاوي لـه املـه ازاد کـړ. [156]، همدارنګـه ابـن کثیـر رحمـه اللـه وایـي: رسـول اللـه صلی اللـه علیـه وسـلم یـو شـمېر بندیـان پرتـه لـه بدلې څخـه ازاد کـړل، چې لـه هغـوی څخـه ابـو العـاص بـن ربیـع امـوي،

۱۵۳ وګوره:صالح الشثري، حقوق الأسرى في الإسلام (بحث منشور في موقع الإسلام اليوم بالانترنت) مخ ۷.
۱۵٤ وګوره: الشامي، سبل الهدى والرشاد ۴/ ۱۱۸.
۱۵۵ وګوره: الواقدي، المغازي ۱/ ۱۲۹ او ۱۳۸مخ.
۱۵٦ وګوره: الواقدي، المغازي۱/ ۱۲۷.

مطلب بن خطيب مخزومي او صيفي بن ابي رفاعۀ وو[١٥٧].

لکه څنګه چې د ځينو بنديانو ليک لوست زده وو؛ نو د هغوی د ازادۍ بدله يې دا وګرځوله چې هر بندي به لسو مسلمانو بچيانو ته ليک لوست ورښيي[١٥٨]. دغه ټول د بندي پر درناوي، معنوي لوړوالي او انساني درنښت دلالت کوي، هلته به که څه هم دغه تن بندي و، خو له بل اړخه به هغه د درنښت وړ محترم ښوونکی و، له بل پلوه دا خبره د اسلام له خوا د پوهې پر درناوي او د مسلمانانو ترمنځ د پوهې د خپراوي پر هڅو دلالت کوي.

خو که به کوم بندي شتمن و او توانايي به يې لرله؛ نو له هغه څخه به فديه اخيستل کېده، بلکې موږ وينو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له خپل بندي تره عباس څخه د نورو بنديانو په پرتله زيات مالي عوض واخيست، څو له هغه سره له دې امله تساهل ونه شي چې تره يې دی، که څه هم هغو خلکو چې عباس يې بندي کړی و، له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه وغوښتل چې له فديې پرته يې ازاد کړي، خو رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې ډډه وکړه او ويې ويل: يو درهم ور پرې نه ږدئ[١٥٩].

همدا عدالت او د انسان درناوی دی، چې پرته د خپلوۍ پالنې او پرديو خلکو له پامه غورځولو څخه پلی کېږي، موږ دلته وليدل، رسول الله صلی الله عليه وسلم له بې وزلو بنديانو سره څومره انساني او له رحم ډک چلن کوي، چې هغوی يې له هر ډول اجراءاتو او بدلې ورکولو څخه معاف کړل، خو بل لوري ته يې له خپل شتمن تره څخه زياته فديه او بدله وغوښتله[١٦٠].

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپلې دې کړنې راتلونکو خلکو ته په انصاف، عدل، رحم او انسانيت کې يوه بېلګه او نمونه وړاندې کوي، او الله جل جلاله يې په اړه ويلي دي: ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ ﴾[١٦١].

**ژباړه:** او ته مو د ټولو مخلوقاتو لپاره يوازې د رحمت په توګه لېږلی يې.

**٩ـ** د رسول الله صلی الله عليه وسلم د زړه سوي او لوروينې له مواقفو څخه يو بل

١٥٧ وګوره: ابن كثير، البدايۀ والنهايۀ، ٣/ ٣٢٨.
١٥٨ وګوره: الشامي، سبل الهدی والرشاد، ٤/ ١٠٤ـ ١٠٥.
١٥٩ وګوره: ابن كثير، البدايۀ والنهايۀ، ٣/ ٣٢٨.
١٦٠ وګوره: ابن كثير، البدايۀ والنهايۀ، ٣/ ٢٩٩.
١٦١ د الأنبياء سورت، آيت شمېره (١٠٧)

لـوی او لـه سـخا ډک موقـف هغـه دی، چـې کلـه د مکې خلکـو رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم تـه د خپلـو بندیانـو د ازادولـو لپـاره فدیـې او بدلې ولېږلې، د مصطفی صلی اللـه علیـه وسـلم لـور زینـب چـې پـه مکـه کـې وه د خپـل بنـدي شـوي مېـړه ابـو العـاص بـن الربیـع د فدیـې لپـاره خپـل هغـه هـار ولېـږه چـې مـور یـې خدیجـې رضـي اللـه عنهـا ورتـه لـه ابـو العـاص سـره د واده پـه شـپه ډالـۍ کـړی و؛ نـو کلـه چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم هغـه هـار ولیـد، زړه یـې ورتـه سـخت نـرم شـو او ویـې ویـل: کـه چېـرې د زینـب بنـدي ورتـه ازاد کـړئ او فدیـه یـې بېرتـه ورکـړئ، هغـوی وویـل: بیخـي سـمه ده ای د اللـه رسـوله! هغـوی همداسـې وکـړل بنـدي یـې ورتـه ازاد کـړ او د هغـې هـار یـې بېرتـه ولېـږه[۱۶۲].

پـه دې حالـت کـې څومـره لـوی انسـانیت، زړه سـوی او مهرباني ده او ډېـر کـم خلـک بـه داسې وي چـې دغـه کیسـه لولـي او د دغـه حالـت پـه غبرګـون کـې او پـر دغـې بـې وزلـه مېرمـن د زړه سـوي لـه املـه بـه یـې اوښـکې نـه بهیـږي، چـې د خپـل مېـړه د ازادۍ لپـاره یـې خپلـه تـر ټولـو ارزښـتناکه ډالـۍ د فدیـې پـه توګـه ولېږلـه، هغـه ډالـۍ چـې د خپلې وفـات شـوې مـور لـه خـوا د واده پـه شـپه ورکـړل شـوې وه، چـې دا پـه دې دلالـت کـوي چـې هغـې لـه دې پرتـه بـل څـه نـه لـرل؛ اړتیـا مجبـوره کـړه چـې د خپـل مېـړه د ازادۍ لپـاره هغـه ارزښـتناکه ډالـۍ د بدلې پـه ډول ولیـږي، چـې د خپلې مـور او لـه خپـل خاونـد سـره د یوځـای کېـدو یادونـه یـې ورتـازه کـول. کلـه چـې رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم دغـه هـار ولیـد، نـو أم المؤمنیـن خدیجـه رضـي اللـه عنهـا ور پـه یـاد شـوه، چـې پـه ژونـد او مـرګ یـې لـه هغـه سـره ځانګـړې مرتبـه درلـوده، د خپلې لورکـۍ حالـت هـم ور پـه زړه شـو، خپلې لـور تـه یـې ډېـر سـخت زړه نـرم شـو، خـو سـره لـه دې یـې هـم خپلـو ملګـرو تـه وړاندیـز وکـړ، چـې کـه د لـور هـار یـې ور واپـس کـړي او بنـدي شـوی مېـړه یـې ورتـه ازاد کـړي؛ نـو صحابـه وو رضـي اللـه عنهـم د رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم دغـه غوښـتنه ومنلـه.

**۱۰ـ** نضـر بـن الحـارث د قریشـو پـه کافرانـو کـې تـر ټولـو زیـات کینـه کـښ، ازاري، لـه بریـده اوښـتونکی او اسـلام او مسـلمانانو تـه بـد ویونکـی کافـر و، کلـه چـې د بـدر پـه غـزا کـې ونیـول شـو؛ نـو رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم هغـه وواژه، ځکـه هغـه پـه ازار رسـولو او هغـو جرایمـو کـې ډېـره مخینـه لرلـه چـې مخکـې لـه جګـړې یـې د اسـلام او مسـلمانانو پـر ضـد ترسـره کـړي وو، سـره لـه دې چـې کلـه د دغـه کافـر خـور د خپـل

۱۶۲ أبوداود، سنن أبي داود، کتاب الجهاد، باب في فداء الأسیر بالمال۳/ ٦۲ حدیث شمېره (۲۶۹۲. او وګوره: الشامي، سبل الهدی والرشاد ۴/ ۱۰۸ او الواقدي، المغازي۱/ ۱۳۰ــ ۱۳۱.

ورور لـه وژل کېدو خبـره شـوه؛ نـو يـوه قصيـده يـې ورپسـې وويلـه، روايـت دی چې کله رسـول الله صلی الله عليـه وسـلم تـه دغـه قصيـده ورسـېده، ويـې ويـل: «کـه دا قصيـده مـا تـه د ده لـه وژنې مخکې رسـېدلې وای؛ نـو احسـان بـه مـې پـرې کـړی وای، يعنـي معـاف کـړی او ازاد کـړی بـه مـې وای»(١٦٣).

د دغې مهربانـۍ لـه انځـور سـره ورتـه د دې مهربـان نبـي لـه خـوا يـو بـل ځلانـد انځـور هـم شـتون لـري، چې پـر هغـه يـې د بـدر اسـمان روښـانه کـړ، هغـه داسـې چې کله رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم د حـارث بـن عامـر بـن نوفـل لـه وژلـو خلـک منعـه کـړل، خـو يـو کس ورسـره مخ شـو او بې لـه دې چې ويـې پېژني، ويـې واژه؛ نـو رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم تـه چې خبـر ورسـېد ويـې ويـل: «کـه مخکې لـه دې مې مونـدلی وای چې تـه يې ووژنې؛ نـو د هغـه د مېرمنـو لپـاره بـه مې ژونـدی پـرې ايښـی وای»(١٦٤).

د مهربانـۍ او زړه سـوي لـه املـه هغـه د خپلـو دښـمنانو د ښـځو لـه حالـه هـم بې پـروا نـه و، لـه دغـو بنديانـو ځينې داسې وو، چې ډېر عمـر يې رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم تـه ازار رسـاوه، د هغـه پـر وړانـدې يـې د يـو جنګيالي پـه توګـه تـوره پورتـه کـړې وه، خـو سـره لـه دې رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم پـر هغـوی مهربانـه و، د هغـوی د اولادونـو او مېرمنـو فکـر ورسـره و، غوښـتل يې چې پـر ښـځو د مهربانـۍ لـه املـه خپـل دښـمن ژونـدی پرېـږدي، د هغـه پـه سپارښـتنو کې وينـو چې د مشـرکانو د اولادونـو او ښـځو لـه وژلـو څخـه منعـه کـوي.

بلکې د هغـه رحمـت دومـره پراخـه و، چې ان پـه ځالـو کې مرغانـو تـه شـامل و، دا ورتـه د منلـو نـه وه چې لـه لښـکره يـې څـوک پـر کـوم مرغـه تېـری وکـړي، رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم لـه خپلـو ملګـرو سـره پـه يـو سـفر کې و؛ نـو ملګـرو يـې پـه ځالـه کې لـه بچيانـو سـره يـو مرغـه وليـد، يـو صحابـي د هغـه مرغـه بچيـان ونيـول، هغـه مرغـه راغـی وزرې ټکـوي، رسـول اللـه صلـی اللـه عليـه وسـلم وويـل: ﴿ مَـنْ فَجَـعَ هَـذِهِ بِوَلَدِهَـا؟ رُدُّوا وَلَدَهَـا إِلَيْهَـا ﴾(١٦٥).

**ژباړه:** دا مرغـۍ چـا د هغې د بچيانـو لـه املـه ازار کـړې ده هغې تـه يـې بچيـان واپـس کـړئ.

١٦٣ وګوره: ابن کثير، البداية والنهاية، ٣/ ٣٠٦.
١٦٤ وګوره: الواقدي، المغازي ١/ ٨١.
١٦٥ أبوداود، سنن أبي داود، کتاب الجهاد، حديث شمېره ٢٦٧٥، ټوک ٣، مخ ٥٥.

دا څومره لوی رحم دی چې دې مرغۍ ته هم شامل دی، چې مهربان رسول په خپله وینا داسې بیان کړی: «دا مرغۍ چا ازار کړې ده»، دا څورونه د دې لوی لاربنود صلی الله علیه وسلم په نظر یو مصیبت دی، معنا دا چې دا یو مصیبت دی چې د مرغۍ بچي د هغې له ځالې واخیستل شي او مور یې پرې وځوریږي، دا هغه مهربانه لاربنود دی چې د یوې مرغۍ د بچیانو له املـه کړیږي، نو خپلو ملګرو ته امر کوي چې د مرغۍ بچي بېرته خپل ځای ته وروګرځوي، څومره لوی رحم دی، په څه ډول ستاینه یې ستایې چې کله دغه رحمت د هغو بورو مېرمنو له چیغو سره پرتله کوې، کومې چې خپل اولادونه د وژل کېدو او بندي کېدو په حالت کې ویني، یا یې حالات هیڅ معلوم نه وي، پرته له دې چې هغوی دې کوم مهربانه زړه ومومي چې پرې ورحمیږي او حالات یې درک کړي، په درد یې دردمن شي او کړاو یې احساس کړي.

بالاخره، دا هغه د انساني انځورونو بېلګې دي، چې د بدر غزا کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه څرګندې شوې دي، له خپل لښکر سره وي او که له دښمن سره. دا که څه هم د بدر په غزا کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښه چلن په اړه موږ ته یو انځور راکوي، خو دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټولو غزاګانو کې د انساني چلن یوه کوچنۍ بېلګه ده، او عملي تطبیق له تش نظام او قانون څخه قوي اغېز لري، ځکه قانون یوه وسیله ده او تطبیق یې موخه او هدف دی، ډېری وخت قوانین ښکلې منځپانګې لري، خو چې د ریښتیا میدان راشي او د قوانینو د پلي کېدو اړتیا پېښه شي، نو ډېری وختونه هغه تر پښو لاندې کېږي او هېرول کېږي.

دغه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له سیرت څخه یو عملي جزي انځور دی، چې موږ ته نه یوازې د جنګ په حالت کې، بلکې په ټولو حالاتو کې د اسلامي انساني چلن تصویر وړاندې کوي، ځکه څوک چې جګړه کې د خپل سخت جنګیالي دښمن درناوی کوي، هغه ډېر د دې وړ وي چې د سولې او مرستې په حالت کې د خپل دښمن لا ډېر احترام او درناوی وکړي . والله الموفق

# د پای خبرې

د دغه بحث په پای کې غواړم هغه مهم ټکي په لنډ ډول ولیکم، کومو ته چې د بحث په پایله کې رسېدلی یم چې په لاندې ډول دي: ـ

۱ـ د نړیوال بشرپال قانون اصطلاح، د هغو قواعدو په پرتله کوم چې په اسلامي شریعت کې ټاکلي شوې دي او له ۱۴۰۰ کالو راهیسې د جګړو پر مهال د انسان د حقوقو ساتنه او کفالت کوي یوه نوې را منځته شوې اصطلاح بلل کېږي.

۲ـ د اسلامي امت اړیکې له نورو ملتونو سره په اصل کې سوله ییزې دي، جنګ په اسلام کې یوه اړتیا ده، چې یوازې د تیري د مخنیوي لپاره، یا له حق څخه د دفاع او یا هم د دین د ازادۍ د تامین په موخه وي، کله چې جنګ په دغه ډول رامنځته شي؛ نو د وسیلې شرف باید خوندي وي او ارزښتونو او اخلاقو ته پاملرنه وشي.

۳ـ هغه مهم اصول چې په اسلام کې نړیوال عام قانون پرې ولاړ دی، هغه انساني یووالی، د خیر په کارونو کې مرسته، یو بل ته ښنه، د عقیدې ازادي، عدالت، او د اخلاقو په مراعتولو سره ورته چلن کول دي، چې دغه قاعدې د قرآن او سنتو پر نصوصو ولاړې دي او پر هغه معتبر عرف چې له شرعي نص سره په ټکر کې نه وي.

۴ـ په اسلامي نړیوال عام قانون کې اخلاق ځانګړی ځای لري، لکه څنګه چې د وګړو ترمنځ چلن کې د اخلاقو رعایت واجب دی، نو باید د هېوادونو ترمنځ په تعامل کې پر دغه اصل تر ټولو زیات ټینګار او د اخلاقو پابندي وشي.

۵ـ د ذاتي څارنې لپاره هم په اسلامي نړیوال عام قانون کې ځانګړې مرتبه ده او اسلام پر هېواد هم دغه ذاتي څارنه لازمه ګرځوي، دغه ذاتي څارنه د نړیوال عام قانون په پلي کېدو او له نورو هېوادونو سره په چلن کې ځانګړی اغېز لري.

۶ـ په اسلام کې نړیوال بشرپال قانون کېدای شي داسې تعریف شي، چې د هغو شرعي قواعدو ټولګه ده چې موخه یې د وسله والې شخړې پر مهال د انسان خوندیتوب او د هغه د حقوقو ساتنه ده.

۷ـ دې پایلې ته ورسېدم چې په اسلامي نړیوال بشرپال قانون کې دوه څرګند ټکي دي:

- لومړی دا چې جنګ باید یوازې د اړتیا تر بریده وي.
- دویم دا چې هر څه چې په جنګ کې کیږي هغه باید انساني وي او د ښکېلو اړخونو د انسانیت درناوی په کې وشي.

۸ـ په اسلام کې اخلاق له دې اړخه چې یو فعال اصل او په بېلا بېلو حالاتو کې د وګړو او ټولنو د چلن د سمون لپاره یو اغېزمن ځواک دی لوړ مقام لري، په ځانګړې توګه کله چې د وسلې غږ پورته کیږي او د قانون او نظام غږ خپ کیږي. کله چې هم د اخلاقو بازار ګرمیږي، حقوق خوندي کیږي، د یو انسان شان او مرتبه د بل انسان پر وړاندې پورته کیږي او د کرامت درجه یې لوړیږي، چې همدغه د اسلام د نړیوال بشرپال قانون په ډګر کې یو عام اصل دی.

۹ـ کوم خوندیتوب چې یو ټپي او جنګ ځپلی کس یې د جګړې پر مهال ترلاسه کوي او هغه انساني چلن چې باید شتون ولري، هغه دواړه مې په ښکاره ډول بیان کړل؛ نو په اسلامي نړیوال بشرپال قانون کې د ټپي وژل یا ځورول روا نه دي، ځنګه یې چې له درملنې او دوا پرته په درد کې پرېښودل روا نه دي.

۱۰ـ لکه څنګه چې مې د بندیانو حقوق بیان کړل چې په پیل کې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه سپارښتنه وه چې ویلي یې و: «له بندیانو سره ښېګڼه وکړئ» چې دغه یوه هر اړخیزه سپارښتنه وه، هرې قولي فعلي، مادي او معنوي ښېګڼې ته شامله وه.

۱۱ـ لکه څنګه مې چې بندي ته د بند پر مهال د خپل دین پر احکامو د عمل کولو حق ته اشاره وکړه او دا چې د خپل دین پرېښودو ته د هغه د اړ ویستلو هڅې ناروا دي.

۱۲ـ دا مې هم بیان کړه چې اسلام له بندي سره دوکه نه کوي، که څه هم دښمن له هغو مسلمانانو سره دوکه وکړي چې له هغوی سره بندیان دي.

۱۳ـ لکه څنګه مې چې اشاره وکړه، چې د یوې کورنۍ د خپلوانو بندیانو ترمنځ به بېلتون نه راوستل کیږي، نو د مور او زوی ترمنځ، د پلار او زوی ترمنځ، د ورونو ترمنځ او همداسې د نورو خپلوانو ترمنځ به بېلتون نه راوستل کیږي.

۱۴ـ د بندیانو د حقوقو په ډګر کې مې دا خبره بیان کړه چې اسلام له هغو سملاسي تصرفاتو څخه منعه کړې ده، چې کله ناکله د عسکرو له خوا د بندیانو

له نیولو وروسته ترسره کیږي، هغه چې ډېری وخت د عدالت خلاف، د ناسم تاثر په پایله کې، د بریا له نشې څخه د اغېزمنتیا او په جګړه کې د غوسې له کبله وي، چې په پایله کې یې ظلم او تېری کیږي، او دا خبره مې په ډاګه کړه، چې موخه دلته واکمن ته د بندیانو په اړه تصرف او اختیار پرېښودل دي، نه عسکر ته چې د غیر انساني کړنې لامل شي او بندي ته زیان ورسیږي.

۱۵ـ هغه اختیارات مې بیان کړل، چې یو واکمن ته د بندیانو په اړه ورکړل شوي، چې ښنه یا مالي فدیه اخیستل په کې دي، بیا مې وویل چې د بندي د وژلو په اړه د علماوو ترمنځ اختلاف دی او د دواړو اړخونو ویناوې مې بیان کړې، بیا مې څرګنده کړه چې کله نړیوال عرف د بندي پر نه وژلو رامنځته شي؛ نو بیا تر ټولو لومړی اسلامي هېواد دی چې باید د دغه عرف د پلي کېدو هرکلی وکړي، او هغه پر ځان لازم وګرځوي، ځکه په دې کې ګډې ګټې دي او بل دا چې د انسان درناوی په کې دی.

۱۶ـ بیا مې په جګړه کې د وژل شویو خلکو حقوق بیان کړل او د اسلام هغه حرص مې بیان کړ چې د ژوندي او مړه انسان د درناوي په اړه یې لري، او دا چې د جګړې په ډګر کې د وژل شوي انسان د درناوي له صورتونو څخه یو صورت دا دی، چې د جسد درناوی یې وشي، حرمت ته یې په درنه سترګه وکتل شي، او د درناوي یو ډول یې د هغه د بدشکله کولو او د جګړې له میدان څخه د سر وړلو ناروا والی دی.

۱۷ـ د انساني کرامت د خوندیتابه په لار کې وینو چې په اسلام کې نړیوال بشرپال قانون د وژل شوي تن د جسد د ښخولو امر کوي، هغه که هر دین ولري، او دې ته مو هڅوي تر څو د دښمن د وژل شویو کسانو جسدونه په میدان پرېنږدو، ځکه دغه ښخول د یو انسان په توګه د بل انسان درناوی او احترام کول دي.

۱۸ـ د ملکي وګړو د حقوقو په ډګر کې مې دا خبره بیان کړه چې په اسلام کې نړیوال بشرپال قانون د جنګیالیو او ولسي وګړو ترمنځ توپیر کوي، لکه څنګه چې د ملکي تاسیساتو او عسکري تاسیساتو ترمنځ توپیر کوي، همدارنګه پر ښځو، بوډاګانو، ماشومانو، راهبانو، کروندګرو او داسې نورو خلکو تېری منعه کوي، لکه څنګه چې د هغوی پر هستوګنځیو، عبادت ځایونو او همداسې پر فرهنګي مرکزونو لکه کتابتونونو، علمي مرکزونو او نورو تېری منعه کوي.

۱۹ــ هغه تطبیقات چې د بدر په غزا کې ترسره شول، په ښکاره ډول معلومه شوه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حرص او هڅه دا وه چې د هغه بلنه دې تشه وینا نه وي، بلکې وینو چې هغه له هر چا وړاندې هغه څه عملي کول چې ویل یې یا یې بلنه ورته کوله، دلته وینا او عمل دواړو د هغو اصولو روښانه کولو ته ملا تړلې ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته بلنه کوله.

۲۰ــ خپلو ملګرو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم دومره تواضع کول، ګواکې دی د هغوی په څېر یو عام وګړی دی، دا له ټولو خلکو سره د هغه د لوړ او ښه انساني چلن لپاره یو حقیقي پیل دی، او له خپل لښکر سره د مشر تواضع له خپل ځان سره انصاف او د بل درناوی دی، کله چې یو لارښود وتوانېږي، چې د لښکر په نفسونو کې دغو خویونو ته وده ورکړي، نو هغه خپل لښکر ته د برلاسي پر مهال د خپلو خواهشاتو د کابو کولو ضمانت ورکړ، چې بیا به نه ظلم کوي او نه به له بریده اوړي، او د نورو درناوي به ورسره په تر ټولو په ستره درجه کې وي.

۲۱ــ کله چې موږ د انسان په زړه کې د نورو انسانانو پر وړاندې په بېلا بېلو ظروفو او حالتونو کې د رحم په زیاتولو وتوانېدو؛ نو دغه د نړیوال بشرپال قانون لپاره یوه بې سارې بریا ده، چې کله یې قانون په خپله هم بېلګه نه شي ورکولای، دا خو لا پرېږده چې په اوسني ژوند کې عمل پرې وشي او دا هغه څه دي چې نړیوال بشرپال قانون ورته پاملرنه او ټینګار پرې کوي.

۲۲ــ په بدر کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم چلن له بندیانو سره، یو شمېر هغه په زړه پورې انساني دریځونه بیانوي چې له بندیانو سره د ښې معاملې د ترسره کېدو ښکارندوینه کوي، لکه هغوی ته تر هغه ښه خواړه ورکول چې صحابه وو په خپله خوړل، د هغوی په سپرلیو سپرول او په خپله پلي تلل، بندیانو ته د وړ جامو په ورکولو کې حرص کول، ځینې بندیان یوازې له دې امله ازادول چې رسول صلی الله علیه وسلم ته معلومه شوه، چې لورانې لري؛ نو پر لوڼو یې زړه سوی کول، بلکې له ځینو بندیانو سره د مېلمنو غوندې چلن کول، د هغوی سرونه غوړول، وېښتان سمول او له صحابه وو سره په خپلو کورونو کې د یو ځای اوسېدو اجازه ورکول.

۲۳ــ د عامې پایلې په ډول ویلی شو: چې د رحمت انځور په عملي توګه د بدر په غزا کې له هغه جنګیالي دښمن سره چې بندي شوی، کمزوری او تر ولکې لاندې

راغلی و، په هر ډول چلن کولو کې ښکاره، څرګند او پیاوړی و، ته کولای شې چې له دې وروسته د ښې معاملې او بشپړې پاملرنې په اړه ښه تصور وکړای شې.

۲۴ـ دغه چلن چې موږ د بدر په غزا کې ولید، یوازې یوه داسې بېلګه ده، چې څېړونکي ته ښيي، چې انساني چلن د رسول الله صلی الله علیه وسلم په غزاګانو کې ځانګړی مقام درلود او په طریقه اولی دا چې انسان د یو انسان په توګه په دې دین کې څومره محترم دی، نو څوک چې د داسې یوه انسان درناوی کوي، چې هغه یې جنګي دښمن دی او د ده پر ضد یې وسله رااخیستې، نو هغه به یې د سولې او همکارۍ پر مهال هرو مرو احترام کوي.

۲۵ـ دا مې بیان کړه چې په جګړه کې د بشر د حقوقو تنظیموونکي اصول، سپېڅلې رباني لاربښوونې دي او څوک چې ترې سرغړونه کوي، له دوو سزاو سره به مخ کېږي، یوه دنیوي سزا، دا هغه سزا ده چې له جوړو شویو قواعدو څخه د سرغړوونکي عسکر پر خلاف په عادي ډول تاکل شوې وي، بله سزا د الله له خوا په اخرت کې ده، بلکې په دنیا کې هم وي لکه الله جل جلاله چې د دنیوي سزا په اړه ویلي دي: {وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ}

**ژباړه:** کوم مصیبت چې تاسو ته رسېدلی هغه ستاسو د خپلو لاسونو له امله دی.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: «الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمْ الرَّحْمَنُ»، یعنې پر رحم کوونکو به رحمن رحمیږي. همدارنګه که څوک رحم نه لري پر هغوی به الله جل جلاله هم رحم نه کوي.

۲۶ـ د نړیوال بشرپال قانون قاعدې په اسلامي شریعت کې له لوی ملاتړ او د پلي کېدو له پیاوړو ضمانتونو څخه برخمنې دي، ځکه هغه الهي شریعت دی، د الله جل جلاله له خوا رامنځته شوی او څوک یې چې تر پښو لاندې کوي دوې سزاوې ورکول کیږي لکه څنګه چې مخکې دا خبره تېره شوه، چې یوه سزا په دنیا کې د واکمن په لاس ورکول کیږي، دویمه سزا په اخرت کې، چې دغه دواړه سزاوې یو مسلمان جنګیالی ډېر د دغو اصولو منلو ته اړ باسي، ځکه که چېرې هغه په دنیا کې د ساتونکي او څارونکي د بې پروایۍ او کمزورۍ له امله تېښته وکړي؛ نو د اخرت له سزا څخه هیڅکله تېښته نه شي کولی.

وصلی الله وسلم علی نبینا محمد.

# اخځلیکونه

١ـ ابـن الأثيـر، النهايـة في غريـب الحديث والأثـر، تحقيـق طاهـر أحمـد الـزاوي او ملګـرى يـې (مكـة: دارالباز، د.ت).

٢ـ ابـن القيـم، زاد المعـاد في هـدي خيـر العبـاد، تحقيـق شـعيب الأرنـاؤوط او ملګـري يـې، دويـم چـاپ، بيـروت، مؤسسـة الرسـالة ١۴٠۵.

٣ـ ابن حجر، الإصابة في معرفة الصحابة (بيروت: دار الكتب العملية د. ت).

٤ـ ابن سعد، الطبقات الكبرى د. ط (بيروت: دار صادر د.ت).

۵ـ ابـن عطيـة، المحـرر الوجيـز في تفسـيرالكتاب العزيـز، تحقيـق عبـد العـال السـيد إبراهيـم، لومـړى چـاپ (رئاسـة المحاكـم الشـرعية والشـؤون الدينيـة في قطـر ١۴١٢).

۶ـ ابن قدامة، الكافي، تحقيق زهير الشاويش، پنځم چاپ (بيروت: المكتب الإسلامي ١٤٠٨).

٧ـ ابن قدامة، المغني (الرياض: مكتبة الرياض الحديثة د. ت).

٨ـ ابـن كثيـر، البدايـة والنهايـة، تحقيـق عبدالله بـن عبدالمحسـن التركي، لومـړى چـاپ (القاهـرة: دارهجـر١۴١٧).

٩ـ ابن كثير، تفسير ابن كثير د. ت (بيروت: دار الفكر١۴٠١).

١٠ـ ابـن هشـام، السـيرة النبويـة تحقيـق عـادل أحمـد عبـد الموجـود او ملګـرى يـې، لومـړى چـاپ (الريـاض: مكتبـة العبيـكان ١۴١٨).

١١ـ أبـو حيـان الأندلسـي، تفسـيرالبحر المحيـط، دويـم چـاپ (بيـروت: دار الفكـر للطباعـة والنشـر والتوزيـع ١۴٠٣).

١٢ـ أبو داود، سنن أبي داود، تحقيق محمد محي الدين عبدالحميد (بيروت: دارالفكر د. ت).

١٣ـ أبـو عبيـد القاسـم بـن سـلام، الأمـوال، تحقيـق محمـد خليـل هـراس (القاهـرة: مكتبـة الكليـات الأزهريـة ١٣٩٦).

١٤ـ أبو يوسف، يعقوب بن إبراهيم، الخراج، شپږم چاپ (القاهرة: المطبعة السلفية ١٣٩٣).

١۵ـ إحسـان الهنـدي، أحـكام الحـرب والسـلام فـي دولـة الإسـلام، لومـړى چـاپ (دمشـق: د، ن ١٩٩٣م ).

١۶ـ إحسـان الهنـدي الإسـلام والقانـون الدولـي، لومـړى چـاپ (دمشـق: دار طـلاس للدراسـات والترجمـة والنشـر١٩٨٩م ).

۱۷ـ أحمد بن الحسين البيهقي، السنن الكبرى، تحقيق محمد عبدالقادر عطا (مكة: دار البـاز١٤١٤).

۱۸ـ أحمد بن حنبل، مسند الإمام أحمد، تحقيق الدكتور عبدالله التركي او ملگرى يې، لومړى چاپ (بيروت: مؤسسة الرسالة ۱۴۱۷).

۱۹ـ أحمد بن حنبل، مسند الإمام أحمد (مصر: مؤسسة قرطبة).

۲۰ـ إسماعيل أبوشريعة، نظرية الحرب في الإسلام، لومړى چاپ (الكويت: مكتبة الفلاح ۱۴۰۱).

۲۱ـ البخاري، صحيح البخاري د ابن حجر له فتح الباري سره يو ځاى چاپ شوى (الرياض: توزيع الرئاسة العامة للإفتاء والبحوث العلمية بالرياض).

۲۲ـ البيضاوي، تفسيرالبيضاوي د محي الدين زاده له حاشيې سره يوځاى چاپ شوى، د.ط (بيروت: دار صادر د. ت).

۲۳ـ البيهقي، السنن الكبرى (بيروت: دار الفكر د. ت).

۲۴ـ الترمذي، سنن الترمذي، تحقيق أحمد محمد شاكر او نور (بيروت: دار إحياء التراث العربي، د.ت).

۲۵ـ الحاكم، المستدرك على الصحيحين (بيروت: دار المعرفة د. ت).

۲٦ـ الدارقطني، سنن الدارقطني، پر سنن الدارقطني د المغني له تعليق سره يو ځاى چاپ شوى (پاكستان: أحاديث أكاديمي د.ت).

۲۷ـ الزركشي (بدر الدين محمد بن بهادر الشافعي)، المنثور في القواعد، تحقيق تيسير فائق أحمد محمود، له لومړي چاپ څخه كاپي شوې نسخه (الكويت: وزارة الأوقاف والشؤون الإسلامية ١٤٠٢).

۲۸ـ الزمخشري، الكشاف عن حقائق التنزيل وعيون الأقاويل في وجوه التأويل، تحقيق محمد الصادق قمحاوي، د. ط (مصر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي، ١٣٩٢).

۲۹ـ السرخسي، المبسوط، د. ط (بيروت: دار المعرفة ١٤٠٦).

۳۰ـ السعدي، المختارات الجلية من المسائل الفقية، دويم چاپ (الرياض: الرئاسة العامة للبحوث العلمية والإفتاء ١٤٠٥).

۳۱ـ السعدي، تفسيرالسعدي (جدة: دار المدني للنشر، ١٤٠٨).

۳۲ـ الشاطبي، الموافقات في أصول الشريعة، تعليق عبدالله دراز، دويم چاپ (مصر: المكتبة

التجاريـة ١٣٩٥).

٣٣ـ الشـوكاني، فتـح القديـر الجامـع بيـن فنـي الروايـة والدرايـة مـن علم التفسـير، تحقيـق عبدالرحمن عميـرة، دويـم چاپ (المنصـورة: دار الوفاء للطباعة والنشـر١٤١٨).

٣٤ـ الصنعانـي، سـبل السـلام شـرح بلـوغ المـرام (الريـاض: جامعـة الإمـام محمـد بـن سـعود الإسـلامية ١٣٩٧).

٣٥ـ الطبري، تفسير الطبري (بيروت: دار الفكر ١٤٠٥).

٣٦ـ الطبري، تفسيرالطبري، تحقيق عبدالله التركي، لومړی چاپ (القاهرة: دار هجر١٤٢٢).

٣٧ـ الغزالي، فقه السيرة، لومړی چاپ (مصر: المكتبة التجارية ١٣٥٦هـ).

٣٨ـ القرطبي، تفسيرالقرطبي، دويم چاپ (القاهرة: دار الشعب ١٣٧٢).

٣٩ـ المـاوردي، الأحـكام السـلطانية عبداللـه بـن عـدي الجرجانـي، الكامـل فـي ضعفـاء الرجـال، تحقيـق يحـي مختـار غـزاوي، دریيـم چـاپ (بيـروت: دار الفكـر ١٤٠٩).

٤٠ـ المراغي، تفسير المراغي، دويم چاپ (بيروت: دار إحياء التراث العربي ١٩٨٥).

٤١ـ الواقـدي، كتـاب المغـازي، تحقيـق مارسـدن جونـس، دریيـم چـاپ (بيـروت: عالـم الكتـب ١٤٠٤).

٤٢ـ حسـن أبـو غدة، قضايـا فقهيـة فـي العلاقـات الدوليـة، لومـړی چـاپ (الرياض: مكتبـة العبيـكان ١٤٢٠).

٤٣ـ سـعيد إسـماعيل صيني، حقيقـة العلاقـة بين المسـلمين وغير المسـلمين، لومړی چاپ(بيروت: مؤسسـة الرسالة ١٤٢٠).

٤٤ـ سـليمان الطبرانـي، المعجـم الصغيـر، تحقيـق محمـد شـكور محمـود الحـاج أمريـر، لومـړی چـاپ (بيـروت: المكتـب الإسـلامي ١٤٠٥).

٤٥ـ سـليمان الطبرانـي، المعجـم الكبيـر، تحقيـق حمـدي بـن عبـد المجيـد السـلفي، دويـم چـاپ (الموصـل: مكتبـة العلـوم والحكـم ١٤٠٤).

٤٦ـ شـريف عتلـم، (محـرر) محاضـرات فـي القانـون الدولـي الإنسـاني (محاضـرة بعنـوان مبـادئ القانـون الدولـي الإنسـاني للدكتـور جـان بكتيـه)، دریيـم چـاپ القاهـرة: دار المسـتقبل العربـي ٢٠٠٣).

٤٧ـ صالح الشثري، حقوق الأسرى في الإسلام (بحث منشور في موقع الإسلام اليوم بالإنترنت).

٤٨ـ عبدالحي حجازي، المدخـل لدراسـة العلـوم القانونيـة (القانـون) د. ط (الكويـت: جامعـة الكويـت ١٩٧٢م).

٤٩ــ عبدالـرزاق، المصنـف، تحقيـق حبيـب الأعظمـي، دويـم چـاپ (بيـروت: المكتـب الإسـلامي ١٤٠٣).

٥٠ــ عبدالغنـي عبدالحميـد محمـود، حمايـة ضحايـا النزاعـات المسـلحة في القانـون الدولي الإنسـاني والشـريعة الإسـلامية، لومړی چـاپ (القاهـرة: اللجنـة الدوليـة لصليـب الأحمـر ٢٠٠٠).

٥١ــ عبدالكريـم زيـدان، نظـرات فـي الشـريعة الإسـلامية، لومړی چـاپ (بيـروت: مؤسسـة الرسـالة ١۴٢١هـ ).

٥٢ــ عبدالله التركي، توجيهـات السـنة النبويـة في مجـال التشـريع الحربـي، بحـث منشـور في مجلـة الأصالـة، الملتقـى السـادس عشـر للفكـر الإسـلامي، تلمسـان – الجزائـر٦ــ ١٣/ ١٠/ ١٤٠٢.

٥٣ــ علي الهيثمي، مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (بيروت: دار الكتاب العربي ١٤٠٧).

٥٤ــ عمر الأشقر، تاريخ الفقه الإسلامي دریيم چاپ (الكويت: مكتبة الفلاح ١۴١٣).

٥٥ــ مالک بن أنس (الإمام)، الموطا، اووم چاپ (بيروت: دار النفائس ١۴٠۴).

٥٦ــ مالـک بـن أنـس (الإمـام)، المدونـة تحقيـق السـيد علـي بـن السـيد عبدالرحمـن الهاشـم (د عربـي اماراتـو د دولـت د رئيـس شـيخ زايـد پـر لګښـت چـاپ شـوی ١۴٢٢).

٥٧ــ محمـد أبوزهـرة، نظريـة الحـرب في الإسـلام (مصـر: المجلـس الأعلى للشـؤون الإسـلامية بـوزارة الأوقاف ١٣٨٠).

٥٨ــ محمـد الطاهـر بـن عاشـور، مقاصـد الشـريعة الإسـلامية، تحقيـق محمـد الطاهـر الميسـاوي، دریيـم چـاپ (الأردن: دار النفائـس للنشـر والتوزيـع ١٤٢١).

٥٩ــ محمـد بـن الحسـن الشـيباني، السـير الكبيـر وشـرحه للسرخسـي، تحقيـق محمـد حسـن محمـد الشـافعي، لومړی چـاپ (بيـروت: دارالكتـب العلميـة ١۴١٧).

٦٠ــ محمـد بـن حبـان، صحيـح ابـن حبـان، تحقيـق شـعيب الأرنـاؤوط دويـم چـاپ (بيروت: مؤسسـة الرسالة ١۴١۴).

٦١ــ محمـد بـن يوسـف الصالحي، سـبل الهـدى والرشـاد في سـيرة خيرالعبـاد، تحقيـق فهيـم محمـد شـلتوت او ملګـری يې (القاهـرة: المجلـس الأعلى للشـؤون الإسـلامية ١٤١٣).

٦٢ــ محمـد عبدالرحمـن بـن عبدالرحيـم المباركفـوري، تحفـة الأحـوذي بشـرح جامـع الترمـذي (بيـروت: دارالكتـب العلميـة).

٦٣ــ مسـلم بـن الحجـاج، صحيـح مسـلم تحقيـق محمـد فـؤاد عبدالباقي (القاهـرة: دارإحيـاء الكتـب العربيـة).

٦٤ـ مصطفى السباعي، نظام السلم والحرب في الإسلام، دويم چاپ (الرياض: مكتبة الوراق ۱۴۱۹).

۶۵ـ وزارة الأوقاف والشؤون الإسلامية الكويتية، الموسوعة الفقية الكويتية، دريم چاپ (بيروت: دار إحياء التراث العربي ١٤١٩).

٦٦ـ وهبة الزحيلي، آثار الحرب في الفقه الإسلامي دريم چاپ (دمشق: دار الفكر ۱۴۱۹).

**د آی سي آر سي مرکزي نماینده‌ګی – کابل**
۱۳ سړک، دویم کوڅه، وزیر اکبر خان
کابل
شماره های تماس: ۰۷۹۹ ۵۵۰ ۰۵۵
ایمیل: Kabul@icrc.org
www.icrc.org
© ICRC, Mar 2021

ICRC